د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب اود ښوونکو د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

جغرافیــه

یوولسم ټولګی

هــ . ش ۱۳۹۶

جغرافیه - یوولسم ټولګی

درسی کتابونه دپوهنې په وزارت پورې اړه لري اخیستنه او خرڅونه یې په کلکه منع ده. له سر غړوونکو سره قانوني چلند کیږي.

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د توري
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف
لوی ریاست

جغرافیه

یوولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ . ش.

ليکوالان:

- پوهنمل دکتور اندوس رحمت خوٰاکمن
- رحمن عنايت د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف دلوی رياست علمي غړی

علمي او مسلکي ایډیټ:

- پوهاند غلام جيلاني عارض
- عزت الله سالمي وردگ

د ژبې ایډیټ:

اقا محمدگرندی د پښتو څانگې علمي او مسلکي غړی.

ديني، سياسي او کلتوري کميټه:

-عبدالسلام تائب د اسلامياتو د ډيپارتمنت علمي غړی.
- حبيب الله راحل د تعليمي نصاب د پراختيا په رياست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

د څارنې کميټه:

- دکتور اسد الله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو د روزنې معين.
- دکتور شير علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې رئيس.
- دکتور محمد يوسف نيازی د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی ريای‌ت سرپرست

طرح او ډيزان

حميدالله غفاري او حميد کريمي سنجد دره‌يي

د چاپ د سمون چارې: محمدکبير حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئيس

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزير پيغام

د لوی خدای ﷻ ډېر شکر دی چې انسان يې په احسن تقويم کې پيدا او هغه ته يې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر گاڼه يې سمبال کړ. ډېر درود دې وي د اسلام پرگران پيغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انسانيت ستر ښوونکی دی او د رحمت، لارښوونې او روښنايي پيغام راوړونکی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختيا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهير کې يو مهم رکن بلل کيږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختگونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتياوو سره سم تاليف کيږي. درسي کتابونه بايد د منځپانگې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل ديني او اخلاقي زده کړې د نوو ميتودونو له لارې زده کوونکو ته وليږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانگړنو پر بنسټ چمتو او تاليف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زيار باسي چې په هيواد کې تعليمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هويت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معيارونو، نوو روزنيزو ميتودونو او د نړۍ له علمي پرمختگونو سره سم چمتو کړي.

د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړيږي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پياوړی کړي. د خبرو اترو او پيرزوينې د فرهنگ دودول، د هيواد پالنې او د مينې او محبت د حس پياوړی کول، ښښنه او پيوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښايي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوې موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې يو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروگرامونو پلي کوونکی دی. د هيواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهۍ په وړاندې يې جگړه خپله دنده گرځولې، دوستانه هيله لرم د تعليمي نصاب په دقيق او مخلصانه تطبيق کې د هيواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنويت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هيواد د زده کړې د نظام برۍ د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شريفو خلکو، په تيره بيا له کورنيو او د زده کوونکو له درنو اولياوو څخه هيله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هيڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو ليکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرينو او د زده کوونکو له محترمو اولياوو څخه هيله کيږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړانديزونو او نيوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړيوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ويش کې يې زيار ايستلی او مرسته يې کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پايه مهرباني له موږ سره د پوهنې د سپيڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سميع قريب مجيب.

د پوهنې وزير

دوکتور اسدالله حنيف بلخي

لړلیک

سرلیک	ګڼه
د افغانستان برخه	۱
لومړۍ څپرکی	
کرنه او مالداري	
د څپرکي عمومي هدفونه	۲
لومړی لوست	
۱،۱ کرنه او د هغې اقتصادي ارزښت	۳-۴
دويم لوست	
۲,۱ د کرنې لارې چارې	۵-۶
الف. پخوانۍ طريقه	
ب. د کرنې پر مختللې او عصري طريقه	
دريم لوست	
۳,۱ مهم کرنيز توليدات	۷-۱۰
څلورم لوست	
د کرنې جغرافيايي ويش	۱۲-۱۱
پنځم لوست	
٤,۱ مالداري اودهغې اقتصادي ارزښت	۱۳-۱٦
شپږم لوست	
٥,۱ د مالدارۍ لارې چارې	۱۷-۱۸
الف. لرغونې او دوديزه طريقه(لارې، چارې)	
ب. عصري او پرمختللې طريقه	
اووم لوست	
٦,۱ وحشي ژوي	۱۹-۲۰
اتم لوست	
دويم څپرکی ۷,۱ د کرنې او مالدارۍ د حالت کتنه	۲۱-۲٤
انرژي او کانونه	۲٥
د څپرکي عمومي هدفونه	۲٦
نهم لوست	
۱,۲ انرژي او د هغې اهميت	۲۷-۲۸
لسم لوست	
۲,۲ د انرژۍ د نوي کيدواونه نوي کيدو وړسرچينې	۲۹-۳۰
يوولسم لوست	
۳,۲ بريښنا	۳۱-۳۲
دولسم لوست	
الف. د اوبو بريښنا	۳۳-۳۸
ديارلسم لوست	
ب. حرارتي بريښنا	۳۹-٤۲
څوارلسم لوست	
٤,۲ د ډبروسکاره او زموږ په هيواد کې د هغوکانونه	٤۳-٤٦
پنځلسم لوست	
٥,۲ نفت او ګاز	٤۷-٥۰
الف. نفت	
ب. ګاز	
شپاړسم لوست	
الف. د هيواد نفت لرونکې حوزې	٥۱-٥۲
اوولسم لوست	
٦,۲ فلزات	٥۳-٥٦
اتلسم لوست	
د فلزاتو د کانونو اقتصادي اهميت	٥۷-٥۸
نولسم لوست	
۷,۲ دودانۍ د ډبرو کانونه	٥۹-٦۰
شلم لوست ۸,۲ ګرانبيه ډبرې	٦۱-٦٤
يوويشتم لوست	
۸,۲ د کانونو او انرژۍ د حالت څېړنه	٦٥-٦۸
دريم څپرکی	
صنايع او سوداګري	٦۹
د څپرکي عمومي موخې	۷۰
دوه ويشتم لوست	
په افغانستان کې صنايع او د هغو اهميت	۷۱-۷۲
دروېشتم لوست	
الف. لاسي صنايع	۷۳-۷٦
ب. ماشيني صنايع	
ج. د ماشيني توليداتو احصاييه	
څلرويشتم لوست	
۲,۳ توريزم او د هغه اقتصادي اهميت	۷۷-۷۸
پنځه ويشتم لوست	
الف. د هيواد ګرځندويي سيمې	۷۹-۸۲
ب. د ګرځندوی احصاييه	
شپږويشتم لوست	
۳,۳ سوداګري او اهميت يې	۸۳-۸٤
اووه ويشتم لوست	

سرلیک	گڼه
الف. کورنۍ سوداګري	۸۸-۸۵
ب. بهرنۍ سوداګري	
اته ویشتم لوست	
ج. د هیواد د وارداتو او صادراتو انډول(میزان)	۹۲-۸۹
نهه ویشتم لوست	
۴,۳ بانک	۹۶-۹۳
دیرشم لوست	
بانک د چارو د پرمختګ څرنګوالی	۱۰۰-۹۷
یود یرشم لوست	
۳,۵ د صنایعو او سوداګرۍ د حالت څیړل	۱۰۴-۱۰۱
د نړۍ برخه	
څلورم څپرکی	۱۰۵
او به او کرنه	
د څپرکي عمومي موخې	۱۰۶
دوه دیرشم لوست	
۱,۴ په نړۍ کې او به او په هغو پانګه اچونه	۱۰۸-۱۰۷
درې دیرشم لوست	
الف. د اوبو لګولو لویې پروژې	۱۱۲-۱۰۹
ب. د اوبو چاڼول(تصفیه)	
څلوردیرشم لوست	
۲,۴ کرنه او د هغې نوې لارې، چارې	۱۱۶-۱۱۳
پنځه دیرشم لوست	
د نړۍ په پر مختللو هیوادو کې د کرنیزو تولیداتو د بیلابیلو ډولونو	
کچه	۱۲۰-۱۱۷
پنځم څپرکی	
انرژي	۱۲۱
د څپرکي عمومي موخې	۱۲۲
شپږ دیرشم لوست	
۱,۵ انرژي او په نړۍ کې د هغې اهمیت	۱۲۴-۱۲۳
اووه دیرشم لوست	
۲,۵ د انرژۍ ډولونه	۱۳۰-۱۲۵
اته دیرشم لوست	
په نړۍ کې نفت	۱۳۴-۱۳۱
نهه دیرشم لوست	
ج. طبیعي ګاز	۱۳۸-۱۳۵
څلویښتم لوست	
د. په نړۍ کې د ډبرو سکاره	۱۴۲-۱۳۹

سرلیک	گڼه
یو څلویښتم لوست	
۳,۵ د انرژي د منابعو جغرافیایي ویش	۱۴۶-۱۴۳
شپږم څپرکی: کانونه او صنایع	۱۴۶
د څپرکي عمومي موخې:	۱۴۶
دوه څلویښتم لوست	
۱,۶ په نړۍ کې کانونه او د هغو اهمیت	۱۵۰-۱۴۷
درې څلویښتم لوست	
۲,۶ د کانونو دایستلو لارې- چارې	۱۵۲-۱۵۱
څلورڅلویښتم لوست	
په نړۍ کې صنایع، د هغو ارزښت او ډولونه	۱۵۶-۱۵۳
پنځه څلویښتم لوست	
۳.۶ د صنایعو په پرمختګ کې اغیزمن لاملونه (عوامل)	۱۶۰-۱۵۷
اووم څپرکی	
سوداګري او ګرځندویي	۱۶۱
د څپرکي عمومي موخې	۱۶۲
شپږڅلویښتم لوست	
۱,۷ نړیواله سوداګري او د هغې اهمیت	۱۶۴-۱۶۳
اوه څلویښتم لوست: ۲,۷ نړیواله سوداګري	
الف.د سوداګریزو راکړو ورکړو حجم	۱۶۸-۱۶۵
اته څلویښتم لوست	
ب. د سوداګریزې سیمې او د هغو مفهوم	۱۷۰-۱۶۹
نهه څلویښتم لوست	
د. د نړیوالې سوداګرۍ سازمان	۱۷۲-۱۷۱
پنځوسم لوست	
ګرځندویي(توریزم) او نړیوال اهمیت یې	۱۷۴-۱۷۳
یوپنځوسم لوست	
الف. د نړۍ مهمې ګرځندوی(توریستي) سیمې او هیوادونه	۱۷۸-۱۷۵
دوه پنځوسم لوست	
ب. د توریزم د راښکون(جذب) سرچینې	۱۸۰-۱۷۹
درې پنځوسم لوست	
۴,۷ نړیوال حمل او نقل او د هغه اهمیت	۱۸۴-۱۸۱
څلورپنځوسم لوست	
الف. د حمل او نقل ډولونه	
ب.سیالي(رقابتونه)	۱۸۷-۱۸۵

په دې څپرکي کې يې لولو:

کرنه او مالداري

- کرنه او د هغې اقتصادي ارزښت
- د کرنې لارې چارې

_ پخوانۍ طريقې
_ د کرنې پرمختللې او عصري طريقه
_ مهم کرنيز توليدات
_ د کرنې جغرافيايي وېش

- د مالدارۍ او د هغې اقتصادي ارزښت
- د مالدارۍ لارې چارې

_ لرغونې او دوديزې طريقې (لارې ـ چارې)
_ عصري او پرمختللې طريقې

- وحشي ژوي
- د کرنې او مالدارۍ د حالت کتنه

د څپرکي عمومي موخې:

زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره لاندنيو پوهنيزو موخوته ورسيږي:

- د کرنې په اقتصادي ارزښت به وپوهيږي.
- د کرنې بيلابيلې لارې ـ چارې به وپيژني.
- د کرنې د نوو لارو – چارو په اغيزمنتوب به پوه شي.
- د هيواد د کرنيزو توليداتو له اندازې څخه به خبر شي.
- د هيواد د کرنې په جغرافيايي ويش به وپوهيږي.
- د مالدارۍ پر اقتصادي اهميت به وپوهيږي.
- د هيواد له کورنيو څارويو او د هغو له ويش څخه به خبر او نورو ته به معلومات ورکړې شي.

زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره لاندنيو مهارتي هدفونوته ورسيږي:

- د هېواد د کرنې اقتصادي اهميت به بيان کړې شي.
- د کرنې بيلابيلې لارې ـ چارې به تشريح کړې شي.
- د کرنې د نويو لارو ـ چارو د اغيزمنتوب دلايل به وويلای شي.
- د مالدارۍ اقتصادي اهميت به بيان کړې شي.
- د هيواد د کورنيو څارويو ډولونه به بيان کړې شي.
- د نقشې پرمخ د کرنيزو بيلابيلو ونو-بوټو (نباتاتو) د کرنې ساحې به وښيي.
- د نقشې پرمخ د هيواد د کورنيو څارويو د ساتنې ساحې به تثبيت کړې شي.
- د هيواد د مالدارۍ ستونزې به نورو ته ووېلی شي.

۱، ۱ کرنه او د هغې اقتصادي ارزښت

۱- شکل

په افغانستان کې د ځمکې د کولبې (یوې) او کرنې عنعنوي لارې چارې

د کرنې د حیاتي او اقتصادي ارزښت په هکله څومره پوهیږئ؟

کرنه: زموږ د هیواد د ملي اقتصاد یوه مهمه او بنسټي برخه ده او د هغې ځینې حاصلات لکه میوې، زعفران او نور د صادراتو او عایداتو لویه سرچینه جوړوي.

له تاریخي پلوه د کرنې خوراکي توکي له ډیر پخوا څخه د انسانانو د استفادې وړ گرځیدلي دي. کرنه او مالداري زموږ د زیاتره خلکو کار او دنده ده. کرنیز حاصلات نه یوازې دا چې د وگړو د لومړنیو اړتیاوو په پوره کولو کې ارزښت لري، بلکې د سپکو صنایعو او خوراکي توکو په پرمختیا او د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې ورڅخه استفاده کیږي. د ځینو کرنیزو حاصلاتو له خرڅلاو څخه د یوشمیر اړتیاوو د پوره کولو په خاطر د پیسو عواید ترلاسه کیږي.

کرنه د حبوباتو، سبزیجاتو او لومړنیو نباتي موادو د تخمونو د کرلو او شیندلو لپاره دځمکې له تیارولو څخه عبارت دی چې له اقلیم، مساعدو اوبو او خاورې سره په توافق د دودیزې او یا معاصرې تکنالوژۍ د وسایلو په واسطه په آبي او للمي ډول سرته رسیږي او د کال په بیلا بیلو فصلونو کې له ځمکې څخه مطلوب حاصلات اخلي. زموږ په کرنیز هیواد افغانستان کې بیلابیلې

غلې دانې، ډول ډول میوې، صنعتي او غوړلرونکي بوټي، بیلابیل سابه، وابنه (شوتله او ریشقه)، یو شمیر طبي بوټي لکه زعفران او نور کرل کیږي.

هغه لاملونه چې د کرنیزو تولیداتو په خرنګوالي باندې اغیزه لري، فزیکي، ټولنیز، اقتصادي او سیاسي لاملونه دي. د خاورې خرنګوالی، د ځمکې جوړښت او بڼه، اقلیم او د اوبو سرچینې فزیکي لاملونه بلل کیږي چې د کرنیزو حاصلاتو په خرنګوالي او څومره والي سیده اغیزه لري.

د ژمي د واورې اورښت او پسرلني بارانونه د لوړو سیمو او د غرونو د لمنو د خاورو لرونکو طبقو په لنده بل کې ګټور او د ونو ـ بوټو په وده او د هغو د ریښو په پیاوړتیا په تیره د للمي غنمو په تولید کې اغیزه لري.

د افغانستان د کرنې یوه برخه دودیزه او یوه برخه یې پرمختللې بڼه لري. په عمومي توګه د افغانستان د ټولې کرنیزې ځمکې ۷.۹ میلیون هکتاره ځمکه تر کرنې لاندې ده، چې له هغې جملې څخه ۵.۳ میلیونه هکتاره یې د خړوبولو وړتیا لري، خو د اوبو د کمښت له کبله هر کال د هغو یوازې ۲.٦ میلیون هکتاره خړوبیږي.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې دوه ډلې شي، لومړی ډله دې د کرنیزو بوټو او د هغو د حیاتي ګټو په هکله او دویمه ډله دې زموږ په هیواد کې د کرنې د اقتصادي ارزښت په هکله بحث وکړي او د هرې ډلې استازی به د خپل کار پایله په ټولګي کې ووایي.

پوښتنې

۱ـ کرنه څه ډول فعالیت دی تعریف یې کړئ.

۲ـ کرنه څه اقتصادي اهمیت لري؟ توضیح یې کړئ.

۳ـ غنم څو ډوله کرل کیږي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې له کتابتون یا کومې بلې علمي سرچینې څخه په استفادې د خپل هیواد د کرنې د اقتصادي ارزښت په اړه یوه پاڼه معلومات راټول او خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

دو یم لوست

۲،۱ د کرنې لارې چارې

په افغانستان کې د ځمکو اوبه کولو لارې- چارې چې زیاتره په نافني او نا منظمه توګه ترسره کېږي

په افغانستان کې د کرنې لارې چارې په څه ډول دي؟

زموږ په هیواد کې له ډېر پخوا راهیسې کرنه په دودیز ډول، په ځارویو باندې یوې کول او درانه کارونه د بزګر په مټ پر مخ وړل کیږي، خو د هغې لږ حاصل زموږ د هیواد د ورځ په ورځ زیاتیدونکي نفوس لګښت نه پوره کوي، نو ځکه هر کال یوه زیاته اندازه غله له بهر څخه واردیږي. د افغانستان کرنه په عمومي توګه په پخوانیو او نوو طریقو او لارو چارو ترسره کیږي چې په لنډ ډول یې توضیح کوو:

الف ـ پخوانی طریقه:

د افغانستان دغه ډول کرنه زیاتره دودیزه کرنه ده چې موخه یې یوازې د بزګرانو د اړتیا پوره کول دي.

څرنګه چې په دودیزه کرنه کې د بزګر د کورنۍ د لومړنیو خوراکي توکو چمتو کول د لومړنیو اړتیاوو څخه ګڼل کیږي، نو ددې موخې لپاره په سلوکې له ۶۰ څخه تر ۸۰ پورې ځمکې او کار د غلې ـ دانې د حاصل لپاره ځانګړې شوې دي په دودیزه کرنه کې ځمکه د کار ځواک، کرنیز وسایل او تخم په لومړنۍ بڼه وي چې ټول د بزګرانو له خوا چمتو کیږي. بزګران خپل ډیره لږه اندازه تولید شوی حاصل بازار ته وړاندې کوي چې د هغو په پیسو خپلې اړتیاوې پوره کوي. عنعنوي بزګران په عمومي توګه د خپلو تولیداتو په سلوکې تر ۵۰ پورې په بازار کې پلوري.

د دولتي احصائیو له مخې د غذایي توکو په توګه د هر افغان وګړي د غنمو لګښت په یوه کال کې ۱۶۲ کیلو ګراموته رسیږي. له دې امله زموږ د هیواد د غلې حاصلات د خلکو اړتیا نه پور ه کوي، نو ځکه په ځینو ولایتونو کې کچالو د غلې ځای نیسي چې د تولید اندازه یې له ۵۰۰ ټنو څخه تر ۲۵۰۰۰ ټنو پورې زیاته شوې ده، همدارنګه یوه زیاته اندازه غله له بهر څخه واردیږي.

ب ـ د کرنې پرمختللې او عصري طریقه:

په پرمختللې او عصري کرنه باندې د وروسته پاتې عنعنوي کرنې د بدلولو لپاره د شرایطو او اسانتیاوو

عنعنوي (دوديزه) کرنه	عصري (پرمختللې) کرنه
يوازې د کورنۍ د اړتيا وړ لګښتونو بشپړوونکی	په مارکيټ کې د حاصلاتو د خرڅلاو له لارې د ګټې لوړ حد ته رسېدل
له توليدي دوديزو وسايلو کار اخېستل	د توليد له نوې تکنالوژۍ څخه په پراخه توګه کار اخېستل
له مارکيټو توليدي عواملو او د توليد له حاصل سره ډيرې کمزورې اړيکې	له مارکيټ، توليد او توليدي حاصلاتو سره ژورې او پوره اړيکې
له تکنالوژۍ څخه په کار اخېستو کې ځان ساتنه	زړورتيا او تاوان منل
د غلو - دانو هغه ډېر لږ حاصل چې د وګړو اړتيا نه پوره کوي.	پوره اندازه توليدات اود اړتيا بسيا کيدل
په تراکتور سره تر ۲۰ سانتي مترو پورې د ځمکې کولبه کول چې د بوټو ريښې په کې پوره وده کوي	د شودياري تر ۱۰ سانتي مترو پورې کولبه کول چې د بوټو ريښې په کې ښه وده وکولای شي.
له خپلسرو (هرزه) بوټو سره د تخم کر چې له اصلي بوټو څخه خپلسروي (هرزه) واښه له خاورې زيات غذايي توکي اخلي	د پاک تخم کرل چې د خاورې ټول غذايي توکي اصلي نبات ته رسيږي

د برابرولو په خاطر لاندې امکانات بنسټي رول لري:
مواصلاتي کرښې او د حمل او نقل وسايل، بريښنا، د اوبو لګولو سيستم، بازار موندنه، اړيکې، کرنيز اصلاح شوي تخمونه، سره، د ونو ـ بوټو د ناروغيو او افاتو ضد دارو، کرنيز ماشينونه، د څېړنو، ترويج او د نباتاتو د ساتنې خدمتونه او نور.

د عصري او پرمختللې کرنې نورې ځانګړتياوې دا دي چې کرنيزه ښيګڼه رامنځ ته کوي او له لږې ځمکې څخه ډېر حاصل په لاس راوړي.

د عصري کرنې په لارو ـ چارو کې کرنيز ماشينونه په کار کې اسانتيا راولي او د توليد اندازه لوړوي.

د بندونو جوړول او د وبالو کيندل، د ژورو څاګانو ايستل او د پراخو شاړو ځمکو تر کرنې لاندې راوستل د توليداتو د زياتيدو او په خپل ځان د هيواد د بسيا کيدو لامل کيدای شي.

د عصري پرمختللې او دوديزې وروسته د پاتې کرنې د ځانګړتياوو لنډيز په جدول کې ښودل شوی دی:

د ټولګي د ننه فعاليت:

زده کوونکي دې په دريو ګروپونو کې تنظيم شي له خبرو اترو وروسته دې لنډ ځواب ووايي:
بيا د هر ګروپ استازي دې د خپل ګروپ د کار په هکله د ټولګي په مخکې نورو زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

لومړۍ ډله: ستره موخه په عنعنوي کرنه کې څه ده؟
دويمه ډله: ستره موخه په عصري او پر مختللې کرنه کې څه ده؟
دريمه ډله: د عنعنوي او عصري کرنې دوه دوه مثالونه وليکئ.

پوښتنې

پوښتنې په غور ولولئ دسم ځواب مخې ته يې(ص) او د غلط ځواب مخې ته يې (غ) وليکئ.

۱- په عنعنوي کرنه کې توليدات او کرنيز حاصلات ډيرېږي( ) ( )

۲- په عصري او ماشينی کرنه کې توليدات او حاصل لږ او د ياد ولو وړنه وي.

۳- اقليمي شرايط هم د کرنې په توليداتو اغيز لري( ) ( )

له ټولګي څخه د باندې فعاليتونه

زده کوونکي دې د خپلې کورنۍ د غړو سره له مشورې څخه وروسته دلاندې پوښتنو لنډ ځواب وليکي او په راتلونکي ساعت کې دې په ټولګي کې بيان کړي.
ماشيني کرنه به زموږ د هيواد په عنعنوي کرنه کې څه ډول ځای ونيسي.

۳،۱ مهم کرنيز توليدات

۳- شکل

په يوه کرونده کې د پنبې د محصولاتو راټولول

زموږ د هيواد طبيعي شرايط د کومو کرنيزو بوټو کرلوته برابر دي؟

افغانستان چې بيلابيلې اقليمي سيمې لري د بيلابيلو ونو ـ بوټو د کرلو وړتيا لري. څرنګه چې د افغانستان په سلوکې ۸۰ ځمکه غرونه، دښتې او ډاګونه دي، نو يوازې په سلوکې ۱۵ ځمکې د کرنې وړ دي چې اوس له هغو څخه نيمايي کرل کيږي. د افغانستان د ټولو کرنيزو ځمکو پراخوالی ۲۸ ميليونه هکټاره کيږي، له هغو څخه ۸،۷ ميليون هکټاره د کرنې وړ ده، خو هر کال يوازې په ٥،٤ ميليونه هکټاره کې کرنه کيږي.

د افغانستان له ټولو زيات کرنيز توليدات غلې ـ دانې (غنم، وريجې، جوار او وربشې) دي چې په پراخه کرنيزه ساحه کې کرل کيږي او لوړ ارزښت لري. دغه غله د کرنې وړ په سلوکې ۸۳ آبي ځمکه او نوره للمي ځمکه نيسي. نورې ونې او بوټې لکه ميوې، سابه او صنعتي بوټې لکه چغندر، پنبه، د څارويو لپاره واښه او نور په ٤۳۰ زره هکټاره آبي کرنيزه ځمکه کې کرل کيږي.

ـ زموږ په هيواد کې د ټولو کرنيزو توليداتو پرتله هغه څه چې د وګړو غذايي اړتيا پوره کوي، غنم دي، چې زموږ د خلکو د خوراك بنسټي توکي دي.

غنم تر ډيره پورې په جغرافيايي منځنيو عرض البلدونو کې وده کوي چې له دې پلوه افغانستان د غنمو د کرلو او ودې تر ټولو غوره طبيعي شرايط لري. غنم د افغانستان له ۳۰۰۰ څخه تر ۳۳۰۰ مترو پورې په بيلابيلو لوړو سيمو کې کرل کيږي او د افغانستان په سلو کې له (٥۰ څخه تر ٦۰) ځمکې يې نيولې دي، په داسې حال کې چې د کرنې وړ ځمکو په سلوکې ۹۰ برخه يې نيولې ده.

زموږ هیواد د پستو یا په مني کې د کرل کیدونکو غنمو او کلکو یا پسرلنیو غنمو د بیلابیلو ډولونو د لرلو له کبله په ټولو هیوادوکې لومړی ځای لري.
د روسي عالم (وایولوف) د څیړنې له مخې د افغانستان شمال سیمې په آسیا کې د پستو غنمو د ودې لومړنی مرکز دی چې د غنمو په سلوکې د ۵۷ ډولونو په لرلو سره په ټوله نړۍ کې لومړی ځای لري. دغه ډول غنم په مني کې په ابي ځمکو کې کرل کیږي.
په افغانستان کې د غنمو ډیره برخه په ابي ځمکو کې کیږي چې د للمي پرتله یې د حاصل اندازه ډیره زیاته ده. د افغانستان د کرنې لاندې ځمکو په سلو کې ۵٦ یې آبي او ٤٤ یې للمي دي. د غنمو له دوه پر دریمې برخې څخه زیات یې بیرته په تولیدوونکو سیمو کې خوړل کیږي، یوازې دریمه برخه یې د هیواد دننه مارکیټونو ته د پلورلو لپاره وړل کیږي. د للمي غنمو د کرلو ډیرې پراخې ځمکې د هیواد په شمال کې دي، خو په آبي توګه غنم په جنوبي، مرکزي او جنوب لویدیځو سیمو کې کرل کیږي.
ـ له غنمو څخه وروسته وریجې د افغانستان مهمه غله او د خلکو د خوراک مهم توکی دی.
وریجې زیاتره په هغو ځایونوکې کرل کیږي چې توده هوا او ډیرې اوبه ولري. په افغانستان کې هم وریجې په هغو ټیټو سیمو کې چې توده هوا او پریمانه اوبه لري، کرل کیږي چې دوه ډولونه لري: نرۍ وریجې او غټې وریجې.
د غټو وریجو پرتله د نریو وریجو بیه، د تولیداتو اندازه او لګښت زیات دی. نرۍ وریجې د هیواد په ختیځو ولایتونو یعنې لغمان، کونړ او ننګرهار اوپه شمالي ولایتونو لکه بغلان، کندوز او تخار کې ډیرې کرل کیږي. غټې وریجې معمولا په میدان وردګ، لوګر، بغلان او تخار ولایتونو کې کرل کیږي.
ـ جوار هم په تودو او اوبه لرونکو سیمو کې کرل کیږي. د جوارو تولیدات، پخوا په ډیرو ولایتونو کې مصرفیدل او د یو شمیر خلکو خوراکي توکي بلل کیدل، خویه دې وروستیو کې دهغو د کرلو ساحه کوچنۍ شوې ده او د خلکو د خوراکي توکو په توګه ورڅخه ډیر کار نه اخېستل کیږي.
جوار په پکتیا، پکتیکا، ننګرهار او لوګر کې ډیر کرل کیږي.
ـ وربشې هم په تودو او اوبه لرونکو سیمو کې کرل کیږي، خو د غنمو پرتله په سړو سیمو کې ښه وده کوي. وربشې زیاتره ښارویو ته ورکول کیږي.
زموږ د هیواد په ګڼ شمیر سیمو کې یو شمیر نورې غلې ـ دانې لکه مۍ، لوبیا، نخود، مشنګ او باقلي هم کرل کیږي.
ـ سابه هم په افغانستان کې مهم خوراکي توکي دي. په افغانستان کې مهم کرل کیدونکي سابه دادي: کچالو (پټاټې) تور بانجان، رومي بانجان، ګازرې، شلغم (ټیپر) پالک، کدو، ګلپې، تورایې،

مرچک، لیرو (بینډۍ)، کاهو او نور.

- میوې هم زموږ د هیواد غوره کرنیز تولیدات دي. د افغانستان طبیعي شرایط د میوه لرونکو بېلابېلو ونو دودې او روزنې لپاره ډېر غوره دي. میوې د کورنیو اړتیاوو له پوره کولو سربېره بهر ته هم صادرېږي.

افغانستان د بېلابېلو پاڼېزو او ستروس میوو د لرلو له مخې نړیوال نوم لري چې هم له تازه انګورو، منو، خټکیو، هندواڼو، انارو، ناکو، بهي او نورو اوهم یې له وچو لکه بادامو، ممیزو، پستې، غوزانو او نورو څخه استفاده کېږي او بهرته هم لېږل کېږي.

- صنعتي بوټي هم لکه ګني، چغندراو پنبه د هیواد په بېلابېلو سیمو کې کرل کېږي. افغانستان په نړۍ کې د پنبې د کرلو سیمه ده، هغه سیمې چې توده هوا اوپوره اوبه ولري د پنبې لپاره غوره بریښې. د هغې کرل د هیواد په شمال، لویدیځ او ختیځ کې رواج لري.

چغندر هم له پخوا څخه زموږ په هیواد کې کرل کېږي، په پخوا کلونو کې یې په کندوز او بغلان کې کرل زیات رواج و او د بغلان د بورې (شکرې) په فابریکه کې ور څخه استفاده کېده.

ګني د ننګرهار، کونړ، لغمان او پکتیا ولایتونو کې په یوه محدوده ساحه کې کرل کېږي، د جلال آباد شاوخوا کې یې کرنه ډېره رواج ده چې د ګوړې په جوړولو کې ورڅخه کار اخېستل کېږي.

- زموږ د هیواد په بېلابېلو سیمو کې بېلابېل طبي بوټي هم وده کوي چې زموږ خلک له هغو څخه له ډېر پخوا راهیسې په ډېرو لومړنیو بڼو کار اخلي یو شمیر دغه بوټي بهرته هم استول کېږي، هغه بوټي چې یوناني طب کې ورڅخه کار اخېستل کېږي او یاهم د معاصر درمل جوړونې په صنعت کې کارول کېږي دادي: زعفران خوږولې، شمکۍ او نور.

زموږ د هیواد یو شمیر سیمو کې غوړ لرونکي بوټي لکه زغر، شرشم، کنځلی، لمرګلی او نور هم کرل کېږي.

د محصولاتو ډول په ټن	۱۳۷۷	۱۳۷۸	۱۳۷۹
غنم	۸۳٤،۲	٤۹۹،۲	٤۹٦،۱
وريجې	٤٥۰	٤۲۰	۲۳۳
وربشې	۲٤۰	۲۱٦	۷٤
جوار	۳۳۰	۲٤۰	۱۱٥
ږدن	۲۲	۲۲	۲۲
کچالو (پټاټې)	۲۳٥	۲۳٥	۲۳٥
دانې (لوبیا، نخود او نور)	٥۰	٥۰	٥۰
کنځلې	۲٤	۲٤	۲٤
پومبه دانه	٦٦	٦٦	٦٦
مالوچ	۲۲	۲۲	۲۲
سابه	٥۲۰	٥٤۰	٥٤۰
هندواڼې	۹۰	۹۰	۹۰
خټکي	۲۲	۲۲	۲۲
انګور	۳۳۰	۳۳۰	۳۳۰
ګنې	۳۸	۳۸	۳۸
چغندر	۱	۱	۱
منې	۱۸	۱۸	۱۸
شفتالو	۱٤	۱٤	۱٤
الو	۳٥	۳٥	۳٥
ستروس	۱۲	۱۲	۱۲
زردالو	۳۸	۳۸	۳۸
نورې میوې	۱٦۸	۱٦۸	۱٦۸

(۲) جدول: د ۱۳۸۰ ـ ۱۳۸۳ کلونو په ترڅ کې د افغانستان یو شمیر اصلي کرنیزو محصولاتو د تولیداتو اندازې (ارقام په ټنو)

محصولات	۱۳۸۰	۱۳۸۱	۱۳۸۲	۱۳۸۳
غنم	۱/۵۹۷/۰۰۰	۲/۶۸۶/۰۰۰	۳/۴۸۰/۰۰۰	۲/۸۸۴/۰۰۰
وریجې	۲۴۲/۰۰۰	۳۸۸/۰۰۰	۲۶۰/۰۰۰	۳۲۵/۰۰۰
وربشې	۸۷/۰۰۰	۳۴۵/۰۰۰	۲۴۰/۰۰۰	۳۳۷/۰۰۰
جوار	۱۶۰/۰۰۰	۲۹۸/۰۰۰	۲۱۰/۰۰۰	۳۱۵/۰۰۰
ږدن	۲۲۰/۰۰۰	۲۰/۰۰۰	۱۷/۰۰۰	۲۲/۰۰۰
کچالو او چغندر	۲۷۴/۰۰۰	۲۶۹/۰۰۰	۴۳۴/۰۰۰	۳۳۹/۰۰۰
ګنې	۳۸/۰۰۰	۳۸/۰۰۰	۳۸/۰۰۰	۳۸/۰۰۰
د شکرې چغندر	۱/۰۰۰	۱/۰۰۰	۱/۰۰۰	۱/۰۰۰
وچه میوه	۶۸/۷۰۰	۶۸/۹۰۰	۵۸/۴۰۰	۷۴/۹۰۰
لوبیا، نخود او نور	۵۰/۰۰۰	۵۰/۰۰۰	۴۲/۱۰۰	۵۰/۰۰۰
د بادام بیلابیل ډولونه	۹/۰۰۰	۹/۰۰۰	۷/۰۰۰	۱۵/۰۰۰
غوزان	۵/۰۰۰	۵/۰۰۰	۳/۹۰۰	۵/۰۰۰
پسته	۲/۸۰۰	۲/۸۰۰	۲/۲۰۰	۳/۰۰۰
ښوون	۹۰۰	۱/۱۰۰	۲/۴۰۰	۹۰۰

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي، لومړی دې د نوي لوست متن له ځان سره ولولي، بیا دې د هیواد د یو ډول کرنیزو تولیداتو په هکله بحث وکړي او د خپل بحث پایله دې خپلو ټولګیوالو ته ووایي.

پوښتنې

۱ ـ کوم ډول کرنیز بوټي زموږ په هیواد کې په پراخه اندازه کرل کیږي؟ د هغو په هکله توضیحات ورکړئ.

۲ ـ وریجې په څو ډوله دي او د هیواد په کومو سیمو کې او په څه ډول طبیعي شرایطو کې کرل کیږي؟

۳ ـ د هیواد څو ډوله میوې پیژنئ، د هغو د ارزښت په هکله معلومات ورکړئ.

٤ ـ صنعتي بوټي یعني څه او څو ډوله یې پیژنئ، نوم یې واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

ستاسې د اوسیدلو له سیمې څخه کوم ډول کرنیز محصولات ترلاسه کیږي، د هغو په کرلو کې کومې ستونزې تر سترګو کیږي، ستاسې د سیمې کرنه به څرنګه پرمختګ وکړي چې د بزګرانو او د هیواد اقتصاد مو پیاوړی شي. په دې هکله په یوه پاڼه کې لیکنه وکړئ او په ټولګي کې د هغې په هکله خبرې وکړئ.

د کرنې جغرافیایي ویش



٤- شکل

نقشهٔ I غلې دانې

تاسې پوهیږئ چې د یو شمیر ونو ـ بوټو (نباتاتو) کرل په ټول هیواد کې امکان لري؟

د کرنې جغرافیایي ویش داڅرګندوي چې د ونو، بوټو بیلابیل ډولونه او غلې، دانې د هیواد په کومو سیمو کې او ترڅه ډول اقلیمی شرایطو لاندې په کوم ډول څمکو کې کرل کیږی او تولید یې لوړوالی مومي.

لکه چې په مخکېنې لوست کې وویل شول، زموږ د هیواد غرنی وضعیت ددې لامل شوی دی چې د هیواد په ډیرو سیمو کې په تیره په غرنیو او دښتي سیموکې کرنه ونه شي.

د هیواد په کرنیزو سیمو کې غلې دانې، سابه او میوې کرل کیږي. چې ستیپ څمکې او دویالو غاړې دي. د هیواد یوه برخه طبیعي څنګلونو او څرځایونو نیولې ده. لکه څرنګه چې په (I) نقشه کې ښکاري غنم او وربشې څه ناڅه د هیواد په ټولو سیمو کې کرل کیږي.

که (II) نقشې ته وکتل شي، جوار زیاتره د هیواد په ختیځ او په لږ شمیر نورو سیمو کې کرل کیږي، خو وریجې زیاتره په ختیځ او شمال کې کرل کیږي.



٥- شکل

څرنګه چې په پخواني لوست کې هم ولوستل شول او د صنعتي بوټو په نقشه کې هم ښکاري، پنبه د شمال، لویدیځ او جنوب لویدیځ په څینو ولایتونو، ګنې په ختیځ او چغندر زیاتره په کندوز او بغلان کې کرل کیږي.

یو شمیر نور صنعتي بوټي لکه لمرګلي، کنځلي او زغر د هیواد بیلابیلو سیمو

٦- شکل



٧- شکل

کې ځای ځای کرل کیږي.
د باغونو او تاکستانونو په نقشه کې ښکاري چې پټاټې او نور سابه په ختیځو سیمو، شمال، هرات او کندهار کې ډیر کرل کیږي، میوې، په تیره بیا انګور په کندهار، پروان، هرات، کابل او کاپیسا، ستروس (لکه نارنج، لیمو، مالټې او نور) په ختیځ او خټکي او هندوانې په شمالي ولایتونو کې رواج دي.

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې څلور ډلې شي، لاندې کارونه دې ترسره او د هغو پایلې دې په ټولګي کې وړاندې کړي:

- لومړی ډله به د غلو-دانو د I نقشې له مخې او د مخکینې لوست سره سم، د غنمو او وریشو د کرلو سیمې وښیي او دا به څرګنده کړي چې په نقشه کې هره ځانګړې نښه د څو زره ټنه تولیداتو ښودنه کوي.
- دویمه ډله به د وریجو او جوارو د کرلو سیمې د غلو-دانو په II دریمه ډله به د صنعتي بوټو د کرلو سیمې د صنعتي نباتاتو او څلورمه ډله به د باغونو او تاکستانونو په نقشه کې د باغونو او تاکستانونو سیمې او د سبو او میوو د تولید سیمې وښیي.

پوښتنې

۱- د کرنې جغرافیایي ویش څه مفهوم لري؟
۲- ولې غنم د هیواد په ټولو سیمو کې کرل کیږي؟ یوازې دوه لاملونه یې ووایئ.
۳- ولې زموږ د هیواد په ځینو سیمو کې یو شمیر کرنیز بوټي او د هغو د تولید اندازه لږه ده؟ د هغه لامل (علت) څه دی؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

تاسې هریو، یو ډول کرنیز بوټي غوره او د درس له مخې په یوه ولایت کې یې د کلنې تولید اندازه اټکل کړئ.

پنځم لوست

۴ ، ۱ مالداري او د هغې اقتصادي ارزښت

۸- شکل

د افغانستان د دوه بوکانو لرونکو اوښانو تصوير

زموږ په هيواد کې د څارويو ساتنه او روزنه په څه ډول پرمخ وړل کيږي؟

د څارويو روزنه او ساتنه زموږ د خلکو په ژوند کې څومره ارزښت لري؟

مالداري او د څارويو روزنه په افغانستان کې ډير لرغونتوب لري. کله چې د څارويو ښکار کول مخ په کمښت شول اويا بشپړ ودريدل. خلکو يو نوی ډول ژوند پيل کړ او د څارويو په ساتنه او روزنه بوخت شول. له هغه وخته تر اوسه پورې پيړۍ تيرې شوي دي او خلکو همدغه ډول ژوند ته دوام ورکړی دی.

زموږ د هيواد په ټولو سيمو کې د غرونو لمنو او خاورينو غونډيو د څارويو روزنې او ساتنې ته ډير غوره شرايط چمتو کړي دي او تر اوسه پورې يې زموږ يو زيات شمير وګړي د ژوند په زياته موده کې په همدغه ډول بوخت کړي دي.

په افغانستان کې په سلوکې د ۸۰ په شاوخوا وګړي په کرنه بوخت دي، هيڅ داسې يو بزګر نه شته چې د څارويو په ساتنه بوخت نه وي، سربيره په دې، زموږ يو شمير خلک، په تيره بيا کوچيان په بشپړ ډول د څارويو په ساتنه بوخت دي او همدايې د ژوند اړتياوې پوره کوي.

د څومره والي او څرنګوالي له پلوه د څارويو د روزنې يا مالدارۍ ارزښت په دې کې دی چې زموږ د خلکو د اقتصاد په پرمختيا کې مهم رول لري.

د څارويو د توليداتو ارزښت د ملي نا خالص عايد په سلوکې ۷ ـ ۱۰ پورې برخه جوړوي. سربيره پردې خلک د څارويو څخه د کار ځواک د توليد، باروړلو، د پوستکي د ترلاسه کولو، وريو او نورو



۹- شکل

لپاره هم کار اخلي. د څارويو شمیر محصولات لکه ورۍ، د پسونو او غويانو پوستکي، قره قل پوستکي او کولمې د خپلې بیې له پلوه د هیواد د صادراتو په سلوکې ۱۰ ـ ۲۰ برخې جوړوي.
همدارنګه د غالیو صادرات او د وړیو صنایع، پوستین باب او د پوستکو صنایع هم د افغانستان په صادراتو کې د پام وړ برخه لري. له دې پرته په هیواد کې د اړتیا وړ غوښه او شیدې، چې اندازه یې په یو کال کې د هر وګړي لپاره په ترتیب سره له ۱۱.۵ تر ۶۰ کیلوګرام اټکل شوې ده، له کورنیو سرچینو چمتو کیږي.
د یادولو وړ ده چې دیرش کلنو جګړو او وچکالۍ مالدارانو او د څارويو ساتنې ته هم زیان اړولی، ددې ترڅنګ د کال په سړو شپو ـ ورځو کې د غوره غوجلو نشتوالی او د بسیا پاکو اوبو کمښت هم د څارويو په مړینه اغیزه لري چې اندازه یې هر کال په سلوکې ۳۰ ته رسیږي.
د کورنیو څارويو ډولونه او د هغو جغرافیایي ویش:
هغه کورني څاروي چې بزګران او مالداران یې ساتي دادي: پسونه، غواوې، وزې، خره، اوښان، اس، کچرې او کورني چرګان. د کورنیو څارويو په ډله کې تر ټولو زیات قره قل پسونه او عادي پسونه د هیواد په اقتصاد کې ډېر غوره ارزښت لري او د څارويو د محصولاتو په صادراتو کې یې برخه ډېره ده.
لکه چې د څارويو روزنې په (I) نقشه کې ښکاري، د پسونو روزنه څه ناڅه د هیواد په ټولو برخو

کې ترسترګو کیږي، خو قره قل پسونه یوازې په شمالي ولایتونو کې له بدخشان څخه تر هرات پورې پراختیا لري. وزې هم په ټول هیواد کې روزل کیږي.

که چیرې د څارویو روزنې (I I) نقشې ته ځیر شو، نور څاروي لکه غواګانې، خره، اسونه او اوښان څه ناڅه د هیواد په ټولو ولایتونو کې روزل کیږي.



۱۰- شکل

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، لاندې دندې دې پرمخ بوځي او د هغو پایلې دې ټولګي کې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي:

۱. د نوي لوست متن دې ورو ولولي او بیا دې د مالدارۍ په ارزښت خبرې وکړي.

۲. د لوست متن او د څارویو روزنې (I) نقشې ته دې وګوري، د پسونو، قره قل پسونو او د وزو د روزنې د جغرافیایي ویش په هکله دې معلومات ورکړي.

۳. د نوي لوست متن او د څارویو د روزنې (I I) نقشه دې وګوري د غواګانو، خرو، آسونو او اوښانو د روزنې او ساتنې سیمې دې په نښه کړي.

پوښتنې

۱. مالداري زموږ د هیوادوالو په ژوند او اقتصاد کې څه ارزښت لري؟ څرګند یې کړئ.

۲. د کوم ډول کورنیو څارویو روزنه او ساتنه زموږ په هیواد کې دود ده؟ نوم یې واخلئ.

۳. له محصولاتو پرته د کومو څارویو له څواک څخه د کومو کارونو په ترسره کولو کې کار اخېستل کیږي؟ توضیح یې کړئ.

٤. هغه محصولات چې له څارویو ترلاسه کیږي، کوم دي؟ له هغو څخه په څه شي کې کار اخېستل کیږي او له صنعتي کیدلو څخه وروسته د څارویو د کوم محصول ارزښت اوچتیدلای شي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

له سرچینو په کار اخېستلو سره د کوچیانو د ژوند، کار، د هغوی د څارویو روزنې او د هغوی د ستونزو په هکله یوه مقاله ولیکئ.

۱، ۵ د مالدارۍ لارې چارې

۱۱- شکل

دهیواد په شمال کې سیند ته نږدې د څارویو یوه رمه

زموږ په هیواد کې د څارویو ساتنه او روزنه په څه ډول پرمخ ورل کیږي؟

الف ـ لرغوني او دودیزه طریقه (لارې ـ چارې)

لکه چې مخکې لوست کې مو د مالدارۍ د ارزښت په هکله معلومات ترلاسه کړل، زموږ یو زیات شمېر هیوادوال د څارویو د ساتنې له لارې خپل ژوند پرمخ بیايي، همدارنګه د څارویو ساتل د هیواد لویه عایداتي سرچینه ده. مالداري په دودیزه او عنعنوي بڼه له ډېر پخوا راهیسې زموږ په هیواد کې رواج ده. کوچي مالداران د ډیرو زیاتو کړاوونو په ګاللو سره د کال په اوږدو کې د خپلو څارویو د څرولو په خاطر له یوه څرځای څخه تر بل پورې د تګ په حال کې وي او په واښه لرونکو پراخو څرځایونو کې په دودیز ډول د هیواد په بیلابیلو برخو کې د څارویو په ساتنه بوخت وي.

د دودیزې مالدارۍ لويې ستونزې دادي: وچکالي، د څښلو د اوبو کمښت، د ناپاکه اوبو څښل، په ژمي کې د سرپنا نه لرل، د حیواني ناروغیو په وړاندې د څارویو نه ساتل، د وقایې په خاطر له حیواني کلېنیکونو او فارمونو سره د دوی د اړیکو نشتوالی، د ناروغو څارویو په درملنه کې ستونزې او د اصلاح شوو نسلونو خواته نه پاملرنه او نورې ستونزې.

ب ـ عصري او پرمختللې طریقه

په افغانستان کې په عصري او فني ډول د څارویو روزنه او تکثیر په ۱۳۱۲ هـ ل کال کې پیل شو. په ۱۳۱۵ هـ ل کال د لومړي ځل لپاره په کابل کې د ناروغو څارویو د درملنې لپاره لومړنی حیواني کلېنیک جوړ شو چې موخه یې د دولتي څارویو په تیره بیا د عسکري قطعاتو اسونو او د یو شمېر

مراجعینو د څارویو درملنه وه. په ۱۳۲۳ هـ ل کال کې په بدخشان او د هغه وخت د قطغن په ولایت کې په غواګانو کې وژونکې ناروغي خپره شوه چې ډېر زیات زیان یې اړولی و. له هغه مهال را وروسته د وترنرۍ خدمتونو د پراختیا لوري ته پاملرنه وشوه او د ۱۳٤٥ هـ ل کال ترپای پورې په بیلابیلو ولایتونو کې نهه کلینیکونه جوړ شول او په ۱۳٥۳ هـ ل کې یې شمیر ۱٦ ته لوړ شو. په اوسني وخت کې په هیواد کې د وترنرۍ علومو پوهنځیو شمیر زیات شوی دی او د حیواني کلینیکونو جوړولوته هم پاملرنه ډېره شوې ده، خو بیاهم د پرسونل او لازمو وسایلو د نشتوالي له کبله ستونزې شته، نو ځکه د څارویو د مړینې شمیر هم ډېر دی.

د عصري او پرمختللې مالدارۍ او د څارویو د محصولاتو د زیاتولو مهم ټکي دادي:

- د پوره اندازې وښو چمتو کول او د څارویو خوراک ته ښه پاملرنه.
- د حیواني ناروغیو په وړاندې د څارویو ساتنه.
- د زراعتي اصلاح شوو نسلونو ترویج او ډېربښت.
- د حیواني کلینیکونو او فارمونو تاسیس او زیاتول.
- د منظمې اداري او غوره منجمنت شتوالی.

۱۲- شکل

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د نوي لوست د متن او تصویرونو په کتلو سره د دودیزې او پخوانۍ مالدارۍ په اړه او دویمه ډله دې د مالدارۍ د نوې او پرمختللې بڼې په هکله خبرې وکړي او د خپلو خبرو پایله دې په ټولګي کې د خپلو ټولو ټولګیوالو ته مخې تشریح کړي.

پوښتنې

۱. د دودیزې مالدارۍ ستونزې کومې دي؟ توضیح یې کړئ.
۲. د څارویو د روزنې عصري او فني بڼه کومه یوه ده، معلومات ورکړئ.
۳. کوم لاملونه (علتونه) د مالدارۍ د پرمختګ او د محصولاتو د زیاتیدو سبب کیدای شي؟ نوم یې واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د یوه څاروي، اویاهم د یوه حیواني کلینیک تصویر چمتو کړئ او په بل ساعت کې د هغه په هکله خبرې وکړئ.

اووم لوست

۶،۱ وحشي ژوي



۱۳- شکل

واښه خوړونکي ژوي

د وحشي ژویو نقشو ته وګورئ زموږ په هیواد کې کوم ډول واښه خوړونکي او غوښه خوړونکي ژوي شته؟

ژوي د چاپیریال د یوې مهمې ارزښتمنې ښکارندې (پدیدې) په توګه په طبیعي بیارغاونه باندې ژوره اغیزه لري. په طبیعت کې، په تیره بیا په ځنګلونو کې بیلابیل ژوي ژوند کوي چې هریو یې ځانګړې اهمیت لري. د هغو ژویو ارزښت چې په ځنګلونو او څړځایونو کې اوسیږي، د ګرځندویانو (توریستانو یا سیلانیانو) د رابللو، ښکارکولو، د هغوی د پوستکي د ارزښت او د طبیعت د توازن له مخې ډیر اوچت دی. ددغو ژویو په ژوند او پایښت کې د انسانانو د فعالیت اغیزه ډیره ژوره ده او د هغوی ښکارکول او په پټنځایونو کې یې لاس وهنه د هغوی ژوند له خطر سره مخامخ کوي. انسان د ځنګلونو په وهلو، دکورنیو څارویو په څرولو، د وښو او د سوځولو په خاطر د ونو بوټو په پرې کولو سره وحشي ژویو ته ګواښ پیښوي.

د افغانستان طبیعي جوړښت چې ډیره برخه یې غرونه دي، په تیره بیا د هندوکش لړۍ چې زیاتې لوړې - ژورې او شګلنې لمنې او ډاګونه لري، د ژویو لپاره یې جغرافیایي ارزښت رامنځته کړی دی او د ژوند او ژویو ډول ډول والی یې پیاوړی کړی دی. زموږ په هیواد کې د ځمکې د جوړښت، اقلیمي شرایطو او خوراکي توکو د پیداکیدو له مخې د بیلابیلو ژویو او الوتونکو لپاره د ژوند غوره چاپیریالونه رامنځته شوي دي چې یو شمیر یې دادي:

- ذوحیاتین او ښښیدونکي لکه: څرمښکی، سمسېره، چنګاښ، مار او نور. په افغانستان کې یوازې د مار ۲۷ ډولونه پیژندل شوي دي. اووه ډوله یې زهري دي چې دوه ډوله یې کبرا او پنځه ډوله یې افعي ماران دي.
- تي لرونکي ژوي: چې ۱۲۰ ډولونه یې په افغانستان کې پیژندل شوي، خو له بده مرغه زیات شمیر

١٤- شکل

يې اوس د له منځه تلو په حال کې دي لکه:

- پړانګ چې د پامير په لوړو درو او مرغاب کې ليدل شوی و.
- سورلنډيان چې د هيواد مرکزي سيمو کې ژوند کوي.
- ليوان، سرې ګيدړې، غرنۍ پيشوګانې او کوچنۍ وحشي پيشوګانې چې په ټول هيواد کې شته.
- يږې چې هم په غرنيو سيمو او هم په ځنګلونو کې اوسيږي.
- همدارنګه مارکوپولو پسونه، هوسۍ، مارخور وزې او نور چې هريو يې د يادولو وړ دي او د افغانستان په بيلابيلو سيمو کې ژوند کوي.

يوه سروې چې زموږ په هيواد کې ترسره شوې وه، په هغې کې د هيواد په بيلابيلو سيمو کې د الوتونکو ۳۰۰ بيلابيل ډولونه پيژندل شوي وو چې په هغو کې د دښتو، ځنګلونو او اوبو بيلابيل الوتونکي يادولای شو چې تر ټولو نامتو يې زاڼه، ډنګ، مارغه،توطي، کارغه، باښه توتکۍ، چڼچڼې، پتکه او نوردي.

د ټولګي دننه فعاليت:

لاندې جدول په خپلو کتابچو کې د لوست له متن او نقشو څخه بشپړ کړئ.

واښه خوړونکي ژوي	غرنۍ وزې					
غوښه خوړونکي ژوي	پړانګ					

پوښتنې:

۱ ـ د وحشي ژويو ژوند او شتوالی له کومو ګواښونو سره مخامخ دی؟ توضيح يې کړئ.
۲ ـ هر څو ډوله الوتونکي، تي لرونکي او ښنيدونکي ژوي چې پيژنئ، نوم يې واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت:

په طبيعت کې د الوتونکو او وحشي ژويو د ارزښت په هکله او هغه ګواښ چې دوی ورسره مخامخ دي او داچې څرنګه بايد د هغو ساتنه او څارنه وشي په يوه مقاله کې وليکئ.

۷،۱ د کرنې او مالدارۍ څرنګوالی

۱۵- شکل

په افغانستان کې د کرنې او مالدارۍ وضعیت څه ډول دی؟

ددغه څپرکي په لوستونو کې تاسې د افغانستان له کرنې او مالدارۍ سره آشنا شوئ.

ددې څپرکي په پای کې غواړو چې په خپل هیواد کې د کرنې او مالدارۍ پر وضعیت یوه کتنه وکړو:

افغانستان یو کرنیز هیواد دی. اصلا هغه هیوادونه چې زیات شمیر خلک یې په کرنه بوخت دي، پرمختللي نه بلل کیږي. افغانستان چې یو پرمختیایي هیواد دی، زیاتره وګړي یې په سیده او څه هم په ناسیده توګه خپلې د ژوند اړتیاوې له کرنې او مالدارۍ څخه پوره کوي.

سره له دې چې د افغانستان اقتصاد په څو وروستیو کلونو کې ښه شوی او وده یې موندلې، خوبیاهم دغې ودې لوړه او بیوزلي له منځه نه دي وړې. په اوسني وخت کې شپږنیم میلیونه وګړي نه شي کولای خپلې ورځنۍ ډیرې لږې خوراکي اړتیاوې پوره کړي.

په سلوکې ۲٤ کورنۍ هره ورځ ډیر لږ خوراکي لګښت لري او د ټول هیواد په سلوکې ۳۰ نفوس د خپلې اړتیا څخه لږ خوراکي توکي مصرفوي. په سلوکې ٤۰ له درې کلنۍ څخه د ټیټ عمر ماشومان د وزن په کمښت (خوارځواکۍ) باندې اخته دي او په سلوکې ٦.۷ یې له همدې امله مري. په ټولیزه توګه د هیواد په سلوکې ٤٤ وګړي په بیلابیلو کچو د خوراکي توکو ستونزه لري.

که چیرې د افغانستان له اوبو او ځمکې څخه سمه ګټه واخیستل شي، زموږ د کرنې او د څارویو محصولات به څو څو ځله اوچت شي، نه یوازې دا چې کورنۍ اړتیاوې به مو بشپړې شي، بلکې

د کرنيزو محصولاتو د صنايعو او د هيواد د صادراتو په وده کې به هم بنسټي رول ترسره کړي.

هغه لاملونه (عوامل) چې د هيواد د کرنې او مالدارۍ د چارو په پرمختګ، پراختيا او يا هم د هغو په محدوديت اغيزه لري، هغه طبيعي (لکه اقليم، د ځمکې جوړښت او خاوره)، بشري (لکه، کارځواک او د کارګرانو تخنيکي کچه، فني او د بزګرانو خبرتيا او پوهه) اقتصادي (لکه پانګه، د خرڅلاو بازار، حمل او نقل او نور) او په پای کې سياسي لامل يعني د حکومت سياست دی.

۱۶- شکل

په انځور کې يو سړی ليدل کيږي چې غنم ريبي

له طبيعي لاملونو څخه يوهم اقليم دی چې د کرنيزو توکو په څومره والي او څرنګوالي سيده اغيزه لري.

د هوا د سوړوالي او اوږده ژمي له امله د هيواد په ځينو لوړو سيمو لکه په کابل، ګرديز، غزني او يو شمير مرکزي ولايتونو کې کرنه يوازې په يو فصل کې کيږي.

• د اوربښت کمښت او د اوبو نشتوالی هم د هيواد کرنې ته ځينې وخت ډير زيان اړوي.

• په هيواد کې د اوبولګولو سيستم ښه پرمختګ نه دی کړی، د افغانستان د سيندونو د اوبو جريان په کره توګه نه دی څيړل شوی او نه يې هم له اوبو څخه سمه استفاده کيږي، همدارنګه د اوبو لګولو ډيري آسانتياوې يا د بزګر په مټ ياهم د سيمه ييزو موادو په واسطه ترسره کيږي.

• د کرنې په برخه کې پانګه اچونه هم کمزورې ده او تر اوسه پورې دهيواد په ډيرو هغو سيمو کې چې کرنه يې اوبو لګولوته اړتيا لري، د اوبو ذخيره کولو بندونه، نه لري او د پام وړ ويالو جوړولو او د کانالونو کيندلوته پاملرنه، نه ده شوې.

بزګران او مالداران هم داسې پوره پانګه نه لري چې د خپلې مالدارۍ او کرنې ښه ښه او عصري کړي او اصلاح شوي کرنيز تخمونه، د ناروغيو او افاتو ضد درمل، کيمياوي سرې او کرنيز ماشينونه وربانديې واخلي.

په ټوليزه توګه ويلای شو چې په افغانستان کې کرنه او مالداري تر ډېره پورې په دوديزه ښه پرمخ وړل کيږي چې د کرنيزو چارو لويه موخه يوازې د بزګر د کورنۍ د اړتيا بشپړول دي.

په کار ده چې کرنه او مالداري په عصري او پرمختللې ښه ترسره شي، د اوبو لګولو سيستم بايد منظم شي او د هغه نور پرمختګ او ښه والی هم په پام کې ونيول شي، بايد د کرنې او مالدارۍ فارمونه او د ښارويو روغتيايي کلينيکونه پراخه شي، د کروندې او مارکيټ ترمنځ غځيدلې لارې بايد جوړې او فابريکې او صنعتي مرکزونه بايد کرنيز توکي په صنعتي محصولاتو واړوي او د توکو ارزښت او کيفيت ښه کړي او دې ډول صنعتي مرکزونو ته پراختيا ورکړل شي. له دې پرته د کرنې او مالدارۍ برخې ته د پانګې اچونې د پاملرنې د را اړولو په خاطر بايد د منځنۍ او اوږدې مودې پرمختيايي پلانونه عملي شي، طبيعي سرچينې، څړځايونه او ځنګلونه بايد وساتل شي او له هغو څخه په دايمي او معقوله توګه ګټه واخيستل شي.

۱۷- شکل

۱۸- شکل

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې دوه ډلې شي او د ښاغلي ښوونکي د لارښوونې سره سم دې د کرنې او مالدارۍ د ستونزو په هکله او دا چې په څه ډول باید دغه ستونزې له منځه یووړل شي، بحث وکړي او د خپل بحث پایله دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

پوښتنې

۱ ـ په هیواد کې کوم لاملونه د کرنې او مالدارۍ د پرمختګ خنډ ګرځېدلي، نوم یې واخلئ.

۲ ـ څرنګه کولای شو چې په هیواد کې د کرنې او مالدارۍ حالت ښه کړو، توضیح یې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د لومړي څپرکي مهم ټکي او لنډیز ولیکئ او بیایې په ټولګي کې وړاندې کړئ.

دويم څپرکی
انرژي او کانونه

په دې څپرکي کې لولو:

- انرژي او د هغې اهمیت
- د انرژۍ د نوي کېدو او نه نوي کېدو وړ سرچینې (منابع)
- برېښنا
  - د اوبو برېښنا
  - حرارتي برېښنا
- د ډبرو سکاره او زمورږ په هېواد کې د هغو کانونه
  - د صوف درې د ډبرو سکرو کان
  - د آشپشتې د ډبرو سکرو کان
  - د کرکر د ډبرو سکرو کان
  - د هرات د سبزك د مسجد چوبي د ډبرو سکرو کان
- نفت او گاز
  - نفت
  - گاز
- د هېواد نفت لرونکي حوزې
- فلزات
- د فلزاتو د کانونو اقتصادي اهمیت
- د ودانۍ د ډبرو کانونه
- قیمتي ډبرې
  - الماس
  - لاجورد
  - لعل
  - زمرد
- د کانونو او انرژۍ د حالت څېړنه

د څپرکي عمومي هدفونه

زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره لاندنيو پوهنيزو موخوته ورسيږي:

- زده کوونکي به د بشر په ژوندکې د انرژۍ په اهميت پوه شي.
- د هيواد د انرژۍ له منابعو او د هغو له اندازې څخه به خبر شي.
- په اقتصادي برخه کې به د فلزاتو پر اهميت وپوهيږي.
- د هيواد د فلزاتو کانونه به وپيژني.
- د ودانيو جوړولو د ډبرو د کانونو او د هغو د اقتصادي اهميت په هکله به پوه شي.
- د هيواد کريمه احجار (قيمتي ډبرې) کانونه او د هغو اقتصادي ارزښت به وپيژني.

زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره لاندنيو مهارتي هدفونوته ورسيږي:

- زده کوونکي به وکولای شي چې د انرژۍ اهميت بيان کړي.
- د انرژۍ د ډولونو نومونه به واخېستلای شي.
- د فلزاتو اقتصادي اهميت به بيان او د هغو د کارولو مهم ځايونه به توضيح کړي.
- د هيواد د فلزاتو مهم کانونه به د نقشې پرمخ وښودلای شي.
- د ودانيو او ګرانبيه تيږو کانونه به وپيژندلای شي.
- د ودانيو د تيږو اقتصادي اهميت به توضيح کړي.

۲، ۱ انرژي او د هغې اهمیت



۱۹- شکل

د لمريز اوبه تودوونکي (کلکتور) انځور

د انرژۍ په هکله څه پوهېږئ؟

انرژي هغه ځواك یا قوت دی چې په هغې سره په صنایعو، ماشینونو او صنعتي تولیداتو کې خوځښت راځي.

زموږ په هیواد افغانستان کې د انرژۍ زیاتې سرچینې شته چې هم د ځمکې پرمخ او هم تر ځمکې لاندې موندل کیږي.

په اوسني وخت کې د افغانستان صنایع انرژۍ ته اړتیا لري، چې لوی او کوچني ماشینونه وګرځوي. په افغانستان کې انرژي لوی اهمیت لري، سوداګري، صنعت. لیږدول او نورې حیاتي چارې په سیده(مستقیمه توګه په انرژۍ پورې تړلي دي.

د انرژۍ مهمې سرچینې د ډبرو سکاره، نفت، ګاز، اوبه ، باد، لمر او نورې دي.

- د ډبروسکاره په افغانستان کې د انرژۍ یوه مهمه سرچینه ده، په تیره بیا په اوسني وخت کې چې د انرژۍ نورې سرچینې لکه نفت او ګاز قیمتي دي، نو ځکه د ډبرو سکاره د انرژۍ د یوې نسبتا ارزانه سرچینې په توګه د ارزښت وړ دي.

د ډبرو سکرو یوه برخه په صنعت کې او نورې برخې یې د سون توکو په توګه په کاریږي، سربېره پر دې نفت هم زموږ په هیواد کې د انرژۍ د تولید د یوې سرچینې په توګه د ځانګړې ارزښت لرونکي بلل کیږي.

- هغه څیړنې چې د نفتو د پلټنې په برخه کې له ۱۳۱۵ هـ ل کال څخه راپدې خوا د افغاني او بهرنیو جیولوجیستانو له خوا ترسره شوي دي، ښکاره کوي چې د هیواد په ډېرو سیمو، لکه: د شمال په برخو، لویدیځ او جنوب لویدیځ کې د نفتو زیرمې شته.

- د انرژۍ د تولید یوه بله سرچینه طبیعي ګاز دی. طبیعي ګاز په افغانستان کې له مهمو کانونو څخه شمیرل

کیږي چې په هیواد کې دننه د لګښت او بهرته د صادرولو له مخې لوړ ارزښت لري. د کورونو له روښانولو او تودولو پرته په پخلي او د صعنتي کارځایونو په کار اچولو کې هم اهمیت لري.

- په افغانستان کې د اوبو له سرچینو د بریښنا انرژي ترلاسه کیږي، له بریښنا څخه د کورونو په روښانه کولو، پخلي او د برقي وسایلو په کار اچولو کې کار اخېستل کیږي. په افغانستان کې د انرژۍ یو شمیر نور ډولونه هم شته، چې په ځینو کارځایونو کې ورڅخه کار اخېستل کیږي، ممکن په راتلونکي کې به په ټول افغانستان کې دود شي لکه:

۲۰- شکل

د سولر انرژۍ انځور چې په هغه سره د لمر انرژي زیرمه کیږي

د لمریزې بریښنا Solar Energy دستګاوې لمریز پمپونه، د اوبو لګولو لمریز پمپونه او لمریز څراغونه، چې د لمر له انرژۍ څخه کار اخلي. په دې وروستیو کلونو کې د اوبو او انرژي وزارت په پام کې لري چې د اتومیلیاردو ډالرو په لګښت د کونړ او کوکچې په سیندونو باندې د اوبو د بریښنا بندونه جوړ کړي.

له هغې انرژۍ څخه د کار اخېستلو اغیزمنتوب چې طبیعي نوې کیدونکې سرچینې لري، لکه لمر، اوبه او باد سکرو او تیلو د لګښت په برخه کې سپما رامنځته کوي.

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې دوه ډلې شي، لومړۍ ډله دې د انرژۍ او دویمه ډله دې په ورځني ژوند کې د انرژۍ د اهمیت په هکله خبرې وکړي او د خپلو خبرو پایله به نوروته ووایي.

پوښتنې

۱. انرژي تعریف کړئ او دهغې مهمې سرچینې وښيئ.
۲. ولې د ډېرو سکاره د انرژۍ له مهمو توکیو څخه شمیرل کیږي؟
۳. د بریښنا د انرژۍ په تولید کې د اوبو د اهمیت په هکله معلومات ورکړئ.
٤. د انرژۍ اهمیت څرګند کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

تاسې په تیره شپه ــ ورځ کې له کوم ډول انرژۍ څخه کار اخېستی دی، د هغې په هکله معلومات ورکړئ چې له کومې سرچینې څخه ترلاسه، چیرته تولید او په څه ډول ستاسو په واک کې راغلې، په یوه پاڼه کې یې ولیکئ.

لسم لوست

۲، ۲ د انرژۍ د نوي کیدو او نه نوي کیدو وړ سرچینې (منابع)

۲۱- شکل

د سولر انرژي یا لمریزې برېښنا یو تصویر

د انرژۍ په هکله څه پوهیږې؟

د انرژۍ د نوي کیدو او نه نوي کیدو وړ سرچینې څه مفهوم لري؟

په طبیعت کې د انرژۍ دوه ډوله سرچینې شته: د انرژۍ هغه منابع (سرچینې) چې نوې کیږي او د انرژۍ هغه سرچینې چې د نوي کیدو وړتیا نه لري. دلته یې دواړه ډولونه په تفصیل سره لولو:

د انرژۍ د تولید د نوي کیدو وړ سرچینې هغو سرچینوته ویل کیږي چې په طبیعت کې په پوره اندازې سره موندل کیږي لکه اوبه، باد او لمر چې تل زموږ په چاپیریال کې شته، پای ته نه رسیدونکې دي او بیا نوي کیږي.

د انرژۍ نه نوي کیدونکې منابع یا سرچینې هغو سرچینوته ویل کیږي چې وروسته تر یوې مودې د هغو زیرمې پای ته رسیږي لکه د ډبرو د سکرو، نفتو، او ګازو زیرمې، چې وروسته له یوې مودې څخه یې په کانونو کې زیرمې پای ته رسیږي او انسان نه شي کولای چې تل او په دوامداره توګه ورڅخه کار واخلي. حرارتي انرژي چې د ډبرو سکرو، نفتو او ګازو له سوځولو څخه ترلاسه کیږي، د چاپیریال د ککړتیا او د ځمکې د ډیرو تودیدو لامل ګرځي.

زموږ په هیوا د افغانستان کې د انرژۍ دغه دواړه ډوله سرچینې لکه نوې کیدونکې او نه نوې کیدونکې تر کار لاندې دي.

په افغانستان کې ددې ترڅنګ چې د ډبرو د سکرو، نفتو او ګازو له نه نوي کیدونکو سرچینو څخه کار اخېستل کیږي، د انرژۍ د نوي کیدونکو سرچینو څخه هم کار اخېستل کیږي چې په دې کې یوهم اوبه د انرژۍ د نوی کیدونکو سرچینو یوه مهمه سرچینه ده.

هغه سیندونه چې مخ په ځوړ دي، د برېښنا د ترلاسه کولو لپاره ډیرې غوره سرچینې شمېرل کیږي، چې د بندونو په جوړولو او د توربین په لګولو سره له هغو څخه برېښنا ترلاسه کولای شو.

له اوبو څخه ترلاسه کېدونکې برېښنا د ډبرو له سکرو، نفتو او ګازو څخه ارزانه ده. د اوبو برېښنا ځکه ارزانه په لاس راځي چې د اوبو د دايمي جريان څخه توليدېږي. د برېښنا د توليد بله سرچينه باد دی. زموږ د هېواد په ځينو سيمو کې له باد څخه په ازمايښتي بڼه د برېښنا ترلاسه کول پيل شوي دي، ممکن په راتلونکې کې په ټول هېواد کې پراختيا ومومي.

۲۲- شکل د لمريز ديګي انځور

د برېښنا د توليد بله سرچينه لمر دی چې په دې لړکې لمريز کولکتورونه (اوبه ايشوونکې)، لمريز ځراغونه، د پخلي ديګونه او نور يادولای شو، چې له لمر څخه په کار اخېستو سره يې ډېرې غوره پايلې ترلاسه شوي دي. د لمريزو کولکتورونو څخه په کار اخېستلو سره زموږ په هېواد کې هم د برېښنا په لګښت کې سپما کېږي او هم د چاپېريال د ککړتيا مخه نيول کېږي: په اوسني وخت کې د هېواد په ځينو ولايتونو کې د لمر له انرژۍ څخه کار اخېستل پيل شوي دي او کار ورباندې روان دی.

د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې دوه ډلې شي. لومړۍ ډله دې د انرژۍ په نوي کېدونکو سرچينو او دويمه ډله دې د انرژۍ په نه نوي کېدونکو سرچينو باندې خبرې وکړي او د خپلو خبرو پايله دې نوروته هم ووايي.

پوښتنې

١. د ډبرو سکرو، نفتو او ګازو سرچينوته ولې د انرژۍ نه نوي کېدونکې سرچينې وايي.

٢. د انرژۍ د بېلابېلو سرچينو نوم واخلئ.

٣. د انرژۍ کومو سرچينوته نه نوي کېدونکې سرچينې وايي ناسم ځواب په نښه کړئ.

الف. اوبه ب. د ډبرو سکاره ج. باد د. لمر

٤. نوي کېدونکې او نه نوي کېدونکې انرژي يو بل سره څه توپير لري؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

که چېرې ستاسې د اوسېدو په سيمه کې د انرژۍ د نوي کېدو وړ سرچينې څخه کار اخېستل کېږي، د هغې په هکله چې توليد شوې انرژي له کومې سرچينې څخه ترلاسه کېږي او څرنګه توليدېږي، معلومات راټول کړئ او خپلو ټولګيوالوته يې ووایاست.

۲، ۳ برېښنا

۲۳- شکل
د سروبي د برېښنا د فابريکې تصوير

په افغانستان کې له برېښنا څخه د کومې موخې لپاره کار اخېستل کېږي؟

له برېښنا څخه د مهمې سرچينې په توګه په ټولو صنعتي او اقتصادي چارو، د ښارونو او کورونو په روښانه کولو او برقي وسايلو کې کار اخېستل کېږي. زموږ په هېواد کې له برېښنا څخه کار اخېستل د شلمې پېړۍ له لومړۍ نيمايي څخه پيل شوی دی او په صنعت او ټولنه کې يې ژور بدلون راوستی دی.

په افغانستان کې لومړی ځل د امير عبدالرحمن خان د سلطنت پرمهال د برېښنا يوې کوچنۍ کارخانې په کار پيل وکړ چې د يوې ډينمو په بڼه وه او يوازې څلوېښت څراغونه يې روښانه کول. دغې ډاينمو په ۱۲۷۲ هـ . ل کال په کار پيل وکړ او د ارګ د روښانه کولو لپاره ورڅخه کار اخېستل کېده.

وروسته په ۱۲۷۵ – ۱۲۷۷ هـ . ل کې يو شمير نورې د برېښنا کوچنۍ دستګاوې چې د برېښنا په انرژۍ يې کار کاوه، يو په بل پسې په کار ولوېدې. په ۱۲۹۰ هـ . ل کې په جلال آباد کې د ۱۹ کيلوواټه په قدرت د برېښنا يو ماشين د برېښنا په واسطه په کار پيل وکړ او وروسته په پغمان کې په ۱۲۹۶ هـ . ل کال کې د ۱۵ کيلوواټه په وړ تيا له برېښنا څخه د برېښنا د توليد يوه کوچنۍ دستګاه په کار واچول شوه.

په افغانستان کې د برېښنا د ترلاسه کولو لپاره د برېښنا له بندونو څخه هم کار اخېستل کېږي. د برېښنا هغه بندونه چې په هېواد کې جوړ شوي دي، له څلوېښتو کالو را په دې خوا يې کوم پرمختګ نه دی کړی نو ځکه د هېواد اوسنۍ اړتيا نه شي پوره کولای.

په اوسني وخت کې چې د ښارونو نفوس ډير زيات شوی دی. برېښنا ته د خلکو ورځ په ورځ زياتېدونکې اړتيا هم ډېره شوې ده. د برېښنا د ماستر پلان له مخې، افغانستان د ۲۴۰۰۰ ميګاواټه برېښنا وړتيا لري،



د سروبي د بريښنا دفابريکې تصوير

۲۴- شکل

چې په هغې کې ۲۳۰۰۰ ميګاواټه يې د اوبو بريښنا او پاتې نوره يې حرارتي بريښنا ده چې د طبيعي ګاز، د ډبرو سکرو او نفتو له سرچينو څخه يې ترلاسه کول په پام کې نيول شوي دي. د هغې توليدول او پرمختګ ډيرې زياتې پانګې ته اړتيا لري. افغانستان د بريښنا د انرژۍ د توليد د چټکوالي سره سره، د نړۍ او ګاونډيو هيوادو پرتله وروسته پاتې دی.

په ۱۹۷۶ م کال کې په نړۍ کې په منځنۍ توګه په يوه ساعت کې د بريښنا د سړي سر توليد اندازه ۱۷۱۴ کيلوواټه وه، په همدې کال کې په افغانستان کې د هرتن لپاره د بريښنا د انرژۍ توليد په يوه ساعت کې ٤۱ کيلوواټه و، چې د نړۍ پرتله ٤۲ ځله کم ګڼل کيږي. زموږ په هيواد کې د اوبو بريښنا انرژي د بريښنا د بندونو په جوړولو سره ترلاسه کيږي چې يو شمير پروژې يې دادي: د نغلو د بريښنا بند، د سروبي د بريښنا بند، د ماهيپر د بريښنا بند، د درونټې د بريښنا بند، د کجکي او جبل السراج د بريښنا بند چې وروسته به پوره خبرې ورباندې وشي.

د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي، هره ډله دې په ورځني ژوندکې د بريښنا د اهميت په هکله خبرې وکړي او د خپلو خبرو پايله دې نورو ته واوروي.

پوښتنې

۱. د بريښنا لومړنی دستګاه د کوم پاچا پرمهال او په کوم ځای کې جوړه شوه؟

۲. له بريښنا څخه په کومو چارو کې کار اخيستل کيږي؟

۳. افغانستان د څومره ميګاواټه اوبو بريښنا ورتيا لري او پاتې د اړتيا وړ بريښنا به په هيواد کې له کومو سرچينو څخه ترلاسه شي؟

٤. د هيواد د نامتو بندونو نومونه واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

ستاسې په ښوونځي او کور کې بريښنا شته که نه؟ که وي، له کومې سرچينې څخه ترلاسه کيږي، د هغې مياشتنی لګښت اوبيه څومره ده، د هغې په اړه معلومات راټول او په بل راتلونکي ساعت کې د هغې په اړه خبرې وکړئ.

دولسم لوست

الف _ د اوبو برېښنا



۲۵- شکل

د نغلو د اوبو د برېښنا د تولید فابریکه

په افغانستان کې د اوبو د برېښنا بندونه پرکومو سیندونو جوړ شوي او زموږ د خلکو پر اقتصادي ژوند باندې کومې اغیزې لري؟

د شلمې پېړۍ له نیمایي را وروسته په صنعت او د بشریت د ژوند په نورو برخو کې برېښنا د انرژۍ د یوې مهمې سرچینې په توګه پېژندل شوې ده او د هغې ترلاسه کول او لګول په چټکۍ پرمخ تللي دي.

د برېښنا د ورځ په ورځ زیاتیدونکي ارزښت له مخې دافغانستان د روانو اوبو سروې ترسره شوې ده او داسې ویل شوي دي چې افغانستان د زیاتو ځوړونو د لرلو له کبله، څه ناڅه پر هریوه سیند باندې د برېښنا د بندونو د جوړولو ډېرښه امکانات لري. په حقیقت کې د افغانستان سیندونه د برېښنا د ترلاسه کولو لپاره تر ټولو اقتصادي سرچینې دي.

په افغانستان کې د هغو لومړنیو سروې ګانو او څېړنو د پایلې له مخې چې د برېښنا د تولید په برخه کې ترسره شوي، داسې ښکاري چې د افغانستان له سیندونو څخه په هر ساعت کې ۲.۵ میلیونه کیلوواټه برېښنا ترلاسه کېدای شي، خو اوس دغه سرچینې ډېرې لږ تر کار لاندې دي. په اوسني وخت کې برېښنا نه یوازې له سیندونو څخه بلکې له حرارتي سرچینو لکه د ډبرو له سکرو، نفتو او ګازو څخه هم ترلاسه کیږي. افغانستان د اوبو د برېښنا د تولید بیلابیلې دستګاوې لري چې په لاندې توګه دي:

۱) د جبل السراج د برېښنا فابریکه

د جبل السراج د برېښنا دستگاه د سالنگ پر سیند باندې جوړه شوې ده، له توربین سره یوځای یې لوړوالی ۳۷ متره دی. هغه اوبه چې په توربین باندې راځي په یوه ثانیه کې لس متره مکعبه دي. د جبل السراج ددستگاه د جوړولو کار په ۱۲۹٤ هـ . ل. کال کې پیل اوپه ۱۲۹۹ هـ . ل. کې بشپړ شو. درې توربینونه لري چې مجموعي ظرفیت یې ۱۵۰۰ کیلوواټه دی. ددغې دستگاه استهلاکي دوره پوره شوې د ه او بیارغاونې ته اړتیا لري، خو بیاهم دوه توربینونه یې کارکوي. د جبل السراج له برېښنا څخه د جبل السراج او چاریکارو د ښارونو په روښانه کولو او د گلبهار د فابریکې په کار اچولو کې کار اخېستل کېږي.

۲-د وردگو د چک د برېښنا بند

د چک د برېښنا بند د جوړولو کار په ۱۳۱٦ هـ.ل کال د غوايي په میاشت کې د ۱۵ میلیونه افغانیو په لگښت سرته ورسید. دا بند ۳۰۰ متره اوږدوالی ۱۳ متره پنډوالی اوپه کښتنی برخه کې ۹ متره جگوالی او د شرشرې جگوالی یې ۲۷ متره دی چې ٤۰۰۰ متره اوږده نهر څخه په گټه اخېستنه ۱۷ متره مکعبه اوبه په ثانیه کی درې توربینونه چې ۳۳۰۰ کیلوواټه توان لری فعالوي. لاس ته راغلې برېښنا د هوايي سیم په وسیله د ۵۵ کیلو مترو په اوږدالی او د ۵۵ ستنو په وسیله کابل ته لیږدول شوی و. باید وویل شي چې د نوموړې دستگاه د برېښنا لاس ته راوړنه نظر د اوبو اندازی ته فرق کوي.

۳) د پلخمري د برېښنا بند

دغه بند په ۱۳۲۰ هـ . ل کال د کندوز پر سیند باندی جوړ شوې چې د برېښنا لوړ ظرفیت یې په یوه ساعت کې ٤۸۰۰ کیلوواټه دی. په ۱۳۳٦ هـ . ل. کې د پلخمري لومړی او دویمه دوه نورې دستگاوې هم په یوه ساعت کې د ۹۰۰۰ کیلو واټه ظرفیت په لرلو سره د پخواني شوروي اتحاد د متخصصینو له خوا جوړې او په ۱۳٤۱ هـ . ل. کې یې په کار پیل وکړ. په اوسني وخت کې د پلخمري د برېښنا د بند توربینونه بیارغول شوي دي او تر گټې اخېستنې لاندې دي. د هغه له برېښنا څخه د بغلان د نساجي په فابریکې، سیلو، د موټرو د ترمیم په فابریکې او د بغلان ښار په روښانه کولو کې کار اخېستل کېږي.

۴) د کجکي د برېښنا بند

د هلمند د ولایت د کجکي په ولسوالی کې د برېښنا د تولید یوه لویه دستگاه ده چې له کندهار ښارڅخه ۱۵۰ کیلومتره شمال لویدیځ کې ده. په دغې ولسوالۍ کې د هیواد د برېښنا تر ټولو لویه دستگاه په پام کې نیول شوې وه چې د برېښنا د تولید ظرفیت یې ۱۲۰۰۰۰ کیلو واټه اټکل شوی و. د جوړولو کار یې په ۱۳۳۰ هـ . ل. کې پیل اوپه ۱۳۳۲ هـ . ل. کې بشپړ شو. په کجکي

کې د برېښنا د تولید اوسنی دستگاه په یوه ساعت کې ۳۳۰۰۰ کیلوواټه برېښنا تولیدولای شي چې د کندهار ښار، هلمند، لشکرگاه ښار او گرشک، سنگین، کجکي او د موسی کلا ولسوالیو او د همدغو سیمویه صنعتي تاسیساتو کې لگول کیږي. له دې کبله چې ډېر کلونه ورڅخه کار اخېستل شوی دی، توربینونه یې استهلاک شوي دي خو په دې وروستیو کې د امریکې د متحده ایالاتو د پرمختیایي ادارې په مرسته بیارغول شوي دي.

۵) د سروبي د اوبو د برېښنا بند

د سروبي د اوبو د برېښنا دستگاه په سروبي کې د کابل د سیند د پاسه، د کابل سیند سره د پنجشیر د سیند د یو ځای کېدو په ۱۵ کیلومتري واټن کې، د سمندر له سطحې څخه د ۱۵۹۶ مترو په لوړوالي کې جوړه شوې ده. دغه دستگاه دوه توربینونه لري چې د هر توربین د برېښنا د تولید اندازه په یوه ساعت کې ۱۱۰۰۰ (د دواړو یې ۲۲۰۰۰) کیلوواټه کیږي. د جوړولو کارېې په ۱۳۳۰ هـ .ل. کال کې پیل اوپه ۱۳۳۶ هـ .ل. کال کې پای ته ورسید. د سروبي د برېښنا دستگاه دوه ښېگڼې لري: لومړی داچې د کابل ښار او صنعتي مرکزونوته نږدې ده او بل داچې د وریښمو د تنگي په برخه کې د کابل پر سیند باندې جوړه شوې ده چې په پوره اندازه اوږدوالی او ځوړلري، چې د دغې ځانگړتیا په لرلو سره په هر څو کیلومتره واټن کې طبیعي ځوړ جوړوي او د وریښمو د تنگي په برخه کې ورڅخه ډېر کار اخېستل کیږي.

د اوسني وخت په پسرلي د سروبي په برخه کې د کابل د سیند دبت په پسرلي کې په یوه ثانیه کې ۷۴ متر مکعبه اوبه دي. سربېره پر دې دغه سیند په کال کې اووه میاشتې پوره اندازه اوبه لري، خو په پنځو نورو میاشتو یعنې له تلې څخه ترکب میاشتې پورې د کابل د سیند اوبه کمیږي. له همدې امله د سروبي ددغې دستگاه اوسنی وړتیا په یوه ساعت کې ۲۲۰۰۰ کیلوواټه ده. د سروبي د اوبو د برېښنا د توربین د بیارغونې قرار داد له جرمني زیمنس کمپنۍ سره شوی کارېې بشپړ او تر استفادې لاندې دی. د سروبي له برېښنا څخه د کابل ښار د روښانه کولو، د گلبهار د فابریکې او د مرکز د یو شمیر نورو صنعتي مؤسسو د فعالیت په خاطر کار اخېستل کیږي.

۶) د ماهیپر د برېښنا فابریکه

نوموړې فابریکه د کابل ښار ختیځ ته په ۴۰ کیلومتره واټن کې د دریو توربینونو په لرلو سره د کابل پر سیند جوړه شوې چې هر توربین یې په یوه ساعت کې ۲۲۰۰۰ (ټول ۶۶۰۰۰) کیلوواټه د برېښنا تولید لري. د جوړولو کارېې په ۱۳۳۱ هـ . کال. پیل او په ۱۳۴۵ هـ . کال. کې بشپړ شو او گټې اخېستل ورڅخه پیل شول. دا یوه موسمي فابریکه ده. د اوبو د زیاتوالي پرمهال فعاله، خو د اوبو د کمښت پرمهال ولاړه وي. دغه فابریکه د اوبو راگرځولو بند لري خو د اوبو زېرمه نه لري، کله چې په اوړي کې دسیند اوبه لږې شي، دغه فابریکه پرچاوېږي، خو په ژمي او پسرلي کې بیرته په کارباندې

پیل کوي. د دغې فابریکې د بیارغاوونې قرار داد د جرمني د زیمنس کمپنۍ سره لاسلیک شوی او اوس تر ګټې اخیستنې لاندې ده.
له بریښنا څخه یې د کابل په ښار کې استفاده کیږي.

۷) د درونټې د بریښنا فابریکه

د ننګرهار په ولایت کې ددغې فابریکې د جوړولو کار په ۱۳۳۹ هـ .ل. کال پیل او په ۱۳۴۳ هـ .ل. کې بشپړ او ګټه اخیستنه یې پیل شوه. دغه فابریکه درې توربینونه لري چې د بریښنا د تولید ټول ظرفیت یې په یوه ساعت کې ۱۲۰۰۰ کیلوواټه دی. اوس یې د استهلاک دوره بشپړه شوې، خو بیاهم د اقتصادي موجود حالت له کبله کار ورڅخه اخیستل کیږي. تخنیکي وضعیت یې د اضافي پرزو د نشتوالي له کبله د اندیښنې وړدی، خو د فابریکې عادي سمون کله کله ترسره کیږي.
د جلال آباد په ښارکې له لس زرو کورونو څخه زیات او ګڼ شمیر کورنۍ ترې کار اخلي. په اوسني وخت کې چې د جلال اباد د ښار نفوس ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو دی، موجوده بریښنا یوازې په سلوکې ۳۰ وګړو او صنایعو ته بسیا ده.
خو پاتې وګړي د سانتي ګراد ۴۵-۵۰ درجو تودوخه کې د بریښنا له رڼا څخه بې برخې دي.
ددغې فابریکې له تولید شوې بریښنا څخه د جلال آباد ښار د روښانه کولو، صنعتي موسسو او د ۳۲۵۰۰ جریبه ځمکې د اوبو د پمپ کولو لپاره کار اخیستل کیږي. کیدای شي د درونټې د بریښنا د فابریکې بیارغونه د متحده ایالاتو د پرمختیایي اداري له وړیا مرستو څخه پیل شي، څیړنه وربانديې روانه ده.

۸) د نغلو د بریښنا د بند فابریکه

د نغلو د اوبو د بریښنا د تولید فابریکه د افغانستان د بریښنا د تولید تر ټولو لویه فابریکه ده چې د کابل ښار ختیځ ته د ۷۰ کیلومترو په واټن کې جوړه شوې او څلور توربینونه لري چې ټوله ورتیا یې په یوه ساعت کې ۱۰۰۰۰۰ کیلوواټه کیږي.
د نوموړي بند د جوړولو کار په ۱۳۳۹ هـ . ل. کال پیل او په ۱۳۴۶ هـ . ل. کال بشپړ او د ګټې اخیستو وړ وګرځید.
د دغې پروژې بنسټي موخه له یوې خوا د سروبي د اوسنیو او نورو وروستیو فابریکو لپاره د اړتیا وړ اوبو زیرمه کول او ویشل اوله بلې خوا د کابل د حوزې لپاره د بریښنا تولید و. د نغلو د اوبو اصلي سرچینه د کابل او پنجشیر سیندونه دي. د زیاتو کلونو په تیریدو سره د نغلو د بریښنا د بند د فابریکې وسایل زاړه شوي دي، د هغې د بیا رغونې د کار پرمخ بیول له یوې روسی کمپنۍ سره لاسلیک شوي او پرمخ روان دی.

د ازبکستان د برېښنا شبکه

د ازبکستان د برېښنا د پروژې غځول په ۱۳۸۶ هـ.ش. کال کې پیل، وروسته کابل ښار او ځینو نورو ولایتونوته وشول، فعالیتونه یې په لاندې ډول دي.

الف: ۱- له ازبکستان څخه تر حیرتانو پورې د ۵۳ کیلو مترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلو واتو ډ بل سرکت مزي غځول او د برېښنا لیږدول.

۲- د مزار شریف له نایب آباد څخه ۲۲۰ کیلو واته ډ بل سرکت مزي د ۲۳ کیلو مترو په اوږدوالي غځول او د برېښنا لیږدول.

۳- له نایب أباد څخه تر پلخمري پورې د ۱۶٤ کیلو مترو په اوږدوالي ۲۲۰ کیلو واټه برېښنا مزي غځول او دبریښنا لیږدول چې په ۱۳۸۷ هـ.ش کال کې بشپړ شول او ۳۰۰ میګا واټه برېښنا لري.

ب: ۱- له پلخمري څخه کابل ته د ۲۰۲ کیلو مترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلو واټو د ډبل سرکت د برېښنا د مزي غځول او د برېښنا لیږدول، د چمتلې دښته کې د ۳۲۰ میګا واټه امپیر په ظرفیت د ۲۲۰/۱۱۰ کیلو واټو سب ستیشن دوداني جوړیدل.

له حیرتانو څخه تر کابله پورې د نوموړي مزي په غځولو کې په (۱۳۸۳) هـ . ش. کال کې اوسپنیزې کتاره لرونکې پایې (ستنې) کارول شوي دي.

په سالنګونو کې هم ځینې ستنې ۳۸۰۰ متره د بحر له سطحې لوړې درول شوي دي. چې تر یوه بریده پورې په کابل ښارکې د خلکو اړتیا بشپړوي. مجموعي ظرفیت یې په یوه ساعت کې یومیلیون (۱۰۰۰۰۰۰) کیلو واټه کیږي.

لاندینی جدول د ډیزلي، آبي او حرارتي برېښنا د تولید او تورید اندازه ښیي (په یوه ساعت کې ۱۰۰۰ کیلوواټه)

کلونه	د اوبو برېښنا	حرارتي برېښنا	ډیزلي برېښنا	له بهر څخه واردیدونکې برېښنا
۱۳۸۲	٦۳۱،۷	۱۹٤،۰	۰،۰۱	—
۱۳۸۳	٥٦٤،٥	۲۱٥،۱	۳،۱	—
۱۳۸٤	٦۷۱،۳	۲۳٥،۱	۱،۰	۱۳٦،٥
۱۳۸٥	٦٤٥،۹	۲٦۷،۳	٤،۰	٥۹٤،۱
۱۳۸٦	٦۸۳،۸	۲٦٦،٥	٥۷،۰	۷۸٤،۷

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي: یوه ډله به د نغلو او سروبي او بله ډله به د درونټې او ماهیپر او دریمه ډله به د جبل السراج او پلخمري د برېښنا د بند د ارزښت په هکله خبرې وکړي او پایله به یې خپلو نورو ټولګیوالوته ووايي.

پوښتنې

۱. د افغانستان تر ټولو پخوانۍ د برېښنا د تولید فابریکه کومه یوه ده او کلنی ظرفیت یې څومره دی؟

۲. د سروبي او ماهیپر په فابریکه کې له تولید شوې برېښنا څخه چیرته کار اخېستل کیږي؟

۳. د نغلو د پروژې اساسي موخې او هدفونه بیان کړئ.

٤. د افغانستان له سیندونو څخه د تر لاسه کیدونکې برېښنا اندازه څومره اټکل شوې ده په لاندنیو څلورو ځوابونو کې یې سم ځواب په نښه کړئ.

۵. د ازبکستان د برېښنا مزي په څه وخت بشپړ او څومره میګاواټه ظرفیت به ولري؟

الف. په یوه ساعت کې ۱،۸ میلیون کیلوواټه

ب. په یوه ساعت کې ۲،۵ میلیون کیلوواټه

ج. په یوه ساعت کې ۳،۵ میلیون کیلوواټه

د. په یوه ساعت کې ۱،۵ میلیون کیلوواټه

له ټولګي څخه بهر فعالیت

لاندنی جدول په ترتیب سره په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

د سابقې له مخې	د ظرفیت له مخې
د جبل السراج د برېښنا فابریکه	نغلو

ب ـ حرارتي بریښنا

۲٦- شکل

د کابل په ښارکې د حرارتي بریښنا د فابریکې یو تصویر

ایا په افغانستان کې له حرارتي بریښنا څخه کار اخیستل کیږي؟

حرارتي بریښنا چې معمولا د ډبرو سکرو، نفتو او ګازونو له سوځولو ترلاسه کیږي، په افغانستان کې د بریښنا د تولید ښه سرچینه ده چې د اوبو له بریښنا څخه وروسته په دویمه درجه کې د استفادې وړ ده.

د ډیزلي بریښنا لومړنی فابریکه په ۱۳٥۱ هـ . ل کال په کابل کې جوړه شوه، یو کال وروسته بیا یوه بله کوچنی فابریکه په یوه ساعت کې د ۳۰۰ کیلو واټو په ظرفیت د کندهار د وړی اوبدلو د فابریکې لپاره جوړه شوه. همدارنګه په ۱۳۳۱ هـ . ل کال کې د ډیزلي بریښنا د تولید دوه ماشینونه د ٥۰۰ کیلوواټو په ظرفیت د هرات په ښارکې په کار اچول شوي وو. د انرژی او اوبو د وزارت د ۱۳۸٥هـ . ل کال د راپور له مخې د افغانستان د حرارتي بریښنا د ټولو فابریکو ظرفیت په یوه ساعت کې ٤۲.۷ زره کیلوواټو ته رسیده چې د ټول هیواد د بریښنا فابریکو په سلوکې ۱۲.٥ یې جوړاوه. په اوسني وخت کې کوچنی ډیزلي فابریکې په ځینو ښارونو او ولایتونو لکه په مزارشریف، شبرغان، تخار، هرات، غزني او کابل کې د بریښنا مهمې وسیلې شمیرل کیږي. چې د سون توکي یې تیل او په ځینو ځایونو کې ګاز دي دلته به دافغانستان د حرارتي بریښنا په فابریکو باندې خبرې وشي.

۱ـ د مزارشریف د حرارتي بریښنا فابریکه

د هیواد حرارتي بریښنا تر ټولو لویه فابریکه ده چې د مزارشریف د ښار د لویدیځ په ۲۰ کیلومتري واټن کې موقعیت لري او په هغې کې هغه ګاز سوځول کیږي چې د جوزجان څخه په نل لیکه کې رالیږدول کیږي. دغه فابریکه په ۱۳٤۳ هـ . ل کال کې د یوه روسي انستیتوت له خوا د هغه وخت د کانو او

صنايعو وزارت په غوښتنه جوړه شوه.
د نوموړې دستگاه ظرفيت په يوه ساعت کې ۳۶ زره کيلو واټه دی چې د طبيعي گازو درې توربينونه لري او تر ۴۸ زره کيلوواټو پورې د زياتولو وړتيا هم لري. ددغې فابريکې ۲۴ زره کيلوواټه بريښنا د کيمياوي سرې د فابريکې لپاره او ۱۲۰۰۰ کيلوواټه نوره بريښنا يې د مزارشريف د ښار د روښانه کولو لپاره په پام کې نيول شوې وه.

۲ـ د هرات او کندهار د ښارونو د حرارتي بريښنا فابريکې

د کندهار په ښار کې د ۳۰۰۰ کيلوواټو په ظرفيت د حرارتي بريښنا فابريکې په کار پيل کړی و چې اوس يې ظرفيت ۱۲۰۰۰ کيلوواټه دی او په راتلونکې کې به نورهم لوړ شي. د هرات د بريښنا حرارتي دستگاه په يوه ساعت کې ۱۲۰۰۰ کيلوواټه ظرفيت لري چې له ډيزلو پرته په هغې کې د ډبروسکاره هم سوځول کيږي.

۳ـ د کابل د بريښنا حرارتي فابريکه

دغه فابريکه د کابل د ښار په شمالي برخه کې د خيرخانې مينې د غاښي ترڅنگ جوړه شوې ده، له دې امله چې د کابل په حوزه کې د اوبو کمښت تر سترگو کيده نو د دغې فابريکې د جوړولو کار په ۱۳۵۵هـ . ل. کال پيل او په ۱۳۵۷هـ . ل کال کې بشپړ شو. نوموړې فابريکه د ٤٥ زرو کيلوواټو په ظرفيت سره د نړيوال بانک په مالي مرسته بيا ورغول شوه چې د کابل ښار په سلوکې ٤٠ بريښنا بشپړوي، خو له ازبکستان څخه د واردې شوې بريښنا په راتگ سره دغه فابريکه پرچاوه شوې ده چې دوه توربينونه لري او د سون توکي يې ډيزل دي.
د کابل د ښار ختيځ ته د هودخيلو په سيمه کې د بريښنا يوه بله حرارتي فابريکه په يوه ساعت کې د ٤٣،٦ زره کيلوواټو په ظرفيت جوړه شوې وه، خو د کورنيو جگړو له کبله ويجاړه شوې وه، د هغې د سمون اوبيارغونې قرارداد د سويزرلنډ د هيواد له Alston کمپنۍ سره شوی چې د دريم او څلورم توربين جوړول يې په پام کې دي.
بايد وويل شي چې د حرارتي بريښنا يو شمير نورې پروژې هم زموږ په هيواد کې په نظر کې نيول شوي چې په دې لړکې د شبرغان د توربين دگازونو د توليد پروژه يادولای شو.
دغه پروژه به د امريکې د متحده ايالاتو د پرمختيايي ادارې په مالي مرسته د ۱۰۰ـ۱۵۰ ميگاواټو په ظرفيت په راتلونکې کې جوړه شي.

مرستندوی اضافي معلومات

(۳) جدول: په بیلابیلو حوزو کې د برېښنا د تولید د ظرفیت ویشنه

گڼه	حوزه	ناصبه ظرفیت (په زروکیلوواټو)	سلنه
۱	کابل	۲۴۹,۲	۶۲,۹
۲	ننگرهار	۱۳,۹۶	۳,۵
۳	پلخمری ـ بغلان او کندوز	۲۲,۶۷	۵,۹
۴	مزارشریف ـ بلخ	۴۲,۸۲	۱۰,۸
۵	شبرغان	۲,۰۸	۰,۵
۶	هرات	۵,۳۹	۱,۳
۷	کندهار ـ هلمند	۴۳,۷۰	۱۱
۸	غزنی	۱,۰۴	۰,۳
۹	نورې حوزې	۱۴,۹	۳,۸
	ټول	۳۹۵,۹	۱۰۰

سرچینې: د اوبو او انرژۍ د وزارت راپور، د ۱۳۸۵ کال د تلې میاشت، ۳۷ مخ

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، هره ډله دې د حرارتي برېښنا په اهمیت او د یوې فابریکې په هکله خبرې وکړي او دخپلو خبرو پایلې دې نوروته ووایي.

پوښتنې

۱ . د افغانستان د حرارتي برېښنا تر ټولو لویه فابریکه چیرې ده او له برېښنا څخه یې په کومو ځایو کې کار اخېستل کیږي؟

۲ . په اوسني وخت کې د افغانستان د ډیزلي برېښنا د کوچنیو فابریکو نومونه واخلئ.

۳ . دکابل د حرارتي برېښنا فعاله فابریکه چیرې او په کوم ظرفیت فعالیت لري او د کابل د برېښنا ټوله څومره برخه بشپړوي.

٤ . دکابل د ختیځ د حرارتي برېښنا په هکله خپل معلومات ووایاست.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

ولې د اوبو د برېښنا پرځای له حرارتي برېښنا څخه کار اخلي او د اوبو د برېښنا او د حرارتي برېښنا ښیګڼې له یو بل سره پرتله کړئ خپل معلومات په راتلونکي ساعت کې ټولګیوالو ته ووایاست.

۲، ۴ د ډبرو سکاره او زمونږ په هیواد کې دهغو کانونه

۲۷- شکل



د افغانستان د کاني سرچينو (منابعو) نقشه وگورئ.

د کانې منابعو (سرچينو) يوتصوير

د ډبرو سکرو زيرمې د افغانستان په کومو سيمو کې دي؟

د ډبرو سکاره د انرژۍ د توليد يوه مهمه سرچينه ده په تيره بيا په اوسني وخت کې چې د نفتو اوگازو بيې مخ په لوړېدو دي، ډبرو سکاره د انرژۍ د توليدوونکې سرچينې په توگه يوخه ارزانه دي، نوځکه يې اهميت زيات دی. د ډبرو سکرو را ايستل له ډير پخوا څخه په افغانستان کې معمول و.

د افغانستان د ډبرو سکرو د زيرمو په هکله څېړنې لومړی ځل په ۱۳۲۰ هـ . ل کال د هندي جيولوجيستانو د هيئات له خوا د کهمرد، اشپشتې، صوف درې او تاله او برفک په سيمو کې وشوې. له هماغه وخت څخه وروسته د ډبرو سکرو کارول ورو ورو پيل شول خو له دويمې نړيوالې جگړې څخه وروسته تري کار اخيستل ډير پراخه شول او کالنی توليد يې له ۱۲۰ څخه تر ۱٦۰ زرو ټنو پورې لوړ شو.

پرته له دې چې د هيواد په بيلابيلو سيموکې د ډبرو سکرو کوچنی زيرمې شته، په شمال کې د ډبرو سکرو ډيرې لويې زيرمې دي چې پراخه سيمه يې نيولې ده. دغه سيمه له تخار څخه تر هرات پورې غځيدلې چې ۳۵ زره کيلومتره مربع کيږی. د افغانستان د ډبرو سکرو هغه اندازه چې په اشپشته، کرکر، بنگې (د خان اباد د ښار د جنوب په لس ميلي کې)، کرخ، سبزکو او صوف دره کې تثبيت شوي دي، ۲۰۰ ميليونو ټنوته رسيږي. د افغانستان د ډبرو سکاره ډير غوره کيفيت لري او ډير کار ورڅخه اخيستل کيدای شي. زمونږ په هيواد کې له کانونو څخه د ډبرو سکرو د را ايستلو کار د سيمو

د غرني حالت او د لارو د نشتوالي له امله يوځه ستونزمن او په لومړيو پړاوونو کې دي، نو ځکه يې را ايستل او بيه ګرانه پريوځي، خو سره له هغه هم د ډبرو سکاره د سون توکو په توګه لوړ ارزښت لري.
د افغانستان د ډبرو سکرو توليدات زياتره د کرکر او اشپشتي له کانونو څخه دي چې د ټول هيواد په سلو کې ۹۰ برخه جوړوي. د توليد شوو ډبرو سکرو څخه په سلو کې ۷۷ په صنعتي کارځايونو کې د سون او پاتې نور يې د کورونو د تودولو لپاره په کاريږي.
په افغانستان کې د ډبرو سکرو بيلابيل ډولونه شته چې ځينې سيمې يې په لاندې توګه ښودل کيږي:

۲۸- شکل

د ډبرو د سکرو د کان يو انځور

الف ـ د صوف درې د دبرو سکرو کان

د صوف درې کان د لرغونتوب او خپلو ځانګړتياوو له مخې د افغانستان د نورو سيمو پرتله لومړيتوب لري او په سمنګانو ولايت کې د ډبرو سکرو يو ډېر لوی کان ګڼل کيږي، زيرمې يې ۷٤ ميليونو ټنو ته رسيږي. ددغې سيمې د ډبرو سکرو کان لوړ جنسيت لري، تودوخيزه انرژي يې ډيره او د کاربن سلنه يې لوړه ده.
له دغو کانونو څخه لکه څنګه چې په کار ده، ګټه نه ده اخيستل شوې، لاملونه يې دادي چې يو خو له صنعتي مرکزونو څخه لرې دي او بل دا چې د ليږدولو وسايل محدود او امکانات په واک کې نشته دي.
ددغه کان يوه اندازه سکاره کابل ته ليږدول کيږي او پاتې نور يې د بلخ ولايت ته ځي.

ب ـ د آشپشتې د ډبرو سکروکان

دغه کان د پلخمري د صنعتي ښار جنوب ته په ۱۱۰ کیلومتره واټن کې د بغلان ولایت د سیغان په دره کې واقع دی. له دو آب او میخ زرین څخه ۲۰ کیلومتره واټن لري. ددغه کان د ډبرو سکاره د کمیت او کیفیت له پلوه ډیر ارزښت نه لري، داځکه چې د طبیعي جوړښت له مخې پیچلي او د هغو د را ایستلو په برخه کې ستونزې شته. ددغه کان د سکرو زیرمې د ۵۰۰ زرو ټنو په شاوخوا کې اټکل شوې دي، خوبیاهم له دې امله چې دغه کان د ښکاري درې د پخواني سړک ترڅنګ و، نو ځکه له ډیرې مودې راهیسې کار ورڅخه اخېستل کیږي. ددغه کان د ډبرو له سکرو څخه د دولتي ادارو، روغتونونو او کابل ښار لپاره کار اخېستل کیږي.

ج ـ د کرکر د ډبرو سکرو کان

د کرکرو کان د پلخمري ښار څخه لس کیلومتره لیرې جنوب ختیځ ته د کرکر له غره سره پروت دی. ددغه کان د ډبرو سکرو ټوله اندازه چې هر پوړ یې دوه یا درې متره پریړوالی لري ۱۵ میلیونه ټنه ښودل شوې ده. د سکرو جنسیت یې ښه او د کار اخېستو وړ دی. دغه کان په ۱۳۸۵ هـ .ل کال کې د غوري سمنټو له فابریکو سره یوځای خصوصي سکتور ته ورکړل شو چې له دغو سکرو څخه د غوري سمنټو د تولید لپاره کار واخېستل شي.

په ۱۳۸۷ هـ . ل کال کې د دغه کان له ۳۸۰۰ ټنو څخه زیات سکاره ایستل شوي دي. نوموړی کان د پلخمري صنعتي مرکزونوته نژدې دی او له بلې خوا د کابل ـ کندوز د لویې لارې په خواکې دی، نو ځکه یې اهمیت زیات دی او د هرې ورځې تولیدات یې په منځنۍ توګه له ۳۰۰ څخه تر ۴۰۰ ټنو پورې کیږي.

له دغه کان څخه ایستل شوي سکاره د پلخمري د سمنټو جوړولو په فابریکه، بټیو او په کابل کې کارول کیږي.

د ـ د هرات د سبزک د مسجد چوبي د ډبرو سکرو کان

دغه کان د هرات ولایت شمال ختیځ کې د ۱۱۰ کیلومترو په واټن د سبزک غاښي څخه لاندې د کرخ دسیند پورته خواته موقعیت لري، اکتشافي او ساختماني چارې یې د چکي متخصصینو په مرسته ترسره شوي، زیرمې یې ۹،۵ میلیونه ټنه ښودل شوي دي. دغه کان په ۱۳۸۶هـ . ل کې خصوصي سکتور ته وسپارل شو، کلنی تولید یې ۴۰ زره ټنه او کلني عواید یې ۲۰ میلیونه افغانۍ دي. همدا اوس فعال او تر ګټې اخېستنې لاندې دي. د دغې سیمې د ډبرو سکرو جنسیت غوره او لوړه تودوخیزه (حرارتي) انرژي لري. ددغه کان د ډبرو له سکرو څخه د هرات ښاروالي او فرقه کار اخلي.

همدا اوس د افغانستان د کانونو د وزارت په پاملرنې سره دسبزک د چوبي مسجد د ډبرو سکرو له کان څخه دیوې خصوصي کمپنۍ په مرسته کار اخېستل کیږي چې قرار داد یې د لسو کالونو لپاره اعتبار لري.

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي، یوه ډله دې د هغو څېړنو او مطالعو په هکله خبرې وکړي چې هندي جیولوجیستانو د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د ډبرو سکرو په هکله ترسره کړې دي.
او دویمه ډله دې د ډبرو سکرو د موجوده زېرمو په هکله خبرې وکړي او پایله دې یې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱. د افغانستان د ډبرو سکرو د تثبیت شوو سیمو نومونه واخلئ.
۲. د اشپشتې د ډبرو سکرو د ځانګړتیاوو په هکله معلومات ورکړئ.
۳. د کرکر د ډبرو سکرو د کان موقعیت له جغرافیایي پلوه څه اهمیت لري؟
٤. په افغانستان کې د ډبرو سکرو هغه تولیدات چې لوړه سلنه لري له کومو سیمو څخه ترلاسه کیږي سم ځواب په نښه کړئ:
الف. کرکر او اشپشته ب. د هرات سبزک ج. د صوف درې کان د. د هرات د کرخ کان

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زموږ په هیواد کې د ډبرو سکرو د را ایستلو په برخه کې د ستونزو په اړه او داچې دغه ستونزې او خنډونه په څه ډول باید له منځه یووړل شي، یوه مقاله ولیکئ او نورو ته یې واوروئ.

۲، ۵ نفت او ګاز

۲۹- شکل

د یتیم تاق او جرقدوق د کانونو د ګازي څاګانو د ازمېښت او چمتو کولو پرانېستنه

له نفتو او ګازو څخه څه کار اخېستل کېږي؟

نفت او ګازد تو دو خې او انرژۍ د تولید او سون توکي دي. زموږ د هیواد په بیلابیلو سیموکې یې زیرمې شته چې په لاندې توګه تر بحث لاندې نیول کېږي:

الف) نفت

نفت د سوځیدو وړ مایع ده چې تر ۱۸۰۰ مترو پورې د ځمکې په ژورو برخوکې موندل کېږي، ځینې وختونه د ځمکې لاندې فشار او تو دو خې له امله پورته خواته را ځي او د ځمکې مخ ته را رسیږي. په میلیونونو کاله مخکې د ژوندیو ژویو او عضوي توکو پاتې شونې چې په یوه سیمه کې پراته وو، ورو ورو د کلونو په تیریدو سره تر خاورو او رسوبي پوړونو لاندې راغلي، چې د فشار او تو دو خې له امله یې د وخت په تیریدو سره بڼه بدله شوې او نفت ورڅخه جوړ شوي دي. د نفتو د را ایستلو لپاره ژورې څاګانې کیندل کېږي او ډیرې پریږې نل لیکي د نفتو څاګانو ته ورننه باسي، په دې توګه خام نفت پورته خواته را وځي یا د پمپ په واسطه را ایستل کېږي. خام نفت تور رنګ لري، خو وروسته تر چاڼولو څخه یې په چنځای کې رنګ بنفش شي او اسانه سوځي.

زموږ د هیواد په ډیرو سیموکې د نفتو زیرمې شته چې شمال، لویدیځ او جنوب لویدیځ برخې یې نیولې دي او مهم ولایتونه یې هرات، شبرغان، قلعه نو، میمنه، کندوز، تالقان، مزارشریف او

نوردي. همدارنګه د هلمند په وادي او په کټواز کې هم د نفتو د زیرمو اټکل شوی دی.
نفت په ډیرو ځایونو کې کارول کیږي. دکوروونو په روښانه کولو، د حمل ونقل په وسایلو، په صنعتي ماشینونو، کیمیاوي صنایعو اوګڼ شمیرنورو مرکبونو لکه مصنوعي ربړ جوړولواو نوروکې ورڅخه استفاده کیږي.
د هغو له فرعي مشتقاتو څخه د پلاستیک په جوړولو د عطرونو، رنګونو او ان دا چې د ځینو خوراکي توکو لکه مارګرین غوړیو په جوړولو کې کار ترېنه اخېستل کیږي.

ب) ګاز

دګازونو را منځته کیدل هم لکه د نفتو په شان د ژوندیو ژویو د پاتې شونو څخه د عضوي موادو د ترسب او د تودوخې او فشار له امله او هغوته د هوا د نه رسیدلو له امله دي، چې بڼې یې بدلون موندلی او په ګاز بدل شوي دي.
ګاز د افغانستان یوه ډیره ارزښتمنه کاني سر چینه ده. دهغو لویې زیر مې هم دهیواد دننه د لګښت لپاره او هم بهر ته د صادرولو لپاره لوړ ارزښت لري. په داسې حال کې چې د هیواد په بیلابیلو سیموکې د ګازونو د پیدا کیدو امکانات شته، په اوسني وخت کې یې لویې زیرمې په خواجه ګوګردک، یتیم تاق، خواجه بولان او جرقدوق کې موندل شوي دي او همدا اوس ترګټې اخیستنې لاندې دي چې دلته به یې څو حوزې په لنډ ډول له نظره تیرې کړو:

۱. د خواجه ګوګردک د ګازو کان

دغه کان د شبرغان د ښار شمال لویدیځ ته د ۲۳ کیلو متروپه واټن پروت دی، د کیندل شوو څاګانو شمیرې ۵۲ دی. ټوله زیرمه یې ۴۶،۸ میلیارده مکعب متره ګاز اټکل شوی چې تر اوسه پورې یې ۴۴ میلیارده مکعب متره را ایستل شوی دی. همدارنګه په دغه سیمه کې ۱۰ میلیارده مکعب متره تریو (سلفر لرونکی) ګاز هم پیژندل شوی دی.

۲. د یتیم تاق د ګازو کان

دغه کان د شبرغان له ښار څخه ۱۸ کیلو متره لرې ختیځ ته پروت دی. دهغه تثبیت شوې زیرمې ۲۰،۸ میلیارده مکعب متره ښودل شوې دي.
په ۱۳۴۱هـ ل کال کې یې په څلورمه څاه کې اور ولګید چې د برمه کولو په حال کې وه. د دریوکلونو سوځیدلو په ترځ کې یې میلیونو نه مکعب متره ګاز و سوځید اوله لاسه ووت.

۳. د جرقدوق د ګازو کان

دغه کان د شبرغان له ښار څخه ۱۵ کیلو متره لیرې جنوب لویدیځ کې پروت دی، ۳۳ څاګانې یې ۲۲۰۰ متره په منځنې ژوروالي کیندل شوي دي، ګاز یې تریو دی، ټوله زیرمه یې ۲۶ میلیارده مکعب متره ښودل شوې چې تر اوسه پورې یې ۱۵،۳۶۲ میلیارده مکعب متره را ایستل شوې ده.

۴. د خواجه بولان د ګازو کان

د شبرغان د ښار په ۳۰ کیلومتره ختیځ کې دی، د برمه کولو چارې یې په ۱۳۴۲هـ کې پیل شوي دي، تر یوګاز لري او زیرمې یې ۲،۵ میلیارده مکعب متره دي.
په پورتنیو سیموکې یې د ګازونو ټولې زیرمې ۱۲۰ میلیارده مکعب متره تثبیت شوي، چې له هغو څخه یې ۴۰ میلیارده مکعب متره خوږ ګاز او پاتې نور یې تریو یا سلفر لرونکی ګاز دی. د ګازو د صادرو لو لپاره د پخواني شوروي اتحاد تر پولو پورې د ۳۲ انچو په قطر اود ۹۷,۵ کیلو مترو په اوږدوالي یوه نل لیکه جوړه شوې وه. یوه بله نل لیکه د شبرغان له ښار څخه د مزار شریف د سرې او بریښنا تر فابریکې پورې ایستل شوې وه چې ۵۵ کیلومتره اوږ دوالی او ۱۲ انچه قطر یې درلود، دلیږ دولو وړتیا یې په یوه کال کې ۵۰۰ میلیونه مکعب متره وه.
مزارشریف ته یې دلیږ دولو موخه د مزارشریف دسرې او بریښنا له فابریکې څخه کار اخېستل وه چې په یوه کال کې یې ۱۰۵ زره ټنه یوریا سره تولیدوله او همدارنګه د مزارشریف د بریښنا د فابریکې په کار اچول و چې په یوه ساعت کې یې ۳۶ زره کیلو واټه بریښنا تولیدوله. داهم باید وویل شي چې په ۱۳۵۴ هـ ل. کال په افغانستان کې د درې میلیاردو مکعب مترو شاوخوا ګاز تولید شوی و چې له هغه څخه ۲۸۵۰ میلیونه مکعب متره یې بهر ته صادر شوی او ۱۵۰ میلیون مکعب متره یې د هیواد د ننه لګول شوی و. په ځینو کلونو کې یې د ګاز له صادرولو څخه د هیواد په سلوکې ۴۰ د صادراتو ټول ارزښت تر لاسه کیده چې د افغانستان دتادیاتو د بیلانس په برخه کې یې پوره اهمیت درلود، همدارنګه په پام کې وه چې د سلفرو د جلا کولو په پروژه کې د جرقدوق په سیمه کې د سلفر لرونکي ګاز له ۲۶ میلیارده مکعب مترو څخه هم استفاده وشي. له طبیعي ګاز څخه په ډیرو ځایونو کې کار اخیستل کیږي، له دې پرته چې په پخلي او د کورونو په تودولو کې کار ورکوي، د یوشمیر کیمیایي مرکبونو په جوړولو کې هم ګټور دی او د برېښنا د انرژي د تولید لپاره هم یوه ډیره ښه سرچینه ده.

(٤) جدول: په بیلابیلو کلونو کې د نفتو، گاز او د ډبرو سکرو د ایستلو اندازې

کلونه	نفت(په ټن)	گاز(په مکعب مترو)	د ډبرو سکاره(په ټنو)
۱۳۸۲	۸۵۰	۲۴۲۶۲۰	۳۵۱۰۰
۱۳۸۳	۱۴۶۹۰	۱۱۹۱۲۱	۳۳۷۳۰
۱۳۸۴	—	۱۷۲۳۳۷	۳۳۱۱۰
۱۳۸۵	—	۱۷۱۹۲۵	۳۴۹۲۰
۱۳۸۶	—	۱۶۱۴۴۰	۲۴۲۷۰۰

دټولگي دننه فعالیت

زده کوونکي دې دوه ډلې شي، لومړۍ ډله دې د افغانستان د نفتو د زیر مو او دویمه ډله دې د طبیعي گاز په هکله خبرې وکړي او د خپلو خبرو پایله به نوروته ووایي.

پوښتنې

۱. نفت څه دي؟
۲. د گاز د پیداکیدو دسرچینو په هکله معلومات ورکړئ.
۳. نفت چیرته په کاریږي؟
٤. د افغانستان د گاز د مهمو حوزو نوم واخلئ.
۵. د نفتو زیرمې د افغانستان په کومو برخوکې تثبیت شوي دي؟
٦. په افغانستان کې د طبیعي گاز عمومي زیرمې په څومره اندازه تثبیت شوي دي؟
۷. سم ځواب په نښه کړئ:

الف) ۱۳۵ میلیارده مکعب متره   ب) ۱۲۰ میلیارده مکعب متره

ج) ۱۱۰ میلیارده مکعب متره   د) ۱۸۰ میلیارده مکعب متره.

له ټولگي څخه بهر فعالیت

د افغانستان د کاني سرچینو د نقشې له مخې یوه نقشه رسم کړئ او په هغې کې د گاز او نفتو سیمې په ځانگړو نښو سره وښیئ او په راتلونکي ساعت کې یې خپلو ټولگیوالوته وړاندې کړئ.

الف) د هیواد نفت لرونکې حوزې



۳۰- شکل

د جوزجان ولایت د نفت او ګاز دچاڼولو د فابریکې یو انځور

دنفتو زیرمې زموږ د هیوا په کومو برخوکې شته دي؟

په افغانستان کې د نفتو د زیر مو د تثبیت په هکله څیړنې په کمه اندازه په ۱۳۱٤ هـ ل. د افغاني او بهرنیو جیولوژیستانو له خوا د هیواد په بیلابیلو سیمو لکه د هیواد په شمال، لویدیځ، جنوب لویدیځ او جنوبي کې پیل شوې. د لومړي ځل لپاره په ۱۳۱۵ هـ ل. کال یوې امریکایي کمپنۍ د افغانستان په شمال کې نفت لرونکې شیل طبقې (د ختېو او شګو له کیناستو څخه جوړېږي) وموندلې او وروسته بیا د هغو لازیاتې زیرمې په کټواز او د هلمند په وادي او د افغانستان په سهیل (جنوب) کې هم وموندل شوې. په ۱۳۳۳هـ ل. کال کې یوې سویډنې کمپنۍ د نفتو د پلټنې چارې په منظمه توګه د سرپل په ولایت کې پیل او دپام وړ بریالیتوبونه یې ترلاسه کړل، خوله ۱۳۳۸ هـ ل. کال څخه وروسته د هغه موافقه لیک له مخې چې په همدې اړه له دې څخه دوه کاله مخکې په مسکوکې لاسلیک شوی و، د پخواني شوروي اتحاد د متخصصینو په مرسته د مزارشریف او اندخوی ترمنځ د افغانستان په شمال کې په ٤٦۰۰ مربع میله ساحه کې د نفتو د پلټنې چارې پیل شوې. ددغو څیړنو پایلو وښوده چې د هیواد په شمال کې د تخار له ولایت څخه د ایران تر پولو پورې د نفتو د زیرمو د شتوالي پراخه امکانات شته او د هغه په دوام د هیواد د جنوب په کټواز او ترلویدیځ پورې یې دقلعه نو. هرات، شبرغان،میمنې، کندوز، تالقان، مزارشریف او نورو سیمو کې د نفتو زیرمې ترسترګو شوې. دهلمند په وادي، کټواز او د افغانستان په جنوبي سیموکې هم د نفتو زیرمې اټکل شوي، خو د پوره پانګې او د تجربه لرونکو فني پرسونلو د نشتوالي له امله د هغو منظم را ایستل تر اوسه پورې نه دي تر سره شوي. د نفتو یوازینۍ تثبیت شوې زیرمه په جوزجان کې ده په دې لړکې چې د انګوت زیرمه دیادولو وړ ده.

دلته د انګوټ په ګډون د نفتو یوځو کانونه در پېژندل کېږي:

۱. د انګوټ د نفتو کان

د سرپل دښار څخه پنځه کیلومتره ختیځ کې دی چې د نفتو طبقې یې له ۱۱۰۰ څخه تر ۱۲۰۰ مترو پورې ترسترګو کیږي. جیولوژیکي زیرمې یې ۷،۱ میلیونو ټنه اود ایستل کیدو وړ زیر مې یې ۲،۰۶ میلیونو ټنه ښودل شوي دي.

۲. د آق دریا دنفتو کان: د سرپل څخه لس کیلومتره ختیځ کې دی، ټولې زیرمې یې ۱۲ میلونه ټنه دي. ثابتې اودګټې اخېستو وړ زیرمې یې له څلور میلیونو ټنو څخه زیاتی اټکل شوي دي.

۳. د قشقري دنفتو کان: د سرپل جنوب ختیځ ته په ۱۲ کیلومتره واټن کې پروت کان دی جیولوژیکي زیر مې یې ۱۹،۶ میلیونه ټنه ، د ایستلو وړ زیر مې یې ۶،۳۸۱ میلیونه ټنه نفت ښودل شوي دي.

۴. د زمرد سای د نفتوکان: د شبرغان دښار د جنوب لویدیځ په ۶۰ کیلو مترۍ کې پروت دی. زیر مې یې ۹،۱۹ میلیونه ټنه اود ایستل کیدو وړ زیر مې یې ۳،۴ میلیونه ټنه اومه نفت دي.

په ۱۳۵۱هـ ل. کال کې ویټېل شوه چې په دغه برخه کې یوکوچنی د نفتو چڼځای جوړشي،خوکله چې د آق دریا د زیرمو تولیدي ظرفیت نورهم زیات شو، ددغه چڼځای ظرفیت هم ۲۰۰ زرو ټنو ته لوړشو. البته د هغه د ودانی د کارله بشپړیدو وروسته به په راتلونکې کې د نفتو تولیدي ظرفیت نور لوړشي چې پرته له شکه به د هیواد دننه د یو شمیر اړتیاوو د پوره کیدو سربېره به د هیواد د تادیاتو په بیلانس کې هم ارزښت ولري.

په اوسني وخت کې د افغانستان د نفتو اړتیاوې له بهر څخه د هغو په واردولو سره بشپړیږي، په همدې ترڅ کې نفتوته د هیواد اړتیا ورځ په ورځ زیاتیږي، او د هغو نړیوالې بیې هم مخ په زیاتیدو دي.

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو وویشل شي، د افغانستان د کاني سرچینو د نقشې او د لوست د متن څخه په کار اخېستو دې لاندینی فعالیت تر سره کړي:

۱. هغه سیمې چې هلته دنفتو زیر مې شته په ترتیب سره دې یې له شمال ختیځ څخه ترجنوب لویدیځ پورې لست کړي.

۲. ودې وایي چې کومو کمپنیو، په کومو برخوکې، څه وخت د نفتو د زیرمو د تثبیت لپاره څیړنې تر سره کړي؟

پوښتنې

۱. ولې تر اوسه پورې د افغانستان نفت په پراخه او منظمه توګه نه دي را ایستل شوي؟ توضیح یې کړئ.

۲. د نفتو زیر مې د افغانستان په کومو سیموکې دي، نوم یې واخلئ.

۳. د نفتو یوازینی ثبت شوې زیرمه څه نومیږي او چیرته ده؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

ګرانو زده کوونکو یوه ورځپاڼه، مجله، کتاب یا انټرنټي پاڼه چې د افغانستان دنفتو د زیر مو د پلټنې یا سوداګرۍ په هکله معلومات ولري، ولولئ او د هغې اخځ په راتلونکي لوست کې خپل ښاغلي ښوونکي ته ښکاره کړئ.

اوولسم لوست

۶،۲ فلزات



۳۱- شکل

د فلزاتو زیر مې د افغانستان په کومو سیموکې دي؟ په یوه ډېره کې د مسوأثار چې د لوګر له عینک ځخه ترلاسه شویده.

انسانانو له ډېر پخوا ځخه فلزات پیژندل او هغه یې کارول ، خوپخوا یې کارول محدود و. دهغو نښو له مخې چې په دې برخوکې شته، داسې ځرګندیږي چې هغه لومړنی فلز چې انسانانو وپیژاند، مس او بیا وروسته اوسپنه وه. زموږ په هیوادکې د یو شمیر فلزاتو لکه مسو، اوسپنې سربو، کرومو، جستو اوګرانبیه فلزاتو لکه د سرو زرو او سپینو زرو زیر مې او سر چینې شته چې د هریوه په هکله لنډ معلومات ورکول کیږي:

- **اوسپنه**: د اوسپنې زیرمې د افغانستان په لاندنیو برخو او سیموکې شته دي:

- د کندهار په خاکریز کې چې د زیرمواندازه یې ۲۳، ۸ میلیونه ټنه ښودل شوی ده او د حاجیګګ کان.

- دهرات دغور یانو کان چې په ۱۳۸۸هـ ل کال کې یې له یوې ایراني کمپنی سره د پلټنې تړون شوی و.

- د بدخشان د سیاه درې کان چې اټکلي زیرمه یې له ۴۰ تر ۴۵ میلیون ټنو ده.

- د پغمان د ولسوالی د اوسپنې کان چې زیر مه یې ۱،۳۸ میلیون ټنو ته رسیږي.

- دجبل السراج د اوسپنې کان چې د زیر مو اندازه یې اته میلیونو ټنو ته رسیږي او د اوسپنې اندازه یې په سلوکې ۴۵ ښودل شوې ده.

- **د حاجي گک د اوسپنې کان**: د باميان د جنوب ختيځ په ۴۵ کيلو متره واټن کې پروت دی چې د خپل کيفيت اوزيرمو له پلوه د سيمې يو ډير لوی او مهم کان شميرل کيږي. د اوسپنې زير مې يې ۱،۸ ميليارده ټنه ښودل شوې دي او د اوسپنې سلنه يې ۶۳،۵ ښودل شوې ده. دکانونو د وزارت نوې شمېرې د دغه کان ثبت شوې زيرمې ۱۱۰ ميليونه ټنه او اټکل شوې زيرمې يې ۲۰۷۰ ميليونه ټنه ښودلې دي. د حاجي گگ دکان له زيرمو څخه د گټې اخيستنې امکان شته خو د نوموړو کانونو را ايستل زياتې اندازې پانگې ته اړتيا لري. په پام کې وه چې په ۱۳۸۸ هـ ل. کال کې يې گټه اخېستنه خصوصي سکتورته وسپارل شي چې د راتلونکو پنځو –شپږو کلونو په ترخ کې به يې چارې بشپړې او په کال کې به يوميليون ټنه پولاد ورڅخه توليد او يو شمير هيوادو الوته به دکار زمينه برابره شي.

- **مس**: د افغانستان په لسو ولايتونو کې د مسو دکانونو ۱۲ زير مې شته چې له پروان څخه تر فراه او کندهار پورې يې پراخه ساحه نيولې ده. په دې کې د کجکي ترمنځ سيمې ډيرې مهمې دي.

- د مسو د طبقو کانونه په تغر، خورد کابل او ان د چهلستون په غرونو کې تر سترگو کيږي.
- دکابل په دربندکې (د عينک له کان څخه ۸ - ۹ کيلو متره لرې. په خطي بڼه د مسو کان پروت دی، د مسو اندازه يې په سلوکې ۰،۵۸ – ۱،۵۵ پورې ده. د زابل ولايت د مسوکان دکندلان په سيمه کې ثبت شوی دی چې د مسو اندازه يې په سلوکې ۰،۶۲ څخه تر ۱،۲ پورې ده، ټوله زيرمه يې له ۵ تر ۸ ميليونوټنو پورې اټکل شوې ده.

- **د لوگر د عينک د مسو کان**: دکابل ښار په جنوب ختيځ کې دی، اټکلي زيرمې يې څلور ميليونه ټنه او په دغه کان کې د مسو اندازه په سلوکې له ۱،۲ تر ۱،۵ پورې ښودل شوې ده. په عينک کان کې د مسو اټکل شوې زير مې له ۶ ميليونو ټنو څخه زياتې ښودل شوې دي. دکانونو د وزارت نوو شميرو دهغو تثبيت شوې زير مې له ۱۱ تر ۱۳ ميليونو ټنو مسو پورې ښودلې دي د داوطلبۍ له چارو وروسته يې په ۱۳۸۷هـ ل. کال کې له يوې چينايي کمپنۍ سره قرارداد لاسليک ډير ژر به په گټه اخېستنه پيل وکړي چې هر کال به تقريبا ۲۰۰ زره ټنه خالص مس توليد کړي.

- د مسو دکان زيرمې دهرات په شيدا، بادغيس، فراه، هلمند، کابل، غزني، باميانو، غوربند، اندراب بغلان او سرپل کې هم د ارزښت وړ دي.

• **سره زر**: په افغانستان کې سره زر د هندوکش دوو خواووته په بیلابیلو سیموکې شته چې یوه پراخه ساحه یې د فیض آباد له شمال څخه په جنوب لویدیځ کې تر کندهار پورې نیولې ده. مهم کانونه یې د بدخشان په یفتل او د غزني په مقر کې شته. د یفتل په سیمه کې د سروزرو او کوارتز د ډبرو څلور رګونه دي چې په هر ټن کاني توکوکې یې له یو څخه تر ۸۵ ګرامو پورې سره زرشته دي.

- د سروزرو نورې زیر مې د قلات په زرکشانو کې شته چې د سروزرو اندازه یې په هر ټن کاني توکي کې له ۰,۵ څخه تر ۱۱ ګرامو پورې ده.

همدارنګه د کوکچې د سیند او د هغه د مرستیالانو په تګلوري کې په یوه پراخه ساحه کې سره زر شته چې د سرو زرو اندازه یې د شګې په هر مکعب متر کې په منځنۍ توګه تر ۳۹۴ میلي ګرامو پورې محاسبه شوې ده.

• **سپین زر**: د سپینو زرو زیر مې د پنجشیر (له عمرز څخه تر خاواک پورې)، دهرات سیم کوه او د بي بي ګوهر په سیمه او د کندهار په خاکریز کې شته چې پخوا به په نافني توګه ایستل کیدې، خو اوس ور څخه کار نه اخېستل کیږي.

• **د سربو او جستوکانونه**: زموږ په هیواد افغانستان کې د سربو او جستو کانونه هم شته چې په هغوکې د کندهار د بي بي ګوهر د سربو او جستو د کان نوم اخېستلای شو چې زیر مې یې ۲۱۱۰۰ ټنه جست او ۵۵۰۰ ټنه سرب ښودل شوي دي چې د هرات د چشت په سیمه یعنې دهرات او د پنجشیر د سیند د تګلوري ترمنځ سیمه کې یې پر مختیا موندلې او د هزاره جاتو د تولک او د غوربند د فرنجل سیمې هم په کې راځي.

• **د کروم د ډبرو کانونه**: د کروم د ډبرو دشتوالي نښې د خوست، میدان وردګو، د لوګر د محمد اغې او کلنګار او کندهار په سیموکې دیا دونې وړدي. د کانونو د وزارت نوې شمیرې د خوست د کرومو د ډبرو د ایستلو منځنۍ کلنۍ اندازه ۷۳۰۰۰ ټنه ښودلې ده چې په ۱۳۸۶ هـ ل. کال کې یې له یوې کمپنۍ سره قرار داد شوی و خو اوس د امنیتي حالت د خرابوالي له امله نه ایستل کیږي.

د میدان وردګ ولایت دکرومایت د کان منځنۍ کلنۍ اندازه له ۴۰۰۰۰ ټنو څخه زیاته ښودل شوې ده.

٣٢- شکل

دټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په پنځو ډلو وویشل شي، د لوست د متن او دافغانستان دکانونو د نقشې په لوستلو دې لاندې فعالیت تر سره کړي او دخپل کار پایله دې په ټولګي کې ووایي:

لومړۍ ډله : د اوسپنې دکانونو د سیمو نومونه واخلئ او د نقشې پر مخ يې وښيئ.

دويمه ډله : د سروزرو د کانونو د سیمو نومونه واخلئ او دنقشې پر مخ يې وښيئ.

دریمه ډله : د سپنو زرو د کانونو د سیمو نومونه واخلئ او دنقشې پر مخ يې وښيئ.

څلورمه ډله : د مسو دکانونو د سیمو نومونه واخلئ او دنقشې پر مخ يې وښيئ.

پنځمه ډله : د سربو د کانونو د سیمو نومونه واخلئ او دنقشې پر مخ يې وښيئ.

پوښتنې

١- زموږ په هیواد کې څو ډوله فلزات شته، نومونه يې واخلئ.

٢- د اوسپنې کانونه د افغانستان په کومو سیموکې دي او د هغو ډېر مهم کان کوم یودی؟

٣- د لوګر عینک د مسو دکان په هکله معلومات ورکړئ.

٤- د سربو او جستو زیرمې زموږ دهیواد په کومو سیموکې دي نوم يې واخلئ.

٥- زموږ په هیواد کې د سپینو زرو زیرمې په کومو برخوکې تثبیت شوي دي نوم يې واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د فلزاتو د لوست متن او د کانونو نقشه ولولئ او په راتلونکي ساعت کې يې د هغو د مهمو ټکو په هکله معلومات ورکړئ.

دفلزاتو دکانونو اقتصادي اهمیت

۳۳ - شکل

له فلزاتو څخه څه کار اخېستل کیږي؟

د عینک د میسو دکان د پروژې پرانیستل

لکه څرنګه موچې په تیر لوست کې ولوستل او جیولوژیکي څیړنو ښودلې ده، زموږ دهیواد په ډیرو برخوکې، د فلزاتو کانونه شته. دغه کانونه دهیواد په اقصاد کې د اهمیت وړدي. افغانستان د فلزی زیرمو دلرلو له مخې یو بډای هیوادګڼل کیږي. د هیواد فلزي زیرمې د پانګې اچونې، د تخنیکي وسایلو، د فني پرسونل او هیواد دننه او بهر د خرڅلاو د بازار په چمتوکیدو سره په پراخه اندازه را ایستل کیدای شي.

فلزات ځانګړی اقتصادي ارزښت لري. د کرنې، سوداګرۍ، تخنیک او د ژوند دنورو چارو په برخوکې د اقتصادي فعالیتونو پر مختګونه، د فلزي صنایعو له پر مختیا سره اړه لري. فلزي زیرمې دیوه هیواد دصنعتي کیدو، د خلکو د ژوند دکچې دلوړیدو او داقتصادي پر مختیا لپاره یو مهم ضرورت دی. ښکاره خبره ده چې دیوه هیواد د صنایعو بنسټ او شمزۍ د فلزاتو په زیرمو او د اوسپنې ویلي کولو پورې اره لري. هغه هیوادونه چې د اوسپنې د ویلي کولو فابریکې نه لري، باید د ماشینونو د پیرودلو لپاره زیاتې پیسې ولګوي، نوله دې امله د بټیو او د اوسپنې دویلې کولو د فابریکو جوړول دیوه هیواد د اقتصاد مهمه برخه جوړوي. هیوادونه باید دفلزي صنایعو درامنځته کولو لپاره هلې ځلې وکړي.

دافغانستان په شان ديوه هيواد لپاره د فابريکو جوړول، چې پوره اندازه خام توکي لري، يو اقتصادي او مهم کار او د هيواد داقتصادي بنسټ په پياوړي کولو کې ډيرګټور دی؛.

د فلزاتو ځانګړ تياوې له اقتصادي پلوه ارزښت لري چې په بيلابيلو برخوکې ورڅخه کار اخيستل کيدای شي: ځينې فلزات د زنګ ضد ځانګړ تيا وېلري لکه قلعي، سرب او نکل. له سرو زرو څخه د ګاڼو او پولي واحد د پشتوانې په توګه په بانکونو کې کار اخېستل کيږي. له سپينو زرو څخه په نقره يې مسکوکاتو او ګاڼوکې کار اخېستل کيږي. اوسپنه د تخنيکي وسايلو د جوړولو او نور فلزات لکه مس، سپين زر او المونيم چې د بريښنا او تو دوخې دليږدولو وړتيالري، ځينې نورله يو شمير نورو فلزاتو سره د ترکيب کيدو ځانګړ تيالري، دبيلګې په توګه د مسو او جستو له ګډولو څخه برنج تر لاسه کوي او دسماوارونو، چلمچي ګانو، د دروازو په دستګيرونو او د نورو برنجي وسايلو په جوړولو کې ور څخه کار اخلي.

نو ځکه فلزات ځانګړې اهميت لري او د دروازو، کړکيو، کټونو، ميزونو، چوکيو، د ماشينونو په پرزو، د فابريکو په جوړولو او دلوښو په جوړولو کې ورڅخه کار اخېستل کيږي.

د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې څو ډلې شي: هره ډله دې دفلزاتو په اقتصادي ارزښت خبرې وکړي او د خپلو خبرو پايلې دې نورروته ووايي.

پوښتنې

۱- ولې فلزات زيات اهميت لري؟

۲- سره زر د نورو فلزاتو په پرتله کومه ښيګڼه لري؟

۳- له فلزاتو څخه دڅه ډول وسايلو په جوړولو کې کار اخېستل کيږی؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

د لوست دمتن په لوستلو سره دفلزاتو د اقتصادي اهميت په هکله فکر وکړئ او په راتلونکو لوستونو کې دهغو په اړه خپلو ټولګيوالوته معلومات ورکړئ.

۷،۲ د ودانۍ د ډبرو کانونه

۳٤- شکل

د کابل په ښارکې یو کارکوونکی د مرمرینو ډبرو د توږلو په حال کې


د گرانیت د ډبرې یو تصویر

د ودانیو د ډبرو کانونه د هیواد په کومه سیمه کې دي؟

افغانستان یو غرنی هیواد دی، د تعمیراتي ډبرو د منابعو له پلوه ډیر غني دی، چې له ډیرې پخوا زمانې راهسې په ودانیو کې کارول کیږي، په لاندې ډوله دي:

الف: د گرانیت Granite **(خارا) ډبرې**

دا ډول ډبرې دځمکې په ژورو برخوکې له اورغور څوونکو توکو څخه منځته راغلی دي. دا ډبرې له درو مختلفو منرالونو جوړې شویدي فلد سپار،مایکا او کوارتز، چې ښې نمونې یې دده دانا تر ځنگ غرونو او نورو غرنیو سیمو ډبرو لکه سالنگونو کې تر لاسه کیږي. دا ډبرې د تراکم او سختوالي له امله د ودانیو په زینو، تهدابونو یا بنسټونو او د سړکونو په فرش کې کارول کیږي.

ب: بزلت Basalt

دا ډبرې د ځمکې مخ ته داور غور ځونکود لا وا موادو پاتې شوې ډبرې دي، چې د اورغورځوونکو فعالیتونو یعنې د آتشفشان غرونو په لمنو کې شتون لري. د افغانستان په زیاترو غرنیو سیمو کې پریمانه پیداکیږي. ددې ډول ډبرو مهم منرالونه عبارت دي له: پیروکسین، فلد سپار، الیوین او ځینې فلزي منرالونه دي. دا ډبرې په ځانگړې أب او هوا کې پر لویو او وړو تږتو ماتیږي او دودانیو په تهدابونو کې کارول کیږي.

ج: متحوله ډبرې، چې په دریابونو کې له رسوب او آهکي ډبرو څخه رامنځ ته کیږي. د وخت په تیریدو فشار او تودو خې له امله په مرمرو بدلیږي، ددې ډبرو ذخیرې زموږ په هیواد کې ډیرې دي، دشکو او رسوب له امله جوړیدونکې ډبرې په کلکو تخته یې ډبرو بدلیږي. چې هغه هم په زیاته کچه کارول کیږي.

د: د رخام او مرمرو ډبرې :Marble

دا هغه تغير منونکې أهکي ډبرې دي، چې په بيلا بيلو اوښکلو رنګونو په هيواد کې پيداکيږي، خالص مرمر سپين رنګ لري، مرمر ډبرې اهکي ډبرې دي چې دفشار او تودو خې له امله يې بڼه بدلون کوي، ډيرې کيدو او تخنيکي پالش په واسطه ځلا او ښکلا پيداکوي. له دې امله دا ډبرې دو دانيو په ښکلا، دچاې خوړلو ميزونو، لوښو، د زيارتو نو په لوحو او حتی د مجسمو په جوړولو کې ورڅخه ګټه اخېستل کيږي.

د مرمر ډبرې په افغانستان کې ډبرې پيداکيږي. له دې جملې کولاى شو د ننګرهار د خوږياڼو او د اچين سيمه، د هرات ولايت د چشت په سيمه کې، او دميدان وردګ د کوټه عشرو په سيمه کې د مرمر ډبرې پيداکيږي د کابل په ولايت کې کولاې شو چه د بادام باغ، ريشخور، قرغې او تره خيلو څخه يادونه وکړو.

د ودانيو د ډبرو تر څنګ په هيواد کې دو دانيو نور توکي هم پيدا کيږی لکه چونه، ګچ، چې په زياته کچه دو دانيو په جوړولو کې کارول کيږي.

أهکي مواد له تخنيکي عمليې وروسته په سمنتو بدليږي، د بيلګې په ډول، غوري سمنت، جبل السراج د سمنتو د توليدونکو له ارزښتناکو او مهمو مرکزونو څخه دي، چې همدا اوس يې د توليد کچه په بدلون کې ده.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر څلورو ډولو وويشل شي، لومړۍ ډله دې دلوست له متن څخه دګټې اخيستنې په هکله معلومات وړاندې کړي.

دويم ګروپ يا ډله دې د لوست له متن څخه په ګټې اخيستنې سره د هغو سيمو، چې هلته د مرمر ډبرې ډيرې پيداکيږي نومونه واخلي.

دريمه ډله دې د لوست له متن څخه په ګټې اخيستنې سره د بازالت ډبرو په هکله او له هغو څخه د ګټې اخيستنې په باب معلومات وړاندې کړي.

څلورمه ډله دې له شګو څخه د جوړوشوو ډبرو د ځانګرتياوو او د رسوبي ډبرو او تغيير منونکو ډبرو په باب معلومات وړاندې کړي.

١- د ګرانيت له ډبرو څخه په کومه برخه کې ګټه اخېستل کيږي؟

٢- درخام او مرمر ډبرې د نورو ډبرو په پرتله څه توپير لري، لنډيې تشريح کړئ.

٣- دکابل په کومه سيمه کې د مرمر ډبرې پيداکيږي؟

٤- د سمنتو په جوړولو کې له څه ډول خامو موادو څخه ګټه اخېستل کيږي، د هغې مهمې فابريکې په کومو ځايونو کې پرتې دي؟

له ټولګي بهر فعاليتونه

دو دانيو ديو ډول کافي ډبرو نوم واخلئ، د هغې د ځانګړتيا وو او اهميت پر باب پنځه کرښې معلومات برابر کړئ. په راتلونکي لوست کې يې وړاندې کړئ.

۸، ۲ قیمتي ډبرې



۳۵- شکل

د افغانستان د ګرانبیه تیږو مهمي سیمې

۸، ۲ ګرانبیه ډبرې څه ډول ډبرې دي او دافغانستان په کومو سیموکې موندل کیږي؟

قیمتي تیږې الماس، لاجورد لعل(لال) یاقوت او زمرد دي چې دهیواد په بیلابیلو سیموکې شته له دې جملې څخه الماس، یاقوت، زمرد او لعل قیمتي تیږې او لاجورد امیتیست او نورې لږ قیمتي دي چې دلته یې په ځینو خبرې کوو:

الف) الماس

الماس د نورو تیږو په پرتله ډیر کلکوالی، ټینګوالی او روڼ رنګ لري. له همدې امله دی چې دځینو شیانو په پرې کولو او ترا شلوکې ورڅخه کار اخیستل کیږي. سره له دې چې تر اوسه پورې په افغانستان کې الماس نه دی موندل شوی، خو دجیولوژۍ پوهان وایي چې د بدخشان، په مرکزي سیمو، لوګر او غوربند کې د الماسو د پیداکیدو امکان شته دی.

ب) لاجورد

۳۶- شکل

(لاجوردو) د تیږي یوانځور

لړه گرانبیه تیږه ده له ډیر ښخوا یعني له خلور زره یا پنځه زره کاله ښخوا ځخه یې دبدخشان د جرم د ولسوالی د حضرت سعید په کلي کې ایستل پیل شوی وو، خو په اوسنی بڼه یې تولید له ۱۹۳٤ م. کال ځخه را پیل شوی دی.

د افغانستان په شمال ختیځ کې د لاجوردو د ۲۷ سیمو اوزیرمو ځیړنه تر سره شوې ده چې په دې کې د بدخشان ولایت د جرم د ولسوالی اړوند د سرسنگ کان د لوړ اهمیت لرونکی د او ترگټې اخېستنې لاندې دی. په ټولو زیر موکې یې دلاجوردو اندازه ۱۲۹۰ ټنه ده. د سرسنگ په سیمه کې په یواز یتوب سره ۱٤۱ ټنه لومړی درجه لاجورد او ٦٥ ټنه دویمه درجه تثبیت شوي دي. هغه لاجورد چې دلندن په موزیم کې ایښودل شوي دي، د افغانستان لاجورد دي چې ۳۸۰۰ کاله مخکې ایستل شوي دي. په افغانستان کې هر کال ۵-۱۰ ټنو پوري لاجورد ایستل کیږي چې ډیره برخه یې بیلابیلو هیوادونو ته صادریزي او له ډیرې لږې برخې ځخه یې د لاسي صنایعو په مرکزونو کې کار اخېستل کیږي.

۳۸- شکل

دکان په تیږه کې د سرو یاقوتو یو انځور

دافغانستان لاجورد د جنیست له پلوه، د رنگونو د ډولونو، نرم والي او روڼوالي له مخې د نورو هیوادونو له لاجوردو ځخه امتیاز او لوړتیا لري چې په تیاره

ابي، روښانه ابي، ډېر روښانه ابي او شنه روښانه رنګونو باندې مونډل کيږي. لاجورد د تيږو پيژندنې او سوداګريز بازار له پلوه پنځه ډوله دي: لومړۍ، دويمه، دريمه، څلورمه، او پنځمه درجه لاجورد.

لاجورد تخنيکي استعمال نه لري، يوازې په ګاڼو او زينتي وسايلو کې کارول کيږي. د لاجوردو ايستنه په پخوانيو کلونو کې په پرله پسې توګه پر مخ روانه وه، خو دامنيتي حالاتو د خرابۍ له کبله يې ايستل ځنډېدلي دي، خو د نامسؤولو خلکو له خوا يې په غير مجاز او ناقانونه بڼه ايستل روان دي چې د کانونو د ويجاړېدو او دولت ته دنه جبران کيدونکي زيان لامل شوي چې ددغو کانونو بيارغاونې ته به په راتلونکي کې ډېرې پانګې ته اړتيا وي.

ج) لال (لعل)

دلال کانونه، د بدخشان په اشکاشم او د سروبي په جګدلک کې دي او د پيازي لال کانونه د کندهار په خاکريز کې شته. لال لوړه درجه کلکوالی لري او سور، بنفش ډوله، شين ته ورته ابي، ژېړ يا تور رنګونه لري.

۳۷- شکل

د لعل د تيږې يو انځور

د) ياقوت

د مهمو ځانګړتياوو لرونکی دی.

د لومړۍ ډلې له جواهراتو څخه شمېرل کيږي، د پاڼي کېدلو وړتيا نه لري. درجه يې سخته ده. د روښانه سور اناري رنګ لرونکی او ځلا يې ښيښې ته ورته ده، ياقوت د سروبي ولسوالی د جګدلګ په سيمه کې په سور او ګلابي رنګونو پيدا کيږي.

هـ) زمرد

د زمردو کانونه د پنجشیر د خنج، بزمال او مکني په سيمو او دکونړ په باډيل دره کې شته دي. د پنجشير زمرد زمردي شين رنګ او ځينې وخت ابي ډوله رګونه لري. زيرمې يې ٤٤٠ کيلو ګرامه اټکل شوي دي تر اوسه پورې په افغانستان کې د ګرانبيه تيږو زير مې په فني او عصري بڼه تر استفادې لاندې نه دي راغلي.

۳۹- شکل

په کاني تيږو کې د زمردو يوانځور

دټولګي دننه فعاليت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وويشل شي، دلوست د متن په لوستلو سره دې دلاجوردو او نورو قيمتي ډبرو زيرمې لرونکی سيمې د افغانستان د کانونو په نقشه کې په نښه کړي.

پوښتنې

١- ګرانبيه ډبرې کومو ډبرو ته ويل کيږي؟

٢- دجيولوژي پوهانو په عقيده د الماسو ډيپاکيدو سيمې په هېوادکې چيرې اټکل شوي دي؟

٣- لال د افغانستان په کومو سيموکې په کومو رنګونو سره موندل کيږي.

٤- ډير ښکلي ياقوت د افغانستان په کومو سيموکې موندل کيږي او کوم رنګ يې ډير نوم لري.

٥- زمرد د افغانستان په کومو سيموکې شته، نوم يې واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت:

يوه قيمتي تيره چې په ګاڼو کې ورڅخه کار اخېستل کيږي، غوره کړئ د هغې د اهميت، ارزښت او جنسيت په هکله په راتلونکې درسي ساعت کې خپلو ټولګيو الوته معلومات ورکړئ.

۲، ۸ دکانونو او انرژي د حالت څېړنه



۴۰- شکل

د مزار شريف د نفتو او ګازو د تصدۍ انځور

په هېواد کې د انرژۍ او کانونو صنعت څنګه دی؟

تاسې چې په دغه څپرکي کې د هيواد د بيلابيلو سيمو دکانونو او انرژۍ او د هغې د سرچينو په هکله معلومات ترلاسه کړل، په کار دي چې په دغه لوست کې په لنډ ډول او په ټوليزه توګه په هيواد کې دکانونو او انرژۍ حالت وڅيړو.

لکه څرنګه موچې ولوستل د انرژۍ مهمې سرچينې د ډبروسکاره، نفت، ګاز، اوبه، باد، لمراوړانګې دي. چې دلته دهرې يوې حالت څيړو:

دډبرو سکاره: زموږ دهيواد د ډبروسکاره د دره صوف، اشپشتې، کرکر او دهرات د سبزک له مسجد چوبي کانونو څخه تر لاسه کيږي.

د ډبرو سکرو لويو زيرمو د هيواد په شمال او لويديځ کې يوه پراخه ساحه نيولې ده چې له هرات څخه يې تر تخار پورې پراخوالی لري ده او د ډبرو سکرو ډيره برخه د اشپشتې او کرکر له کان څخه رااېستل کيږي.

نفت: د نفتو جيولوژيکي څېړنو ښودلې ده چې د نفتو د زيرمو د شتوالي پراخه امکانات دهيواد په شمال کې له تخار څخه دايران تر پولو پورې او دهغو په دوام په جنوب او لويديځ کې تر کټواز پورې پراخوالی لري. د نفتو يوازينۍ ثبت شوې زيرمه په جوزجان کې ده چې په هغې کې د

انگوت، اق دریا، قشقري او زمردساي کانونه د یادولو وړ دي، خو د نفتو له کانونو څخه تر اوسه ګټه نه ده اخېستل شوې.

ګاز: د ګازونو د زیرمو د شتوالي امکانات د هیواد په بیلابیلو سیموکې شته اوسني وخت کې د هغو یوڅه لوېې زیرمې د خواجه ګوګردک، یتیم تاق، خواجه بولان او دجرقدوق په سیموکې د شبرغان په ښارکې موندل شوي دي چې پخوايې را ایستل پیل شوي وو. دهغو ډیره برخه دخواجه ګوګردک او جرقدوق له سیمو څخه را ایستل کیده او پخواني شوروي اتحادته صادریدل. نورپاتې ګاز د مزارشریف د سرې او برېښنا په فابریکې کې اود برېښنا د تولید لپاره د ځلو ینبتو کلونو په موده کې کارول شویدي چې اوس ډیره لږه استفاده ور څخه کیږي. د کانونو د وزارت پلان د ښکاره کوي چې د هیواد د نفتو یو کان اود ګازونو یوکان خصوصي سکتور ته ورکړل شوی اود ۳-٤ کلونو په ترڅ کې به ګټې اخېستنې ته چمتو شي.

اوبه: د افغانستان سیندونه د اوبو د برېښنا د ترلاسه کولو ډیرې ښې سر چینې دي، له دې پلوه یو شمیر هغه بندونه چې پخوا د برېښنا د تولید لپاره جوړ شوی وو، کافي نه دي او باید چې دبرېښنا د انرژۍ دتولید لپاره له سیندونو څخه لازیاته ګټه واخېستل شي.

همدارنګه هغه تور بینونه چې د اوږدو کلونو په ترڅ کې ورڅخه کار اخېستل شوی، ویجاړ او استهلاک شوي او د بند کاسې یې هم له رسوبي موادو څخه ډکې شوې دي، نو ځکه بیارغاونې ته کلکه اړتیا لري.

باد: دهیواد په ځینو ولایتونو کې د برېښنا د تولید لپاره د باد له انرژۍ څخه کار اخېستل شوی دی، خو ډیر لږ،حال داچې په هیواد کې ډیر موسمي بادونه لګیږي لکه دهرات ۱۲۰ ورځني بادونه او نور.

که چیرې په هیواد کې د باد له انرژۍ څخه د استفادې لازیات امکانات برابر شي، د باد له انرژۍ څخه به لازیاته برېښنا تر لاسه شي او برېښنا ته به دهیواد اړتیاوې پوره شي.

لمر: دهیواد په ځینو سیموکې د لمر له انرژۍ څخه ډیر لږ کار اخېستل شوی، چې په دې لړکې د پخلي د دیګونو، لمریز وځراغونو او کلکتورونو (د اوبو تودوونکو) او نورو نومونه اخېستلای شو.

ښه به وي چې په هیواد کې د لمر له انرژۍ څخه د کار اخېستو پراخه زمینه برابره شي.

اوس په هيواد کې د قيمتي فلزاتو او گرانبيه ډبرو کانونو او د فلزي زيرمو حالت ته کتنه کوو:

اوسپنه: په دې لړکې د باميانو د حاجي گک د اوسپنې کان، دکندهار د خاکريز زيرمې، دهرات غوريان، دبدخشان سياه دره او دجبل السراج او پغمان د اوسپنې زيرمې ديادونې وړدي. دحاجي گک دکان زيرمې دهيواد له نورو ټولو برخو څخه زياتې دي، د هغو په هکله څيړنې روانې دي، په راتلونکې کې به ترکارلاندې ونيول شي او په کال کې به په اټکلي توگه يوميليونه ټنه پولاد ورڅخه ترلاسه شي.

مس: دمسو زيرمې د زابل په کندلان، دکابل په دربند، د لوگر په عينک او د هرات په شيدا سيمه کې دي چې له پخوا وختونو ورڅخه ډيره لره او په سيمه ييزه بڼه کار اخېستل کيده.

دلوگر د عينک دمسو کان چې دهيواد يو ډير مهم کان دی. په دې وروستيو کې يې له يوې چينايي کمپنۍ سره قرار داد شوی دی او زموږ يوشمير هيواد والو ته به دکار زمينه برابره کړي او ډير عايد به ورڅخه ترلاسه شي.

سرب او جست: دهيواد د سربو او جستو زيرمې دکندهار په بي بي گوهر، دهرات په چشت، دهزاره جاتو په تولک او د غوربند په فرينجل کې دي، چې دهغو د زيرمو را ايستل په پراخه اندازه نه دي تر سره شوي.

کروم: دخوست، ميدان وردگ، د لوگر د محمد اغې او کلنگار د کرومو د کانونو له زيرمو څخه يوه اندازه کار اخېستل شوی دی. د خوست د کروم د کان توليدات د امنيت د نشتوالي له کبله نه دي پيل شوي چې د لازمو امکاناتو په چمتو کيدو سره به د هغو د را ايستلو چارې تر سره شي.

گرانبيه ډبرې: د الماسو شتوالی په بدخشان، مرکزي افغانستان او غوربند کې اټکل شوی دی او دلاجوردو زيرمې د بدخشان په جرم کې او د لال زيرمې د بدخشان په اشکاشم کې شته.

دياقوتو زيرمې د سروبي په جگدلک، زمرد د پنجشير د درې د خنج، بزمال او مکنې په سيمو او د کونړ د باډيل په دره کې شته دي.

د قيمتي فلزاتو کانونه او په دې لړکې دسروزرو کان د بدخشان په يفتل، دغزني په مقر، دکلات په زرکشانو او د کوکچې د سيند په بسترکې شته چې پراخه برخه يې نيولې ده.

د سپينو زرو زيرمې په پنجشير، د هرات په سيم کوه او د کندهار په خاکريز کې تثبيت شوي دي.

تر اوسه پورې د گرانبیه ډېرواو قیمتي فلزاتو له زیرمو څخه په فني توکه گټه نه ده اخېستل شوې د هیواد له کانونو او د انرژۍ له سرچینو څخه کار اخېستل له یو شمیر ستونزو سره مخامخ دي لکه د ترانسپورتي لارو نشتوالی، د فني پرسونل کمښت، د تخنیکي وسایلو او د پوره پانگې نشتوالی او نور . همدارنگه د وروستیو کلونو جگړې او نا امنۍ او په خپل سر او غیر فني توگه د کانونو ایستل هم دستونزو په لړکې شمیرل کیدای شي، چې دولت ته د نه جبران کیدونکو زیانونو څخه پرته دکانونو د ویجاړېدو لامل هم شوې دي، همدارنگه له هیواد څخه بهر ته دهغو قاچاق کول هم داندیښنې وړدي. که چیرې په هیواد کې د انرژۍ له سرچینو او کانونو څخه تخنیکي او فني گټه واخېستل شي او په دې برخه کې پانگونه وشي، هرکال به دپام وړ عواید له دې لارې ترلاسه او هیواد والوته به دکار زمینه هم برابره شي.

د ټولگي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې دوه ډلې شي، لومړۍ ډله دې دلوست دمتن په لوستلو د انرژۍ د سرچینو او د هغو د تولید په هکله او دویمه ډله دې د هیواد د کانونو د حالت اوله هغو څخه دکار اخېستو په اړه خبرې وکړي او دخپل بحث پایلې دې نوروته وړاندې کړي.

پوښتنې:

۱- په افغانستان کې د انرژۍ کومې سرچینې شته او دهغو له څو ډولونو څخه تر اوسه پورې کار اخېستل شوی دی؟

۲- دهیواد د اوبو له سرچینو څخه په څه ډول د بریښنا د ترلاسه کولو لپاره ښه او اعظمي استفاده کولای شو؟ توضیح یې کړئ.

۳- کوم ډول فلزات او گرانبیه ډیرې په هیواد کې شته، نوم یې واخلئ.

٤- په هیوادکې وروستیو جگړو او نا امنیو د کانونو او د انرژۍ له سر چینو څخه کار اخېستل له کومو ستونزو سره مخامخ کړي دي توضیح یې کړئ.

٥- دکروم د ډبرو زیرمې دهیواد په کومو برخو کې تثبیت شوي دي، نوم یې واخلئ.

له ټولگي څخه بهر فعالیت:

ددویم څپرکي د افغانستان دکانونو او انرژۍ برخه ولولئ دهغې لنډیز په یوه پاڼه کې ولیکئ او په راتلونکي لوست کې دهغو په هکله خپلو ټولگیوالوته معلومات ورکړئ

صنایع او سوداګري

تاسې په دویم څپرکي کې د افغانستان د کانونو او انرژۍ په هکله معلومات ترلاسه کړل. په دغه څپرکي کې به د افغانستان له صنایعو او سوداګرۍ سره اشنا شئ.

ـ په دې څپرکي کې لولو:

په افغانستان کې صنایع او د هغو اهمیت
- لاسي صنایع
- ماشیني صنایع

• توریزم او د هغه اقتصادي اهمیت
- د هېواد ګرځندویې سیمې
- د ګرځندوی احصاییه

• سوداګري او اهمیت یې
- کورنۍ سوداګري
- بهرنۍ سوداګري

• د هېواد د وارداتو او صادراتو انډول

• بانک
- مرکزي بانکونه
- سوداګریز بانکونه

• د بانک د چارو د پرمختګ بېلابېلې ځرنګوالی

• د صنایعو او سوداګرۍ د حالت څېړل

د ښېرکي عمومي هدفونه:

زده کوونکی به د دغه ښېرکي په لوستلو سره لاندنیو پوهنیزو موخوته ورسیږي:

- سوداګري به و پیژني.
- د سوداګرۍ بیلابیل ډولونه به وپیژني.
- د هیواد د صادراتو او وارداتو پر اندازې او اندول په پوه شي.
- د صنایعو پر اقتصادي اهمیت به پوه شي.
- د هیواد د صنایعو ډولونه به و پیژني.
- د هیواد د صنایعو پر ستونزو او خنډونو به پوه شي.
- بانک به و پیژني.
- د بانک د کار په څرنګوالي به وپوهیږي.
- د ګرځندوی (توریزم) په اقتصادي او فرهنګي اهمیت به پوه شي.
- د هیواد توریستي سیمې به وپیژني.

زده کوونکی به ددغه ښېرکي په لوستلو سره لاندنیو مهارتي هدفونوته ورسیږي:

- سوداګري به تعریف کړی شي.
- د سوداګرۍ ډولونه به فهرست کړای شي.
- د هیواد د وارداتو او صادراتو اندازه به بیان کړي.
- د صنایعو اقتصادي اهمیت به توضیح کړي.
- د هیواد د صنایعو ډولونه به فهرست کړي.
- د صنایعو ستونزې او خنډونه به وشمیري.
- بانک او د هغه د کارکولو څرنګوالی به توضیح کړي.
- د توریزم معنا به وویلای شي.
- د توریزم اقتصادي اهمیت به توضیح کړي.
- د هیواد د توریستي سیمو نوم به واخېستلای شي او هغه به د نقشې پرمخ تثبیت او وښیي.

دوه ویشتم لوست

په افغانستان کې صنایع او د هغو اهمیت

په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو صنعت

تاسې پوهېږئ چې صنعتي فعالیت د توکو ارزښت، کیفیت او ګټورتوب لوړوي؟

صنعت یو تولیدي فعالیت دی چې د هغه په ترڅ کې له هغو لومړنیو یا خامو توکو څخه چې له ځمکې ترلاسه کېږي د کار وړ شیان او اجناس جوړېږي او د بشري ټولنو اړتیاوې ورباندې بشپړېږي. صنعت هم د لاس او هم د ماشین په واسطه پر مخ تلای شي.

صنعتي فعالیت چې د ارزښت، کیفیت او ګټورتوب د لوړولو په خاطر د توکو د بڼې د بدلون عملیه ده، د بشریت په تاریخ کې اوږده سابقه لري.

صنعتي انقلاب چې د اتلسمې پېړۍ په دویمه نیمايي کې په اروپا کې پیل شو، په پای کې یې بشري ټولنې ته ژور بدلون ورکړ او د خلکو ژوند ته یې بله بڼه ورکړه.

د لومړنیو یا خامو توکو لکه د کاني توکو، کرنیزو تولیداتو او نورو د بڼې بدلون ترڅو په وروستیو صنعتي پخو اجناسو واړول شي، بیلابیل صنعتي پړاوونه تیروي، د بیلګې په توګه:

که چیرې تاسې هغه محصولات او اجناس کتلي وي چې په پلورنځي کې یې پیرئ، لیدلي به مو وي چې پیرودل شوی جنس دومره هم اسانه په لاس نه دی راغلی، بلکې بیلابیل صنعتي پړاوونه یې تیر کړي ترڅو چې پلورنځي کې د پلورل کیدو وړ ګرځیدلی دی. موږ کولای شو د موضوع د لا روښانه کولو په خاطر یو کتاب چې په کتاب پلورنځي کې پلورل کیږي د بیلګې په توګه یاد کړو. دغه کتاب چې پلورل کیږي کارېږي د یوه نیالګي له کینولو څخه پیل کیږي، کله چې نیالګیو ښه وده وکړه او لویې ونې ورڅخه جوړې شوې، پرې شوي لرګي یې فابریکې ته وړل کیږي، هلته ورڅخه کاغذ جوړیږي، کله چې کاغذ جوړشو، مطبعې ته لیږل کیږي، مخکې له مخکې طرحه او په کمپیوټر یا کوم بل شکل باندې

ډيزاين شوي، په کاغذ باندې چاپ او د صحافۍ له پړاو څخه وروسته د کتاب په بڼه چمتو کيږي او د خرڅلاو لپاره کتاب پلورنځي ته راوړل کيږي.
په همدې توګه که چيرې موږ ځير شو ټول صنعتي محصولات د کار بيلابيل پړاوونه تيروي او بيا د استفادې وړ ګرځي.
د صنايعو، په تيره بيا د ماشيني صنايعو ارزښت په دې کې دی چې په لږ وخت کې ډيرو موادوته د بڼې بدلون ورکوي، د هغو په څرنګوالي او بيه کې لوړوالی راځي.
زموږ خلك له ډير پخوا څخه په کوچنيو لاسي دستګاوو کې په لاسي صنايعو بوخت وو. فرش لکه غالۍ، لمڅۍ، ټغرونه او نور د اړتيا وړ وسايل يې ځان ته جوړول.
زموږ هيواد دبيلابيلو او ډيرو کانونو، کرنيزو ډول ډول محصولاتو او د پوره کار ځواك په لرلو سره صنايعو او د هغو ودې ته ډيره ښه زمينه چمتو کولای شي. که چيرې حکومت وکولای شي چې د ملي صنايعو د ملاتړ لپاره له يوې غوره اقتصادي پاليسۍ څخه کار واخلي ، د فابريکو او کارځايونو جوړولو ته شرايط برابر کړي، نو زيات شمير ضروري اجناس او مالونه به د هيواد دننه توليد او ملي عايد به لا اوچت شي.

د ټولګي دننه فعاليت:

زده کوونکي دې درې ډلې شي، له متن، تصويرونو او د لوست له بيلګو څخه دې کار واخلي، لاندې فعاليتونه دې ترسره او بيا دې د خپل کار پايله خپلو ټولګيوالوته وړاندې کړي.
لومړۍ ډله: د خپلو جامو په هکله خبرې وکړئ چې په څه ډول جوړې شوي او کوم صنعتي پړاوونه يې تير کړي دي؟
دويمه ډله: د خپل ټولګي د ميزونو او څوکيو په هکله بحث وکړئ د هغو صنعتي پړاوونه او چمتو کول توضيح کړئ.
دريمه ډله: د خپل ښوونځي د ودانۍ په هکله خبرې وکړئ چې له کومو توکو څخه جوړه او کوم صنعتي پړاوونه يې تير کړي دي.

لومړني خام توکي	صنعتي شوي توکي
پنبه	
	غالۍ
ګنې	
	ډوډۍ
لرګي	
	بوټان
	غوړي
اوسپنه	
	خيدك (پنير)

پوښتنې:

۱ ـ صنعت څه ته وايي توضيح يې کړئ؟
۲ ـ د صنايعو د ارزښت په هکله معلومات ورکړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت:

د لاندې جدول په تشو ځايونو کې د لومړنيو يا خامو توکو او صنعتي شوو اجناسو (مالونو) نومونه په خپله کتابچه کې وليکئ.

الف ـ لاسي صنايع

۴۲- شکل

په تیر لوست کې د صنایعو او د هغو د اهمیت په هکله بحث وشو، په دغه لوست کې به د هیواد ماشیني او لاسي صنایع وپیژنو.

که د هیواد په اقتصادي وده او پرمختیا کې د ټولنیزو او طبیعي بیلابیلو عواملو اغیزه په تیره بیا د صنایعو په وده او پرمختګ کې وڅیړو، وبه لیدل شي چې د هیواد د صنعتي کیدو لپاره ډیره ښه زمینه شته، نو د هیواد صنایع په لاسي او ماشیني برخو کې څیړو:

د افغانستان خلکو له لرغونو زمانو راهیسې د کورنیو اړتیاوو او بهرنۍ سوداګرۍ لپاره په خپل لاس جوړشوو دستګاوو باندې د اړتیا وړ شیان جوړول او خپلې اړتیاوې یې پوره کولې.

کلیوالي صنعت کارانو به په خپلو ډیرو لومړنیو وسایلو سره د صنعتي اجناسو په جوړولو لاس پورې کاوه، چې له لاندنیو سرچینو څخه یې کار اخیست:

۱. له څارویو څخه تر لاسه کیدونکو لومړنیو توکو لکه وړیو، ویښتانو او د وریښمو د چنجیو له تارونو او نورو څخه.

۲. له نباتي سرچینو لکه پنبې، کتان، سنډو او نورو څخه.

۳. کاني توکو لکه اوسپنې، مس، سرو او سپینو زرو او له ختو او نورو څخه.

ـ هغه د لاسي صنایعو محصولات چې د څارویو له الیافو څخه جوړیږي مشهوریې غالۍ، لیمڅۍ، برک، ټغر، شړۍ او نور دي.

د غالۍ اوبدلو صنعت د افغانستان یو ډیر مهم لاسي صنعت او غالۍ صادراتي مهم قلم او لاسي صنعت دی چې زیاتره په شمال، شمال لویدیځ او لویدیځو ولایتونو کې تولیدیږي.

ـ د لاسي صنایعو هغه محصولات چې له مالوچو څخه جوړیږي دادي: کرباس رختونه، کشمیره، پټو، لونګۍ، سطرنجي اونور. پخوابه چې په افغانستان کې په کومو ځایونو کې پنبه ډیره کرل کیدله، هلته به کلیوالو پنبه یې یا نخي رختونه ورڅخه جوړول.

ـ زرګران ، مسګران او پښان له فلزاتو څخه د کار وړ شیان لکه یوم، تبر، تیشه (ترښځ)، چاقو، چاړه او مسي لوښي لکه دیګونه او نور، اوګاڼې له سرو اوسپینو زرو او قیمتي ډبرو لکه لاجوردو او یاقوتو څخه جوړوي.

ب ـ ماشیني صنایع: نوي ماشیني صنایع او عصري فابریکې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۸۷ م. کې د امیر شیرعلي خان پرمهال او لږ وروسته بیا په یوځه پرمختللې بڼه د امیر عبدالرحمن خان پر مهال د نولسمې پیړۍ په وروستیو کې په هیواد کې رامنځته او لومړنۍ عصري فابریکه د کابل ماشین خانې په نوم تاسیس شوه، په دغې فابریکې کې د توپ، ټوپک او حربي مهماتو او سرې او تودې وسلې په ګډون حربي مهمات تولید او جوړیدل. وروسته بیا ماشیني صنایعو یوڅه وده وکړه. په ۱۳۶۵ هـ ل کال کې په هیواد کې ۳۹۱ صنعتي موسسې فعالې او په کار بوختې وې چې له هغو څخه یې ۲۷٤ د خصوصي سکتور او پاتې ۱۱۷ یې د دولتي او مختلط سکتور وې.

له دې امله چې د ماشیني صنایعو په رامنځته کیدو او وده کې خر خوونکی ځواک یا انرژي لومړنۍ اړتیا بلل کیږي، نوځکه په هغو سیمو کې چې بریښنا اوګڼ خلک وي لکه په کابل، کندهار، هرات، مزارشریف، کندز او جلال اباد کې، صنایع ځای پرځای رامنځ ته شوي دي.

داهم باید وویل شي چې زموږ په هیواد کې د ۳۰ کلنو جګړو پرمهال، زیات شمیر صنعتي تاسیسات زیانمن شول او هغوی ته لوی زیان واوښت، اوس یې بیارغاونه او بیرته جوړول پرمخ ځي او یو شمیر کورنیو او بهرنیو پانګوالو د نویو صنعتي موسساتو په جوړولو هم لاس پورې کړی دی.

ج ـ د ماشیني تولیداتو احصائیه: لکه چې مخکې وویل شول، په افغانستان کې ماشیني صنایع اوږده سابقه لري، خو په دې وروستیو کې د ناوړه سیاسي شرایطو، جګړو او لږ پانګې اچونې له کبله ځنډ او خنډ سره مخامخ شوي، بیاهم هغه ماشیني صنایع چې په هیواد کې شته او یا پخوا وې، له هغوسره په لاندیني جدول کې د اضافي معلوماتو په توګه آشناشئ.

ګڼه	ماشیني تولیدي صنایع	د تولید ډول	تولیدي ناصبه ظرفیت	اوسني چمتو ظرفیت	اوسنی حقوقي شخصیت
۱	د بګرامی نساجي	تاري ټوکران	۱٦ میلیونه متره	فعاله نه ده	پروژه
۲	دکندهار نخي نساجي	// //	٤۰ // //	// //	تصدي
۳	دکندهار وړی اوبدل	وریښمین رخت	یو میلیونه متره	// //	//
٤	د هرات نخي نساجي	تاري ټوکران	۱۲,٥ میلیونه متر	// //	پروژه
٥	د بلخ نساجي	// //	۲۲ میلیونه متره	په کال کې ۳۰ ټنه تجارتي تار	تصدي
٦	دګلبهار نساجي	// //	٥۰ میلیونه متره	فعاله نه ده	سهامي شرکت
۷	کابل نساجي	// //	یو میلیونه متره	// //	// //
۸	د پلخمري نساجي	// //	۲٤ میلیونه متره	په سلو کې ٥۰٪ فعاله ده	// //
۹	د مزار د سرې او بریښنا فابریکه	د یوریا سره	په کال کې ۱۰٥ زره ټنه	په ۲٤ ساعتونو کې ۱۰۰ ټنه	تصدي
۱۰	لومړی غوري سمنټ	سمنټ	په کال کې ۱۲۰۰۰۰ ټنه	یوه شپه ورځ کې ٤۰۰ ټنه	خصوصي
۱۱	دویم غوري سمنټ	// //	په کال کې ۳۱۰۰۰۰ ټنه	یوه شپه ورځ کې ۱۰۳۳ ټنه	// //
۱۲	د هرات سمنټ	// //	په کال کې ۲۱۰۰۰۰ ټنه	یوه شپه ورځ کې ۷۰۰ ټنه	دولتي پروژه
۱۳	دکابل د تار اوبدلو دستګاه	تار	په کال کې ٥٥۰ ټنه	غیر فعاله ده	خصوصي
۱٤	دکابل د اوبدلو فابریکه	رخت	په کال کې ۱,۸۳ ملیونه متره	غیر فعاله	خصوصي
۱٥	دکندوز سپین زر	محلوج، (مالوچ) او غوړي	په کال کې ۱۱۰۰۰۰ ټنه	لږ ي فعاله شوي په اجاره ورکړل شوي	دولتي تصدي
۱٦	د بلخ جن او پرس فابریکه	// //	٤۰۰۰۰ دانه لرونکې پنبه (پومبه)	// //	// //
۱۷	بست تصدي	// //	په کال کې ۲٥۰۰۰ ټنه	په کال کې ۸٥۰۰ ټنه	تصدي
۱۸	د هرات د مالوچو شرکت	پنبه، مالوچ، غوړي او صابون	په کال کې ۱۰۸۰۰ ټنه	یوځه فعاله	// //
۱۹	مرکزي سیلو	ډوډی او اوړه	٥۰ زره ټنه ذخیره		

ګڼه	ماشيني توليدي صنايع	د توليد ډول	توليدي ناصبه ظرفيت	اوسنی چمتو ظرفيت	اوسنی حقوقي شخصيت
٢٠	پلخمري سيلو	// //	٢٠ زره ټنه ذخيره	فعاله ده	// //
٢١	د کندهار سيلو	د غنمو ذخيره	په ٢٤ ساعتونو کې ٦٠ ټنه اوړه کول	غير فعاله	// //
٢٢	د بلخ سيلو	ډوډۍ او اوړه		فعاله ده	دولتي تصدي ده
٢٣	د هرات سيلو	د غنمو ذخيره	په کال کې ٢٠ زره ټنه غنم	// //	// //
٢٤	د بغلان د شکرې پروژه	شکره	په کال کې ١٠ زره ټنه	// //	دولتي پروژه ده
٢٥	د هلمند حجارۍ او نجارۍ	مرمر، موبل او فرنيچر		بيارغول شوې خو فعاله نه ده	ګډ شرکت

د ټولګي دننه فعاليت:

په خپلو کتابچو کې لاندې جدول په مناسبو کلماتو سره د لوست د متن او تصويرونو په کتلو او د ورکړل شوې بيلګې څخه په استفادې ډک کړئ.

حيواني منابع (سرچينې)	صنعتي شوي مواد	نباتي منابع	صنعتي شوي مواد	کاني منابع	صنعتي شوي توکي
کرک (د وزو له وزغنو جوړېږي)	پټو، جرابې، دسماغو، (دستکشې) توګانې	چغندر	شکره	مس	ديګي، کوزه او چلمچي

پوښتنې

١ ـ ستاسو له نظره د لاسي صنايعو کوم ډول توليدات ډېر ارزښت لري او ولې؟

٢ـ ستاسو له نظره تر اوسه پورې په هېواد کې کوم لاملونه (عوامل) د ماشيني صنايعو د ودې خنډ ګرځېدلي وو؟

٣ـ پېښان، مسګران، او زرګران له کومو منابعو څخه په څه ډول کار اخلي او کوم شيان جوړوي؟

٤ـ ماشيني صنايع زياتره په کومو ځايونو کې راټول شوي دي او ولې؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت:

د ماشيني صنايعو د مؤسساتو د ځانګړتياوو جدول وګورئ د هغه له مخې د لاندنيو پوښتنو ځوابونه و مومئ او د خپل کار پايله په بل لوست کې خپلو ټولګيوالو ته وړاندې کړئ.

١. زموږ په هېواد کې د اوبدلو څو فابريکې شته؟ کومې يې فعالې او کومې نه دي فعالې؟

٢. زموږ په هېواد کې د خوراکي توکو څو فابريکې شته او کومې يې ډېر توليدات لري؟

٣. ستاسو له نظره ستاسې په سيمه کې کومه فابريکه شته چې نوم يې په دغه جدول کې نه ليدل کېږي؟

۲،۳ توریزم او د هغه اقتصادي اهمیت:

۴۳- شکل

په هرات کې تاریخي او لرغوني آثار چې له کلتوري پلوه توریستانو ته ډیر اهمیت لري

توریزم Tourism یا گرځندوی یو ډول مسافرت او گرځیدل دي چې موخه یې د نړۍ د بیلابیلو سیمو علمي څیړنه، کتنه، تفریح، سیل او سیاحت دی.

توریستي سفرونه معمولاً کاري او تفریحي موخې لري، یو گرځندوی هغه څوك دی چې د خپل اوسیدو ځای څخه بهر نوروسیمو، ښارونو او هیوادونو ته داسې یو سفر کوي چې له یوې شپې ورځې کم نه وي او له یوه کال څخه زیات نه وي. گرځندویان معمولاً د یوې توریستي سیمې د طبیعت یا کلتور سره مینه او هغه ته پاملرنه لري. شتمنو خلکو به له ډیر پخوا څخه لیرې سیمو ته سفرونه کول چې په هغو ځایونو کې ښکلي او تاریخي ځایونه او ودانۍ وگوري او د نړۍ له طبیعي او کلتوري شتمنیو څخه خبرشي. له همدې امله نن ورځ توریزم یا گرځندوی په نړۍ کې د اقتصادي ودې په یوه لویه سرچینه اوښتی دی. او د نړۍ په ډیرو هیوادونو او سیمو کې مهمه عایداتي سرچینه شمیرل کیږي. نن ورځ زیاتره هیوادونه هڅه کوي چې په خپلو هیوادو نوکې د گرځندوی د ودې او پراختیا لپاره امکانات چمتو او پراخ کړي، دا ځکه چې گرځندوی د عوایدو د ترلاسه کولو یوه لاره ده.

افغانستان په اسیا کې د یوه ځانگړي جغرافیایي موقعیت، تاریخي لرغونتوب، پخوانیو ودانیو، ښکلي طبیعت، غوره هوا او د گرځندویي سیمو په لرلو سره په ډیرو پخوانیو کلونو کې د وریښمو د کاروانونو د سوداگریزو انډیو د وړلو او راوړلو لاره وه. بودایانو او کوشانیانو له همدې لارې له چین څخه د اروپا تر لویدیځ پورې تگ راتگ کاوه. دغه تگ ـ راتگ د گرځندویانو، په تیره بیا د بودایي راهبانو پام دې خواته راواړاوه او د بامیانو له اسرارو ډکه سیمه یې د نمانځنې د ځای په توگه غوره او هلته یې د بودا لویې او نامتو مجمسې جوړې کړې.

د بودیزم لاروېان او نور ګرځندویان د نړۍ له هر ګوټ څخه مخ په دې خوا رامات شول، دهیواد همدا تاریخي اثار او د ګرځندوی وړ سیمې وې چې د ګرځندویانو د پام وړ ګرځیدلې وې.
د افغانستان دولت په ۱۳۳۷ هـ ل کال کې د ګرځندوی مؤسسه (اوسنی افغان تور) په دې برخه کې د اسانتیاوو د رامنځته کولو په خاطر جوړه اوپه ۱۳٤٤ هـ ل. کال کې یې د ګرځندوی د نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړ.
په تیرو څو لسیزو کې توریزم یاګرځندویي په افغانستان کې د عایداتو یوه سرچینه وه. زموږ په هیواد کې ډیر لرغوني اثار او تاریخي ځایونه لکه په بامیانو کې د بودا مجسمې او یو شمیر نور تاریخي اثار، د بلخ د لرغوني ښار اثار، خیبر دره، په هرات کې زیات شمیر تاریخي اثار او همدارنګه په کندهار، غزني، ننګرهار او نورو کې شته. د جګړو پر مهال په افغانستان کې ګرځندویي ته هم ډیر زیان واوښت، یوازې د ګوتو په شمار خبریالانو افغانستان ته تګ راتګ درلود. په دې وروستیو کې چې امنیتي شرایط یوڅه ښه شوي دي او که د ټول هیواد په سراسر کې داېمنه سوله راشي او دولت د ګرځندوی په هکله ځانګړې پاملرنه وکړي، یو شمیر هوټلونه، د ورلو راوړلو وسایل او نور امکانات برابر کړي، نو افغانستان به یو ځل بیا د ګرځندویانو لپاره یو په زړه پورې هیواد شي. د افغاستان، هغه عواید چې په یو شمېر کانونو کې د ګرځندوی له سیمو ترلاسه شوي وو او په میلیون ډالرو محاسبه شوي چې په لاندیني جدول کې ښودل کیږي.

۱۹۷۸	۱۹۷۷	۱۹۷٦	۱۹۷۵	۱۹۷٤	۱۹۷۳
۱	۷	۲۸	۱۲	۱۲	۱۱

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي، لومړۍ ډله دې د متن تصویرونو او نقشو په کتلو سره د ګرځندوی (توریست) او ګرځندویي (توریزم) په هکله او دویمه ډله دې د لوست د نقشو متن او انځورونو په کتلو سره د ګرځندوی د اقتصادي اهمیت په هکله بحث او خبرې او اترې وکړي، وروسته دې د هرې ډلې استازي د خپلو خبرو اترو پایله ټولګیوالوته وړاندې کړي.

پوښتنې:

۱ـ ګرځندوی (توریست) څوک دی؟
۲ـ ایا د ګرځندوی، سیاح او توریست ترمنځ توپیر شته؟ په دې هکله توضیح ورکړئ.
۳ـ د ګرځندویي (توریزم) اقتصادي اهمیت بیان کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې په درې کسیزو ډلو کې د افغانستان د ګرځندوی او (افغان تور) د موسسو د فعالیت په اړه او د دغو موسسو د خپرونو او ځانګو له معلوماتو څخه په ګټې اخیستنې سره د هیواد د ګرځندوی په اړه د په زړه پورې سیمو د تصویرونو په لرلو سره په دوه پاڼو کې مطلب ولیکي او خپلو ټولګیوالوته دې ولولي.

پنځه ویشتم لوست

الف ـ د هیواد د ګرځندویي سیمې



٤٤- شکل

تاسې په مخکې لوست کې د ګرځندویي او د هغې د اقتصادي اهمیت په اړه معلومات ترلاسه کړل. په دغه لوست کې به د هیواد د ګرځندویي سیمو او احصائیو په هکله پوه شئ.

ـ ایا تاسې د هیواد کومه ګرځندویي (توریستي) سیمه لیدلې ده؟

که ستاسې ځواب هو وي کومه سیمه، کله، هلته موخه لیدلې او هلته مو څه وکړل؟

د افغانستان ګرځندویي سیمې زیاتره طبیعي ښکلي ځایونه (ښایسته شرشرې، د سیندونو په زړه پورې غاړې، ولاړې اوبه، غرونه او نور او همدارنګه کلتوري سیمې او اثار موزیمونه، مذهبي او تاریخي ودانۍ او د لاسي صنایعو بازارونه او نور) وي.

د افغانستان د ګرځندوی مهم ښارونه او سیمې دادي:

بامیان، بلخ، سمنګان، هرات، غور، غزني، کندهار، کابل، جلال اباد، لښکرګاه او نور.

په بامیانو کې تورل شوې سمڅې، مجسمې او امیربند، په بلخ ولایت کې د روضې مبارکې زیارت. په

هرات کې تاریخي ځلي، د خواجه عبدالله انصاري زیارت، خواجه غلتان ،عیاران ځلی، اختیارالدین کلا.
په غور کې جام منار، په غزني کې تاریخي ځلي، د سردار غونډۍ، بالاحصار او په ننګرهار کې تاریخي اثار اوله هغې جملې څخه هډه او نور د یادولو وړ دي.
په ځینو ښارونو لکه هرات کې لرغوني اثار دومره ډیر دي چې یونسکو دغه ډول سیمې د خپل پوښښ لاندې غوره کړي دي. په دې وروستیو کې غزنی د یو شمیر پخوانیو زیارتونو او ودانیو له امله د اسلامي تمدن د یوه مرکز او توریستي ښار په توګه پېژندل شوی دی.

٤٦- شکل

د جام منار هم لکه د هیواد د نورو لسګونو اثارو په شان ځانګړې تاریخي او کلتوري ارزښت لري

٤٥- شکل

د میرویس نیکه زیارت چې ګرځندویانو ته کلتوري او تاریخي ارزښت لري.

داهم باید وویل شي چې افغانستان ډیر غوره د ګرځندوی طبیعي ځایونه او پارکونه هم لري چې د بیلګې په توګه د پامیر لوی او کوچنی غرونه، په نورستان کې د لیدلو وړ طبیعي سیمې، په کابل کې یو شمیر پارکونه او باغونه، د جلال اباد یو شمیر سیمې، هرات، کندهار، مزارشریف، د قرغې بند او په کابل کې د پغمان دره او په نورو بیلابیلو ولایتونو کې یو شمیر طبیعي ساحې چې د افغانستان د ګرځندوی په نقشه کې یې کتلای شئ.

ب- د ګرځندوی (توریزم) احصائیه:

لکه چې مخکې وویل شول، په تیرو لسیزوکې ګڼ شمیر ګرځندویان زموږ هیواد ته راتلل او د عایداتو لویه سرچینه یې جوړوله، خو په درې لسیزو جګړو کې چې امنیتي ستونزې رامنځته شوې، ګرځندوی ته ډیر زیان واوښت او افغانستان ته د ګرځندویانو تګ راتګ لږ شو چې دغه شمیرنې په لاندې جدول کې پرتله شوي دي:

(۵) جدول: د هغو ګرځندویانو شمیر چې په بیلابیلو کلونو کې افغانستان ته راغلي دي

د هیواد نوم	۱۹۷۵	۱۹۷۶	۱۹۷۷	۱۹۷۸	۱۹۷۹	۱۹۸۰
لویدیز المان	۸۶۴۹	۸۹۰۷	۹۰۸۵	۷۴۹۶	۱۸۱۷	۲۸۵
فرانسه	۹۴۳۱	۷۷۹۴	۶۷۷۹	۴۷۸۱	۱۱۵۳	۲۳۴
استرالیا	۱۰۹۴	۱۰۵۵	۴۳۹۷	۳۰۷۰	۹۶۷	۲۸
د امریکا متحده ایالات	۹۴۰۱	۸۹۵۰	۹۰۱۱	۶۳۸۹	۱۰۳۹	۷۹
هند	۸۷۱۷	۸۵۲۱	۱۱۱۸۵	۹۷۴۴	۴۳۵۰	۹۹۲
انګلستان	۹۷۷۷	۱۰۱۰۸	۱۱۵۲۶	۹۱۰۲	۱۸۵۰	۱۲۸
پاکستان	۱۳۶۴۸	۲۰۱۳	۳۵۱۰۵	۲۳۶۶۳	۱۰۱۲۶	۲۴۶۶
نور هیوادونه	۳۰۰۷۷	۲۴۴۷۸	۳۱۷۲۰	۲۷۷۴۴	۸۹۰۲	۲۴۳۸
ټول	۹۰۸۹۴	۹۳۰۲۶	۱۱۸۳۶۰	۹۱۹۸۹	۳۰۲۰۴	۶۶۲۳

(٦) جدول: په څو وروستیو کلونو کې د ګرځندویانو شمیر او له هغو څخه ترلاسه شوي عواید

شاخصونه	۱۹۹۵	۱۹۹۶	۱۹۹۷	۱۹۹۸
د ګرځندویانو شمیر (په زروتنو)	۴	۴	۴	۴
ترلاسه شوي عواید (په میلیون ډالرو)	۱	۱	۱	۱

د بامیان د ولایت د امیر بند یوه ښنډه

٤٧- شکل

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په پنځو ډلو وویشل شي، هره ډله دې د افغانستان د ګرځندوی نقشه وګوري، لاندې دندې دې ترسره کړي او بیا دې د خپل کار پایله په ټولګي کې وړاندې کړي:

- لومړنۍ ډله دې د ګرځندوی مهم ښارونه او سیمې لست کړي.
- دویمه ډله دې هغه سیمې لست کړي چې هلته اسلامي عبادت ځایونه او زیارتونه دي.
- دریمه ډله دې د لاسي صنایعو بازارونه لست کړي.
- څلورمه ډله دې د طبیعي ښکلو منظرو لرونکې، په زړه پورې او د لیدلو وړ سیمې لست کړي.
- پنځمه ډله دې هغه سیمې وښیي او لست کړي چې هلته د ګرځندوی د خدماتو ځانګې شته.

پوښتنې:

۱ـ د افغانستان د ګرځندوی (توریستي) مشهورو سیمو نوم واخلئ.

۲ـ د افغانستان کومه توریستي ګرځندویي موسسه اوس د ګرځندوی خدمات ترسره کوي او ستاسو په فکر دغه موسسه کوم ډول خدمتونه ترسره کوي؟

۳ـ ولې په دې وروستیو کې ډیر لږ ګرځندویان افغانستان ته راځي؟ ستاسو په نظر افغانستان باید د ګرځندویانو د پام را اړولو په خاطر څه وکړي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیتونه:

د نوي لوست د متن او د ګرځندوی د نقشو په کتنې سره لاندینی جدول په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

ګڼه	هغه طبیعي راښکون چې د ګرځندوی پاملرنه ځانته را اړوي	ګڼه	هغه کلتوري او مذهبي په زړه پورې والی چې د ګرځندوی د پاملرنې وړ دي
۱	د امیر بند	۱	د کابل موزیم
۲		۲	
۳		۳	
۴		۴	
۵		۵	

۳، ۳ سوداګري او اهمیت یې:

٤٨- شکل

تاسي پوهیږئ چې زموږ خلك له ډېر پخوا په سوداګرۍ بوخت وو؟

سوداګري په حقیقت کې د شیانو او خدماتو تبادله کول دي. چې د پیرودونکي او پلورونکي تر منځ د پولي کریدیت له مخې له یوه ځخه بل ته سپارل کیږي .کله چې تولید شوي اضافي اجناس او خدمات د تبادلې لپاره وړاندې شي، سوداګري ورته ویل کیږي.

د سوداګرۍ اصلي بڼه د مالونو سیده راکړه ورکړه ده چې یو له بل سره تبادله کیږي، خو د نن ورځې پرمختللې سوداګري د پیسو په وړاندې ترسره کیږي.

په ډېرو پخوا وختونو کې انسانانو په خپلو سیمو کې د اضافي شیانو په تبادله لاس پورې کړی و، وروسته بیا سوداګري شاوخوا سیمو او وروسته لیرې سیموته پراخه شوه.

اجناس او خدمات هغه وخت تبادله کیږي چې لاندیني شرایط چمتو شي:

۱- د اجناسو اضافي تولید ترسره شوی وي.

۲- په ټاکلې کسب او ځانګه کې تخصص رامنځ ته شوی وي.

۳- تولید د کار د ویش پړاوته رسیدلی وي (د کار ویش ترسترګوشي)

٤- د دوو سیمو د تولیداتو د ډولونو ترمنځ توپیر ولیدل شي.

٥- سیاسي، کلتوري او ګمرکي خنډونه، نه وي.

٦- د لیږدولو د دوو سیمو ترمنځ په وسایل او لارې او د اړیکو ټینګولو په خاطر ډیرې ښې لارې - چارې چمتووي.

۷- د دواړو سیمو وګړي یو د بل اجناسوته اړتیا او لیوالتیا ولري.

په عمومي توګه پورتني شرایط په ټولو ځایونو کې څه ناځه د سوداګرۍ لپاره لاره اواروي، همدارنګه د بهرنۍ سوداګرۍ د رامنځته کیدو یو لوی لامل د طبیعي سرچینو ترمنځ توپیر او د پرمختیا په اړه له تخنیك څخه

د خلکو د کار اخېستو په استعداد کې د توپير تر سترګو کېدل دي، په بله وينا خلک ځکه په سوداګرۍ لاس پورې کوي چې غواړي خپل توليد کړي اجناس په لوړه بيه نورو سيمو کې وپلوري او يا هم هغه څه چې دوی يې خپله نه شي توليدولای او ياپې په خپله سيمه کې د توليد شوې بيې پرتله په ارزانه له بلې سيمې څخه پيرودلای شي، ترلاسه کړي.

په افغانستان (لرغوني اريانا) کې له ډېر پخوا څخه د هغه د جغرافيايي اهميت له مخې چې په دغه سيمه کې يې لري او دا چې د هغه وخت د تمدن په څلور لاره کې پروت و، يعنې ختيځ ته يې د هند او چين تمدن او لويديځ ته يې د يونان او روم تمدن و، نو اضافي توليد دلته رامنځ ته کيده او ددې هيواد وګړو سوداګرۍ او راکړه ورکړه کوله.

مخکې تر دې چې سمندري لارې وپيژندل شي، د سوداګريزو توکو او مالونو وړل راوړل ټول د وچې له لارې په کاروانونو ترسره کيدل. هغه مهال د مالونو تبادله او ليږدول د کاروانونو په واسطه د ختيځ او لويديځ ترمنځ يعنې د مديترانې د سمندرګي د ختيځو غاړو څخه تر چين پورې ترسره کيدل او افغانستان د يوې مهمې ترانزيټي سيمې په توګه هغه وخت د ډېر اهميت وړ و.

وروسته بيا دغه لاره د وريښمو د لويې لارې په نوم ياده شوه، داځکه چې هغه وخت ډېر ګرانبيه مالونه لکه وريښمين ټوکران، درمل او نور له همدې لارې څخه تيريدل را تيريدل.

په اوسني وخت کې هم د افغانستان خلکوته سوداګري ځانګړې ارزښت لري. افغانستان کولای شي دګاونډيو ترمنځ د يوې څلورلارې په توګه له خپل ځانګړي جغرافيايي موقعيت څخه پوره ګټه واخلي او د خپل ملي عايد د زياتولو، دکار موندلو او اړيکو په برخه کې اغيزمن ګامونه اوچت کړي، دا ځکه چې افغانستان د خپلو لويو لارو څخه د زرګونو ټنو سوداګريزو مالونو، په تيره بيا د ترانزيټي اجناسو د ليږدولو وړتيا لري.

د يادونې وړ ده، چې افغانستان د بهرني سوداګرو بيلانس توازن نه لري، دوارداتو له کچې يې د صادراتو کچه څو واري زياته ده، چې ډېر لږ کورني توليدات له کمروزي اقتصاد نه څرګندونه کوي، ددې ټکی عمده عامل څو کلنه کورنۍ جګړه ده. د افغانستان د صادراتو وارداتو،د کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ د کچې په باب به راتلونکو لوستونوکې معلومات تر لاسته کړئ.

په ټولګي کې فعاليتونه

دوه دوه زده کوونکي بايد لومړی د لوست متن او انځورونه په پوره ځيرتيا ولولي او د لوست پر مهموټکو په خپل منځ کې خبرې اترې وکړي، وروسته دې خپل نظرونه د سوداګرۍ او د هغې د اهميت په باب ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې:

۱- ولې خلک سوداګرۍ ته مخه کوي؟

۲- زموږ په اقتصاد کې سوداګرۍ څه رول او اهميت لري؛ خپل معلومات په دو ويلګو کې وړاندې کړئ.

۳- افغانستان په سيمه کې له څه ډول ترانزيټي موقعيت څخه برخمن دی؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليتونه:

يو کتاب، مجله او يا ورځپانه چې د افغانستان د سوداګرۍ په باب معلومات ولري ولولئ، په راتلونکي ساعت کې هغه ښوونکي ته تشريح کړئ، د مهمو ټکو پر اړوند يې خبرې اترې وکړئ.

اووه ويشتم لوست

الف ـ كورنۍ سوداګري

په افغانستان کې کومو لاملونو (عواملو) د سوداګرۍ په پرمختيا او وروسته پاتيوالي اغيزه درلوده او لري يې؟

لکه چې په تېر لوست کې وويل شول، د افغانستان خلك له ډېر پخوا راهيسې په سوداګرۍ بوخت وو. نن ورځ د افغانستان دننه سوداګري ښه پراخه ده چې علت يې د نفوسو ډېروالی، د ژوند د کچې نسبي لوړېدل او خوراكي توكو، صنعتي او خدماتي اجناسو او وسايلو ته د خلكو ورځ په ورځ د اړتيا زياتوالی دی. افغانستان چې بېلابېلې اقليمي سيمې لري، د بېلابېلو ونو ـ بوټو كرنې او توليد ته يې ښه لاره هواره كړې ده.

بزګران او څمكوال سربېره پردې چې خپلې اړتياوې پوره كوي. كرنيز محصولات بازار ته هم وړاندې كوي او پلوري يې. د بېلګې په توګه وريجې په هغو سيمو كې چې توده هوا او پوره اوبه لري لكه په ختيځ كې ننګرهار، لغمان، كونړ او د هيواد په شمال لكه كندوز، بغلان او تخار كې ډېرې كرل كيږي،

چې طبعا د هغو اضافي تولیدات د هیواد دننه هغونورو سیموته چې هلته وریجې نه کرل کیږي، لیږل او پلورل کیږي. ددې یوه بله بیلګه غالۍ دي چې زیاتره د هیواد په شمالي برخو کې تولیدیږي. چې نه یوازې د هیواد دننه بازارونو کې پلورل کیږي بلکې یو مهم صادراتي قلم هم دی. په دې توګه په ټول هیواد کې د داخلي او واردشوو محصولاتو خرڅلاو د سوداګرو په لاس برابریږي.

ځینې کرنیز محصولات وروسته تر پروسس او صنعتي کیدو څخه د هیواد دننه بازارونو کې پلورل کیږي.

د یادونې وړ ده چې په وروستیو دیرش کلنو جګړو کې د هیواد ټول اقتصادي، ټولنیز، اداري او سیاسي بنسټونه ویجاړ او سوداګرۍ ته هم زیات زیان واوښت او هم افغانان تر پخوا زیات وارداتي مالونو او اجناسوته اړ شول. له نیکه مرغه په دې وروستیو کې د یو شمیر مؤسسو د بیارغونې کار پیل شوی دی، یو شمیر یې خصوصي سکتور ته ورکړل شوي دي او بیایې په فعالیت باندې پیل کړی دی. همدارنګه د مواصلاتي کرښو او سړکونو بیارغاونه هم پیل شوې ده. سوداګریز نوی سیاست او قوانین رامنځ ته شوي چې دا ټول به د کورنۍ سوداګرۍ د پرمختګ لامل شي.

ب- بهرنۍ سوداګري:

افغانستان د آسیا د لویې وچې په منځ کې د یوه ځانګړي موقعیت په لرلو سره له ډیر پخوا څخه د ترانزیتي او مهم سوداګریز مرکز په نوم پیژندل شوی دی او کاني او کرنیز ځانګړي تولیدات یې له ډیر پخوا څخه په نړیوالو بازارونو کې پلورل کیږي.

۵۰- شکل



د افغانستان بهرنۍ سوداګري ښخوا په دريو حوزو کې وه:

- د بارترسوداګرۍ حوزه: جنس د جنس په وړاندې تبادلې ته بارترویل کیږي، دغه ډول سوداګري د مالونو د بدلولو په توګه ښخوا د افغانستان او يو شمیر سوسیالستي هیوادونو لکه ښخواني شوروي اتحاد، پولنډ، چکوسلواکیا، چین، بلغاریا او نورو سره وه.
- ازاده حوزه: چې لویدیځې اروپا، د امریکې متحده ایالتونو او جاپان سره وه.
- د هند د نیمې وچې سره د سوداګرۍ حوزه: د هند د نیمې وچې سره د افغانستان سوداګري ډیره اوږده تاریخي ریښه لري، چې دوخت په تیریدو سره یې پراختیا موندلې ده.

د ښخواني شوروي اتحاد له ړنګیدو وروسته، په ختیځه اروپا کې د سیاسي رژیمونو له منځه تلو او د افغانستان د بهرني، اقتصادي او سوداګریز نوي سیاست له پیل کیدو وروسته، د هیواد د سوداګرۍ په سیستم کې بدلون راغی.

اوس د افغانستان دولت د سوداګریزو نوو قوانینو پر بنسټ، کورنيو او بهرنيو سوداګرو او پانګوالو ته د پانګې اچونې او د خصوصي بانکونو رامنځته کیدوته لاره هواره کړې ده او دګاونډیو او نورو پرمختللو هیوادونو سره سوداګري د پراختیا په حال کې ده.

د افغانستان مهم صادراتي توکي يو شمیر خوراکي او خام توکي لکه وچې او تازه میوې، مالوچ، د څارویو محصولات لکه، وړۍ او وزغنې، پوستکي، قره قل او کولمې او يو شمیر صنعتي توکي لکه غالۍ او ټغرونه، لاسي صنایع او ګرانبیه ډبرې دي. د افغانستان د صادراتو پرتله د وارداتي مالونو حجم او ډولونه ډیر زیات دي، چې دا د افغانستان د اقتصاد کمزوري ښکاره کوي. هغه مالونه چې له بهر څخه افغانستان ته راځي، زیاتره یې استهلاکي مالونه او نور دي لکه ترانسپورتي وسایط او ماشینونه، نفتي مواد او روغنیات، کیمیاوي مواد خوراکي توکي لکه غنم، بوره، چای، غوړي او منسوجات لکه جامې، درمل او نور.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې لاندې فعالیتونه ترسره او پایله دې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي:

ـ د لاسي صنایعو او بازارونو نقشه وګورئ لاندنیو پوښتنوته ځواب ولیکئ.

پوښتنې:

۱ . هغه سیمې چې په ابي، شنه او ژیړ رنګ ښودل شوي دي، څه مفهوم لري؟

۲ . د افغانستان واردات کوم دي؟ ستاسو له نظره له هغو څخه کوم یې د هیواد دننه جوړولی شو؟

۳ . د افغانستان صادرات کوم دي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

دیو څو قلمه هغو جنسونو نومونه چې له بهر څخه واردیږي او تاسې په خپله ورڅخه کار اخیستی وي، ولیکئ او همدارنګه یې جوړوونکي هیوادونه معرفي کړئ.

ج ـ د هیواد د وارداتو او صادراتو انډول (میزان)



په ۱۳۸۵ هـ.ل.کال کې له ځینو هیوادو سره د افغانستان سوداګري.

شکل وګورئ او ولیکئ چې له کوم هیواد څخه د افغانستان واردات ډیر زیات دي؟
لکه څرنګه چې په تیر لوست کې وویل شول د افغانستان صادرات د وارداتو پرتله ډیر لږ دي، خو هیله کیږي چې د هیواد دننه کورني تولیدات زیات شي او د صادراتي اقلامو ډول او شمیر هم زیات شي، د بیلګې په توګه په دوو وروستیو کلونو کې د هیواد د صادراتو ټوله بیه د نورو تیرو کلونو په پرتله زیاته شوې، خو بیاهم په هیڅ توګه له بهر څخه د وارداتو سره د پرتلې وړ نه دي، چې په لاندې جدول کې ښوول شوي دي:

(۷) جدول: له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۶ هـ ل کال پورې د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ بیلانس

(ارقام په میلیون ډالرو)

کال	واردات	صادرات	توپیر
۱۳۸۱	۲۴۵۲	۱۰۰,۱	۲۳۵۱,۹
۱۳۸۲	۱۸۷۰	۱۴۴	۱۷۲۶
۱۳۸۳	۲۱۷۶	۳۰۶	۱۸۷۰
۱۳۸۴	۲۴۷۱	۳۸۴	۲۰۸۷
۱۳۸۵	۲۷۴۴	۴۱۶	۲۳۲۸
۱۳۸۶	۳۰۲۲	۴۵۴	۲۵۶۸

داضافي معلوماتو جدول

دافغانستان صادرات

شماره	د جنس نوم	۸٤ کال			۸۵ کال		
		د زرو په مقدار		واردوونکی هیوادونه	د زرو په مقدار پایه کچه	په میلون سره یې ارزښت	واردوونکي هیوادونه
۱	مالوچ په ټن سره	۰،۳۱	۰،٦	پاکستان،عربستان او نور ټول هیوادونه	۲،۷۸	۲،٦۳	د هندوستان، پاکستان،ایران او نور هییوادونه
۲	وړی په ټن سره	۲,٤٥	٥,۰۳	په ګهوګټوکي شریک هیوادونه، چین، المان،پاکستان، ایران، عربستان ...او	۱,٥٦	٤,٤۷	مشترک المنافع هیوادونو لکه چین، المان، پاکستان،ایران،عربستان او نور هیوادونه
۳	پوستکي په تخته	۳٦۱۷,۸۸	۲٤,٥۲	المان،پاکستان،عربستان او نور هیوادونه	۲۲۸۸,۲٤	۱٤,۱	مشترک المنافع هیوادونه، چین، هندوستان او پاکستان
٤	دقره قل پوستکی په تخته سره	٥۳٦,۸	٦,۲	دنمارک او فنلند	۱۰٤٤,٦۱	۹,۳٤	المان،پاکستان او نور هیوادونه
٥	کولمې په حلقه سره	۱۷٦,۲٦	۰,۱٦	پاکستان او نور هیوادونه	۱۰۱,۱۷	۰,٤	پاکستان او نور هیوادونه
٦	غوړ لرونکی حبوبات په ټن سره	۹,۳	٤,۸٥	مشترک المنافع هیوادونه، هندوستان ،پاکستان، ایران،عربستان او نور هیوادونه	۱۳,۸٦	۸,۰۸	مشترک المنافع هیوادونه، پاکستان، ایران، عربستان او نور ټول هیوادونه
۷	طبي نباتات په ټن سره	۷,۲٥	٤,٦۷	دګهوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، یران ،عربستان او نور هیوادونه	۷۰,۳٥	۳۹,۰۳	مشترک المنافع هیوادونه، هندوستان، پاکستان،ایران،عربستان او نور هیوادونه
۸	تازه میوې په ټن سره	٤۱,۸	۱۷,۲۳	دګهوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، یران ،عربستان او نور هیوادونه	۷۰,۳٥	۳۹,۰۳	مشترک المنافع هیوادونه هندوستان، پاکستان، ایران ،عربستان او نور هیوادونه
۹	وچې میوې په ټن سره	٤۳,٦۱	۸٦,۸۸	دګهوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، ایران ،عربستان او نور هیوادونه	۱۱۱,۱٦	۱۳٦,۱۲	مشترک المنافع المان، هندوستان، پاکستان او نور هیوادونه
۱۰	قالینې او ټغر په متر مربع سره	۱۹۸٥,۸	۲۰٦,۹٤	المان، پاکستان او نور هیوادونه	۲۰۲٤,۳۷	۱۸٦,٥۳	مشترک المنافع المان،هندوستان، پاکستان او نور هیدواونه
۱۱	نور ټول شیان	۰	۲٦,٦٤	دګهوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، ایران ،عربستان او نور هیوادونه		۱٥,٤۳	مشترک المنافع هیوادونه، هندوستان،پاکستان او نور هیوادونه
دټولو صادراتو مجموع په میلیون دالرو سره			۳۷۳,۷۲				

د اضافي معلوماتو جدول

شماره	د جنس نوم	۸٤ کال: د زرو په مقدار	۸٤ کال: په میلون سره ارزښت	۸٤ کال: واردوونکي هیوادونه	۸۵ کال: د زرو په مقدار پایه کچه	۸۵ کال: په میلون سره پي ارزښت	۸۵ کال: واردوونکي هیوادونه
۱	مالوچ په ټن سره	۱,۱	۱,۳٦	هندوستان، پاکستان	۰	۰	هندوستان، پاکستان،ایران او نور هییوادونه
۲	وړی په ټن سره	۵,۱۹	٦,۲	دګډو او مشترکوګټو کې شریک هیوادونه، …چین، المان،پاکستان، ایران، عربستان او	۰,۷۵	۳,٦٦	پاکستان، هندوستان، عربستان، ایران او نورهیوادونه
۳	پوستکي په تخته		۹,۲٤	ګډواو مشترکوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، ایران ،عربستان او نور هیوادونه	۹۷۳,۹۵۷۳	۱۲,٦۸	دګډو او مشترکوګټو لرونکي هیوادونه پاکستان، چین او نور هیوادونه
٤	دقره قل پوستکی په تخته سره	۱٤۳۹,٦۷	۸,٤٦	المان او نور هیوادونه	۷۵۸,۹	۸,۲	د ګډو او مشترکو ګټو لرونکي هیوادونه فنلند، او دنمارک
۵	غوړ لرونکي حبوبات په ټن سره	۱۹,۲۳	۱۱,٤۵	دګډواو مشترکوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، ایران ،عربستان او نور هیوادونه	۸	۵,۹	ایران، عربستان او نور ټول هیوادونه
٦	کولمې په حلقه	۳۵۸	۰,٤۳	پاکستان او نور هیوادونه	۷۲,۱	۰,۱۵	ټول هیوادونه
۷	طبي نباتات په ټن سره	۲۲,۵۹	۲۰,۲۲	دګډواو مشترکوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، ایران ،عربستان او نور هیوادونه	۲۲,۵٦	۱۹,۰۵	چین،هندوستان، پاکستان، ایران، عربستان او نور ټول هیوادونه
۸	تازه میوې په ټن سره	۱۲۷,۸۳	٤۱,۳۸	دګډواو مشترکوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، ایران ،عربستان او نور هیوادونه	٦۰,۷۷	۳۵,۷	دګډواو مشترکو ګټو لرونکي هیوادونه هندوستان، ایران،عربستان، پاکستان او نور هیوادونه
۹	وچې میوې په ټن سره	۸٤,۹۱	۱۱۷,٤۸	دګډواو مشترکوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان،ا یران ،عربستان او نور هیوادونه	۱٤٤,۱۸	۱۷۰,۹۷	د ګډو او مشترکو ګټو لرونکي هیوادونه هندوستان،پاکستان،ایران، عربستان او نور هیوادونه
۱۰	قالینی او ټغر په متر مربعي سره	۸٤,۹۱	۲۱۱,۷٦	دګډواو مشترکوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، ایران ،عربستان او نور هیوادونه	۱۱۷۱,۸	۱۰۸,۷	د ګډو او مشترکو ګټو لرونکي هیوادونه، هندوستان،پاکستان،چین او نور هیوادونه
۱۱	نور ټول شیان		۲٦,۰۷	دګډواو مشترکوګټو لرونکي هیوادونه هندوستان پاکستان، ایران ،عربستان او نور هیوادونه		۵۵,۸٦	د ګډو او مشترکو ګټو لرونکي هیوادونه پاکستان، ایران، عربستان، المان، هندوستان او نور ټول هیوادونه
په میلیونونو سره د ټولو صادراتو			٤۵٤,۰۵				

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، د متن، شکلونو او د لوست د جدولونو په کتنه دې لاندنیو پوښتنو ته ځوابونه ورکړي.

۱. په دې وروستیو کلونو کې د افغانستان بهرنۍ سوداګرۍ کومو هیوادونو سره زیاته شوې ده.

۲. په ۱۳۸۶ هـ ل کال کې کوم محصول له ۲۱۱ میلیونه ډالرو څخه زیات بهرته صادر شوی دی؟

۳. د افغانستان وچې اوتازه میوې زیاتره د نړۍ کومو هیوادونو ته صادریږي؟

٤. په ۱۳۸۵ هـ ل کال کې کوم هیواد ته په سلوکې ۲۲.۸ صادرات وو؟

پوښتنې:

۱. په تیرو کلونو کې د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ بیلانس مثبت و که منفي؟ د هغې لامل (علت) څه و؟

۲. افغانستان په کوم کال کې ډیر زیات صادرات او واردات لرل، ولې؟ د هغې لامل څه و؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د خپلې سیمې له یوه سوداګر، مالدار یا هټیوال سره مرکه وکړئ او له هغه څخه پوښتنه وکړئ چې خپله سوداګري په څه ډول پرمخ بیايي، مالونه او اجناس په څه ډول چمتو کوي او بیا هغه څرنګه پلوري او کومې ستونزې لري. همدارنګه ستاسو په نظر به دغه ستونزې په څه ډول حل شي، را ټول شوي معلومات مو په یوه پاڼه کې ترتیب، تنظیم اوولیکئ او هغه خپل ښوونکي او ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.

۳، ۴ بانک

۵۲- شکل

بانک څه شی دی او کوم فعالیتونه ترسره کوي؟

بانک یوه پخوانی کلمه ده چې د الماني ژبې د (Bank) له اصطلاح څخه اخېستل شوې ده، او د یو ډول شرکت معنا ورکوي، خو ځینې پوهان وايي چې بانک د ایټالوي ژبې له Banco څخه اخېستل شوې ده چې د څوکۍ معنا ورکوي. Banco هغه کوچنۍ څوکۍ وه چې پخواني صرافان به په هغې باندې کیناستل او صرافي کارونه به يې پرمخ وړل.

د هغه وخت د صرافي موسسې یا بانکونو په هماغه پخواني نوم او لارو چارو باندې ورو ورو پرمختګ وکړ، ښه والی يې وموند او د نن ورځې د ټولو اعتباري او پولي معاملاتوا وفعالیتونو مرکز وګرځید.

بانک بیلابیل تعریفونه لري. د افغانستان د بانکي چارو قانون بانک داسې تعریف کړی دی:

بانک هغه اداره یا حقوقي شخصیت دی چې له عامو خلکواو دولتي ارګانو نو څخه پیسې اخلي ساتي يې، په دوران کې يې اچوي. او همدارنګه بیرته پورونه ورکوي. داسې هم ویلای شو چې بانک هغه اقتصادي واحد دی چې په پرله پسې توګه اعتبار ترلاسه کوي او بیرته يې هم ورکوي.

همدارنګه د هیوادونو بانکي او سوداګریز قوانین د بانکونو ځینې فعالیتونو ته اجازه ورکوي خو ځینې نور غیر مجاز بولي، یعنې د حکومتونو له لوري د بانکونو ځینو فعالیتونو ته پولې ټاکل شوي دي، نو ویلای شو چې:

بانک هغه مؤسسه ده چې د يوه سهامي شرکت په توګه رامنځته او د هر هيواد د بانکي او سوداګريز قانون له مخې خپلې چارې پرمخ بيايي.

په پای کې ويلای شو چې هغه مؤسسه بانک بلل کيږي چې پولي، اعتباري او مالي چارې پرمخ بيايي.

بانکونه د هغوی د عملياتو او د کارونو د ډول له مخې بيلابيل دي، خو د ډيرو پوهانو په وينا بانک په عمومي توګه درې ډولونه لري:

- مرکزي بانکونه
- سوداګريز بانکونه
- تخصصي بانکونه

- **مرکزي بانکونه**

په ټولو هيوادونو کې مرکزي بانک د بانکي فعاليتونو اصلي سازمان ورکوونکی او څوځوونکی دی چې زياتره د دولتي بانک په بڼه کارکوي او په انتفاعي توګه خپلې چارې پرمخ بيايي. مرکزي بانک د بانکونو د مور په نوم هم ياديږي، همدارنګه ځينې خلک هغه ته د بانکونو بانک هم وايي، دا ځکه چې ددغه ډول بانک يوه دنده د نورو بانکونو څارنه او کنټرول کول دي.

۵۳- شکل

په افغانستان کې (د افغانستان بانک) مرکزي بانک دی چې د ۱۳۱۸ هـ ل. کال. د وري په میاشت کې یې د ۱۲۰ میلیونو افغانیو په ارزښت په کار پیل وکړ.

په عمومي توگه مرکزي بانکونه لاندینی دندې لري:

- د بانکنوټونو خپرول
- د اسعارو کنټرول
- د نورو بانکونو څارنه
- د بهرنیو اسعارو په وړاندې د داخلي یا ملي پیسو د ارزښت ثابت ساتل.
- په غوره توگه د استخدام لوري ته د اقتصاد لارښوونه او داسې نورې دندې.

- **سوداگریز بانکونه:**

په زیاترو هیوادو کې سوداگریز بانکونه هغو بانکونو ته ویل کیږي چې د لنډې مودې عملیات او د امانتونو دندې پرمخ بیایي. په لومړیوو ختونوکې چې کله سوداگریزو بانکونو نوی په کار پیل وکړ، ټولې هغه دندې چې نور بانکونه یې ترسره کوي، سوداگریزو بانکونو هم ترسره کولې یعنې دوی په صنعت، کرنه، د ودانیو په جوړولو او نورو چارو کې د پانگې اچونې دندې هم پرمخ بیولې، خو وروسته له دې

٥٤- شکل

چې ځانګړي بانکونه لکه، کرنيز بانک، رهني بانک او نور جوړ شول، د سوداګريزو بانکونو فعاليت محدود شو

- **تخصصي بانکونه**:

دغه بانکونه لکه د سوداګريزو بانکونو په شان عادي فعاليتونه او چارې پرمخ نه بيايي، بلکې په بشپړه توګه په ځانګړو برخو لکه په صنعت، کرنه او نورو کې فعاليت کوي او په همدغو برخو کې دندې پرمخ بيايي چې ښې بيلګې يې صنعتي بانک، کرنيز بانک او رهني بانکونه دي.

د ټولګي دننه فعاليت:

زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي او د نوي لوست د متن او تصويرونو په کتنې سره دې لاندينۍ دندې ترسره کړي اود خپلو دندو پايله دې د ډلې استازي له خوا ټولګيوالوته وړاندې کړي:

ـ لومړۍ ډله دې د بانک د کلمې، تعريفونو او دندو په هکله خبرې وکړي.

ـ دويمه ډله دې د مرکزي بانک دندې ووايي.

ـ درېمه ډله دې د سوداګريزو او ځانګړو تخصصي بانکونو دندې اوبيلګې توضيح کړي.

پوښتنې:

۱. د افغانستان بانک څه ډول بانک دی، پر کوم کال تاسيس او کومې دندې ترسره کوي؟

۲. په عمومي توګه بانکونه څو ډوله دي؟ د هغو نومونه له مثال سره ووایاست.

۳. د مرکزي، سوداګريزو او شخصي بانکونو ترمنځ څه ورته والی او کوم توپيرونه شته؟ توضيح يې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت:

که چيرې مو مور او پلار يا کوم خپلوان په بانک کې حساب ولري، هغوی سره خبرې وکړئ چې له څه وخت راهيسې، کوم بانک سره په څه ډول معامله لري، څه ګټه ترلاسه کوي او له اړوند بانک سره د خپلو اړيکو له امله خوښ دي که نه؟ خپل معلومات په بل ساعت کې د ټولګي ملګروته ووایاست.

د بانک د چارو د پرمخ بیولو څرنګوالی

۵۵- شکل

تاسې په تیر لوست کې له بانک او په هیواد کې د هغه له فعالیتونو سره آشنا شوئ.

تاسې په تیر لوست کې بانک او زموږ په هیواد کې دهغه دندې وپیژندلې. په دغه لوست کې به د بانکي چارو د څرنګوالي او انډول په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

په افغانستان کې بانکي چارې نظر نورو هیوادونو ته ډیرې نوې دي، د بیلګې په توګه له ۱۳۰۹هـ ل. کال څخه مخکې د بانکونو ټولې چارې صرافانو پرمخ بیولې، د لومړي ځل لپاره په ۱۳۰۹ هـ ل. کال کې (د افغانستان سهامي شرکت) د یوه سهامي شرکت په توګه جوړشو چې په ۱۳۱۲ هـ ل .کال کې د اته میلیونو افغانیو په لومړنۍ پانګه د هغه وخت د اړتیا له مخې د (ملي بانک) په نوم د یوه بانک په بڼه واوښت او د افغانستان بانک له جوړیدو مخکې یې د مرکزي بانک دندې تر سره کولې. وروسته بیا په ۱۳۱۸ هـ ل. کال کې د هغه وخت د اړتیا سره سم (د افغانستان بانک) د ۱۲۰ میلیونو افغانیو په لومړنۍ پانګې سره جوړ شو چې په تیر لوست کې مو د هغه د دندو په هکله معلومات حاصل کړل. وروسته بیا یو شمیر نور سوداګریز او دولتي تخصصي بانکونه یو په بل پسې جوړ شول لکه رهني او تعمیراتي بانک، کرنیز بانک، پښتنې تجارتي بانک، د صنعتي پراختیا بانک، صادراتي بانک او نور.

نومووړ بانکونو هر یوه په خپل وار د امنیت په شرایطو کې د پام وړ چارې پرمخ بیولي او د

سوداګري، صنعت، کرنې او د صادراتو د پراختيا په برخو کې يې لوی خدمتونه کړي او د هغو جوړېدل په هماغه وخت کې پرته له شکه د اقتصادي پرمختيا او سوکالۍ په لور د تګ په برخه کې ډېر اغيزمن کارو، خو د کورنيو جګړو په ترڅ کې چې ددې هيواد ټوله شتمني او بيخبنا له منځه ولاړه، همداسې هم دغه بانکونه د سقوط حالت ته نږدې شول، خو په دې وروستيو کې د هيواد په بانکي چارو کې يو شمير دپام وړ پرمختياوې ترسترګو کيږي.

لکه چې په تير لوست کې ولوستل شول، د بانکونو چارې له يو بل سره توپير لري، او د هغوی د دندو له مخې سره ويشل کيږي د بيلګې په توګه:

- (د افغانستان بانک) لکه د نورو هيوادونو په شان د هيواد مرکزي بانک دی چې ټاکلې دندې لکه د پيسو خپرول، د اسعارو کنترول، د نورو بانکونو څارنه، د اسعارو په وړاندې د ملي پيسو د بيې د ثبات ساتل او د مطلوب هدف خواته د اقتصاد رهنمايي په غاړه لري.
- سوداګريز بانکونه په ډيرو هيوادونوکې ځانګړي فعاليتونه لري چې په دې لړکې په افغانستان کې هم د لنډې مودې عمليات او د معيادي امانتونو دنده ترسره کوي.
- خصوصي بانکونه چې اوس يې زموږ په هيواد کې يو شمير لغوشوي يا فعاليت نه لري عادي چارې پرمخ نه بيايي بلکې په بشپړ ډول په تخصصي ډګرونو لکه صنعت، کرنه، او نورو کې په کار بوخت وو. په دې وروستيو کې په افغانستان کې د خصوصي بانکونو د بانکي چارو نوی قانون نافذ شوی دی او يو شمير نا دولتي بانکونه يا خصوصي بانکونه جوړشوي دي چې معمولا د سوداګرۍ په برخه کې فعاليت کوي. په افغانستان کې د خصوصي بانکونو مهم فعاليتونه دادي:

- د اماناتو منل
- د جاري حسابونو پرانيستل
- د کريډت يا پورونو ورکړه
- پولي انتقالات
- د قيمتي اجناسو او ګاڼو ساتل
- د اسعاري معاملو ترسره کول
- دولت ته د بانکي خدمتونو ترسره کول

اضافي معلومات

په افغانستان کې د بانکونو لست

گڼه	بانک	د بانک ډول	د جوړېدو نېټه	حالت
۱	افغان ملي بانک	دولتي	۱۳۱۲ هـ ش	فعال
۲	د افغانستان بانک	مرکزي	۱۳۱۸ هـ ش	فعال
۳	رهني او تعميراتي بانک	دولتي	۱۳۲۶ هـ ش	لغو شوی دی
۴	د کرنې د پراختيا بانک	دولتي	۱۳۳۳ هـ ش	//
۵	پښتني بانک	دولتي	۱۳۳۳ هـ ش	فعال
۶	د صنعتي پرمختيا بانک	دولتي	۱۳۳۷ هـ ش	لغو
۷	د صادراتو د پراختيا بانک	دولتي	۱۳۵۵ هـ	لغو شوی دی
۸	ستندرد چارتر بانک	د بهرنيو بانکونو فروع ((څانگه	۱۳۸۲هـ ش	فعال
۹	د پاکستان نشنل بانک	د بهرنيو بانکونو فروع ((څانگه	۱۳۸۲هـ ش	فعال
۱۰	حبيب بانک لمټډ	د بهرنيو بانکونو فروع ((څانگه	۱۳۸۲هـ ش	فعال
۱۱	پنجاب نشنل بانک	د بهرنيو بانکونو فروع ((څانگه	۱۳۸۲هـ ش	فعال
۱۲	بانک الفلاح لمټډ	د بهرنيو بانکونو فروع ((څانگه	۱۳۸۲هـ ش	فعال
۱۳	کابل بانک	نوی جوړ شوی	۱۳۸۳هـ ش	فعال
۱۴	افغانستان انټرنشنل بانک	نوی جوړ شوی	۱۳۸۳هـ ش	فعال
۱۵	ارین بانک	نوی جوړ شوی	۱۳۸۳هـ ش	فعال
۱۶	د کوچنيو پورونو د تمويل لومړنی بانک يا فيرست مايکرو فاينس بانک	نوی جوړ شوی	۱۳۸۲هـ ش	فعال

۱۷	عزيزي بانک	نوی جوړ شوی	۱۳۸۵هـ ش	فعال
۱۸	برک بانک	نوی جوړ شوی	۱۳۸۵هـ ش	فعال
۱۹	د افغانستان پرمختيايي بانک	نوی جوړ شوی	۱۳۸۵هـ ش	فعال
۲۰	افغان يونايټډ بانک	نوی جوړ شوی	۱۳۸۶هـ ش	فعال
۲۱	ميوند بانک	نوی جوړ شوی	۱۳۸۷هـ ش	فعال
۲۲	برکت بانک ان فارميشن	نوی جوړ شوی	۱۳۸۶هـ ش	فعال

۱۹۸۰	۱۹۸۱	۱۹۸۲	۱۹۸۳	۱۹۸۴	۱۹۸۵	۱۹۸۶	۱۹۸۷	۱۹۸۸	۱۹۸۹
۳۹/۷۷۹	۴۵/۶۶۵	۵۲/۹۷۳	۵۵/۶۹۱	۶۸/۷۰۷	۷۴/۴۲۴	۸۲/۹۵۶	۱۲۸/۰۸۹	۱۷۴/۸۶۷	۱۸/۸۶۱

په ۲۰۰۵ زیږدیز کال کې د افغانستان د بهرنیو پیسو زیرمه ۱.۳ میلیارده ډالره وه.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او ددغه لوست او پخواني لوست د متن په لوستلو سره دې لاندینی دندې ترسره کړي او د خپل فعالیت پایله دې په ټولګي کې وړاندې کړي:

۱. د افغانستان بانک دندې او د کارځرنګوالی مشخص او ولیکئ.

۲. په هیواد کې د تخصصي بانکونو دندې او د کارځرنګوالی مشخص او ولیکئ.

۳. د خصوصي او سوداګریزو بانکونو د کار ځرنګوالی او دندې ځرګندې او ویې لیکئ.

پوښتنې:

۱. د افغانستان بانک کومې مهمې دندې ترسره کوي؟ نومونه يې واخلئ.

۲. خصوصي بانکونه کومې دندې پرمخ بیايي؟ توضيح يې کړئ.

۳. زموږ په هیواد کې کومو تخصصي بانکونو فعالیت کاوه، کوم يې اوس فعال دي او کوم يې اوس غیر فعال دي؟ نومونه يې واخلئ؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

اته ویشتم او نهه ویشتم لوستونه ولولئ او د هغو د مهمو ټکو په هکله په راتلونکي ساعت کې معلومات ورکړئ.

۳،۵ د صنايعو او سوداګرۍ د حالت څېړل

د يوې صنعتي د ستګاه انځور.

د هيواد صنايع او سوداګري په کوم حالت کې دي؟

تاسې چې په دې څېرکي کې په پوره اندازه د هيواد له صنعتي او سوداګريزو چاروسره اشنا شوئ. ښه به داوي چې په عمومي توګه په افغانستان کې د صنايعو او سوداګرۍ حالت وڅېړو، ستونزې او خنډونه يې وپيژنو او هغه اسانتياوې او لارې - چارې چې د صنايعو او سوداګرۍ د ودې په برخه کې شته رابرسيره او وشنو.

که چېرې د هيواد هغه طبيعي او ټولنيز شرايط او عوامل چې زموږ د هيواد اقتصادي ودې او پرمختګ ته ضروري دي، وکتل شي، دې پايلې ته رسيږو چې افغانستان د خپلې ځمکې د جوړښت او بڼې، د کاني زيرمو يا ترځمکې لاندې سرچينو، د ځمکې د مخ سرچينو يعنې د نباتي او څارويو د منابعو، په سيندونو کې د روانو اوبو بهير، د هوا د برابروالي اونورو طبيعي ځانګړتياوو له مخې او د پوره بشري ځواک د شتوالي له مخې د نن ورځې د صنايعو د پرمختګ او پراختيا لپاره ډېر غوره امکانات لري، خو هغه ناوړه سياسي، اقتصادي، او ټولنيز شرايط چې د ۱۸ ـ ۱۹ او ۲۰ مې پيړۍ تر نيمايي پورې يو شمير هيوادوکې، په تيره بيا په اسيا، افريقا او لاتينه امريکا کې

او له هغې ډلې څخه په افغانستان باندې واکمن وو، په دغو هیوادو کې د اقتصادي پرمختیا خنډ شوي وو.

په افغانستان کې د یوې اوږدې مودې په ترڅ کې په تیرو وختونو کې د زبرځواکونو ترمنځ سیالي د پانګې اچونې په مخه کې خنډ ګرځیدلې وه، همدارنګه له دې امله چې زموږ هیواد په وچه کې ایسارو، دې ډول جغرافیایي موقعیت هم د صنعت او سوداګرۍ د پرمختیا په لار کې خنډ پیښ کړی دی. ددې ترڅنګ کورنیو جګړو نه یوازې داچې ددغه هیواد بشري ځواک ته زیان واړاوه، په افغانستان کې د میلیونونو وګړو د تېښې کیدو، معیوب کیدو او مهاجرکیدو لامل شو بلکې روزنیز مرکزونه هم وتړل شول او زموږ خلک له ښوونې او روزنې څخه پاتې شول، پوره اندازه فني او مسلکي پرسونل ونه روزل شول او زیات شمیر صنعتي تاسیسات او فابریکې په تپه ودریدې، همدارنګه لارو او مواصلاتي کرښو ته چې د صنعت او سوداګرۍ په پرمختیا کې ډیر اهمیت لري لوی زیان واوښت له همدې امله ده چې په افغانستان کې صنعت او سوداګرۍ ښه حالت نه لري او تقریباً په سلوکې لس فعال اقتصادي نفوس د صنعت په سکتور کې او څه ناڅه په سلوکې لس په خدماتو او په ځانګړي ډول په سوداګرۍ کې بوخت دي.

زموږ د هیواد واردات د صادراتو پرتله څو څو ځله زیات دي او یو بشپړ منفي بیلانس چې د بیوزله اقتصاد نښه ده، ښکاره کوي. تاسې د افغانستان د سوداګرۍ د بیلانس په جدول کې ولیدل چې افغانستان په ۱۳۸۶هـ ل. کال کې د ۳۰۲۲ میلیونو ډالرو په ارزښت واردات درلودل، خو صادرات یې یوازې ٤٥٤ میلیونه ډالره وو، چې ۲٥٦۸ میلیونه ډالره توپیر یا منفي بیلانس څرګندوي. افغانستان چې ډیرې غوره دګرځندوی سیمې لري، دګرځندوی لپاره هم پوره اسانتیاوې نه دې برابرې شوي او د نا امنۍ له کبله د بهرنیو ګرځندویانو راتګ ډیر لږ دی. په هر حال، که چیرې زموږ په هیواد کې یو سالم اقتصادي سیاست ترکار لاندې ونیول شي، د هیواد له ترانزیتي ارزښت او کورنیو منابعو څخه به سم کار واخیستل شي، د لویو لارو او مواصلاتي کرښو حالت به ښه شي، د ملي صنایعو او ملي سوداګرو ملاتړ به وشي، نو په هیواد کې به د صنعت او سوداګرۍ د پرمختګ لپاره ډیر غوره امکان برابر شي. د یادونې وړ ده چې په دې څو وروستیو کلونو کې په ځینو برخو کې د نړیوالې ټولنې په مرسته د بیارغاونې چارې ترسره شوي دي، سړکونه بیارغول شوي، په هیواد کې

بانکي چارې بیرته فعالې شوي او پراختیا یې موندلې ده او که چیرې په راتلونکو کلونو کې په هیواد کې د بریښنا د تولید لوی بندونه جوړ شي، د هیواد د اوبو سرچینو څخه اعظمي استفاده وشي، د هیواد لاسي صنایع وهڅول شي او د لومړنیو خامو توکو د صنعتي کیدو لپاره فابریکې جوړې شي، غوره سوداګریزې اسانتیاوې چمتو شي، نو د هیواد خلک به د صنعت او خدماتو په سکتورونو کې لازیات بوخت شي او په هیوادکې به اقتصادي ودې ته ډیره ښه لاره برابره شي.

۵۷- شکل

د افغانستان د صادروونکو میوو انځور.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې د ښاغلي ښوونکي په لارښوونه په ډلو وویشل شي، لومړۍ ډله دې په هیواد کې د صنعت د پرمختګ اونه پرمختګ لاملونه وشمیري ، دویمه ډله به په هیواد کې د سوداګرۍ د پرمختیا اونه پرمختیا په هکله بحث وکړي او د خپل بحث پایله به نورو ته ووایي.

پوښتنې:

په خپلو کتابچو کې د سم ځواب له توري څخه کړۍ تاوکړئ.

۱ـ هغه لویه برخه یا سکتور چې زموږ د هیواد ډیر وګړي په کې بوخت دي کوم یو دی؟

الف. صنعت ب. کرنه ج. خدمات د. یوهم نه

۲ـ هغه طبیعي عوامل چې په هیواد کې د صنعت د پرمختیا لپاره لاره اواروي کوم یو دي؟

الف. کاني سرچینې ب. د نباتاتو او څارویو تولیدات ج. غالی، ټغر د. درې واړه سم دي.

۳ـ د افغانستان ډیر مهم صادراتي محصولات کوم دي؟

الف. ګرانبیه ډبرې ب. د نباتاتو او څارویو تولیدات ج. اقلیم د. درې واړه سم دي

٤ـ د افغانستان زیات واردات دا جوتوي چې:

الف. افغانستان ډیرې پیسې لري ب. په افغانستان کې توکي او محصولات لږ تولیدیږي

ج. افغانستان کمزوری اقتصاد لري د. ب او ج ځوابونه سم دي.

کورنۍ دنده

دریم څپرکی مطالعه کړئ د افغانستان د سوداګرۍ اوضایعو په هکله په شفاهي توګه لنډ معلومات ورکړئ

اوبه او کرنه

په دې څپرکي کې لولو:

- په نړۍ کې اوبه او په هغو باندې پانګه اچونه
  - د اوبو لګولو لويې پروژې
  - د اوبو چاڼول (تصفيه)
- کرنه او د هغې نوې لارې ـ چارې
- د نړۍ پر مختلفو هېوادونو کې د کرنيزو توليداتو د بېلا بېلو ډولونو اندازه
  - په نړۍ کې د غنمو توليدات
  - په نړۍ کې د وريجو توليدات
  - په نړۍ کې د جوارو توليدات
  - په نړۍ کې د کچالو توليدات
  - په نړۍ کې د غوښې توليدات

د څپرکي عمومي هدفونه:

زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره لاندنيو پوهنيزو موخوته ورسيږي:

- په نړۍ کې به د اوبو مهمې پروژې وپېژني.
- د اوبو په برخه کې به د پرمختللو هېوادونو د پانګې اچونې په هکله پوهه ترلاسه کړي.
- د اوبو د چاڼولو له پرمختللو لارو – چارو سره به آشنا شي.
- د کرنې په پرمختللو لارو ـ چارو (لکه په نل ليکو(پايپ لينونو) خړوبولو، سيفون او نورو) باندې به پوه شي.
- په پرمختللو هېوادونو کې به د کرنيزو محصولاتو د توليد په اندازه و پوهيږي.

زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره لاندنيو مهارتي هدفونوته ورسيږي:

- د نړۍ د اوبو لويې پروژې به معرفي کړی شي.
- د اوبو په برخه کې به د پانګې اچونې اهميت تشريح کړی شي.
- د اوبو د چاڼ پرمختللې لارې ـ چارې به توضيح کړی شي.
- په خپلو باغچو کې به د کرنې له پرمختللو لارو- چارو څخه کار واخېستلی شي.

دوه ديرشم لوست

۴، ۱ په نړۍ کې اوبه او په هغو باندې پانگه اچونه



ايا د ځمکې پرمخ پوره اندازه اوبه شته؟

دنړۍ په بيلابيلو هيوادو نوكې د څښلو د اوبو كيفيت.

اوبه زموږ په ژوند کې ځانگړی ارزښت لري. پرته له اوبوڅخه وني، بوټي، څاروي او انسانان ژوندي نه شي پاتې کيدای. اوبه په ټوله ځمکه باندې يوشان او برابرې ويشل شوي نه دي. د ځمکې د مخ په سلوکې ۷۰ برخې اوبو نيولې چې له هغو اوبو څخه په سلوکې ۹۷ برخې يې په سمندرونو او سمندرگيو کې دي چې مالگينې دي يعني ښښلو، کرنې او صنعت ته برابرې نه دي، نو د چاښولو غوښتنه کوي، پاتې په سلوکې درې برخې اوبه خوږې او تازه اوبه دي چې له هغو څخه يوازې په سلوکې يوه برخه يې سيندونو، د ځمکې لاندې اوبه او په ځينو ډنډونه (جهيلونه) دي چې انسان په هغو باندې لاسبرى لري. د خوږو اوبو پاتې په سلوکې دوه برخې د غرونو او قطبونو دايمي کنگلونه او واورى دي، چې د گټې اخېستو وړ نه دي.

دلته به د ټولې نړۍ په کچه د اوبو په هکله ځيني ارقام او حقايق بيان کړو:

- اوبه د ژوند تر ټولو لومړنۍ اړتيا ده، پرته له اوبو څخه انسان په دريو ورځوکې مري.
- په اوسني وخت کې د نړۍ له شپږو ميلياردو وگړو څخه له يو ميليارد تنو څخه زيات خلك خوږې او پاکې اوبه نه لري.
- په پرمختيايي هيوادوکې په سلوکې اتيا ناروغۍ د ككړو اونا پاكو اوبو له امله دي.
- په سلوکې اويا برخې اوبه په کرنه کې لگول کيږي.
- د کرنې په سلوکې ۳۶ محصولات له خړوبولو څخه وروسته ترلاسه کيدای شي.
- دا شکل له مخې په ۲۰۵۰ م کال کې به د نړۍ نفوس ۹.۳ ميلياردو تنه وي چې له هغو څخه ۲.۳ ميلياردو به يې د ښښلو د اوبو له کمښت سره مخامخ وي.
- تيرو پنځو کلونو کې له ۵۰۷ څخه زياتې شخړې او جگړې د اوبو پرسر پيښې شوي دي، چې په هغو کې يې ۲۱ وسلوالې نښتې وې.

لکه چې مخکې ووېل شول، انسان د خپلو کارونو د پرمخ بیولو لپاره هغو خوړو اوبوته اړتیا لري چې مالګه یې ډېره لږه وي. د لویو سمندرونو او سمندرګیو اوبه مالګینې دي چې له هغو څخه د ګټو اخېستو په خاطر باید هغه پاکې اوچاڼ شي، د اوبو د چاڼولو په خاطر باید د خوړو اوبو د تاسیساتو په جوړولو پانګه ولګول شي.

یوزیات شمیر پرمختیایي هیوادونه، په تیره بیا په اسیا او افریقا کې د څښلو د پاکو اوبو له کمښت سره مخامخ دي. د منځنۍ ختیځ هیوادونه، د اوبو د اړتیا د پوره کولو لپاره ډېرې زیاتې پیسې لګوي. د نړۍ په یو شمیر زیات نفوس لرونکو سیمو او لویو ښارونو کې د سیندونو طبیعي سرچینې او ځاګانې کافي نه بلل کیږي، د بیلګې په توګه د مکسیکو په ښارکې اوبه د ۱۲۵ کیلومترو په واټن په نل لیکه کې لیږدول کیږي او د ۱۲۰۰ مترو لوړو غرونو څخه هاخوا اړول کیږي او د پمپ په واسطه اړو سیمو ته رسول کیږي.



۵۹- شکل
د اوبو سر چینې اوله هغه څخه ګټه کول.

په عمومي توګه ویل کیدای شي هغه څه چې د پاکو او مناسبو اوبو د چمتو کولو لپاره باید ترسره شي، په لاندنیو برخو کې پانګې اچونې ته اړتیا لري:

- د اوبو د هغو سرچینو پیژندل او رابرسیره کول چې د خلکو د څښاک اونورو اړتیاوو لپاره په کار دي.
- د ځمکې د مخ د اوبو راټولول او د ځمکې لاندې اوبو څخه ګټه اخېستل.
- د احتمالي ککړوالي د له منځه وړلو په موخه د اوبو چاڼول.
- له ځانځای څخه د لګښت ترسیمو پورې د اوبو لیږدول.
- د اوبو د لیږد د نل لیکو، کانالونو او تاسیساتو څارنه.

په دې توګه د اوبو د چمتو کولو، چاڼول او رسول د ډیر لګښت غوښتنه کوي او باید له هغو څخه د کار اخېستنې پرمهال ډیر پام وشي.

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي، لاندیني فعالیتونه دې ترسره کړي او د خپل کار پایله دې په ټولګي کې وړاندې کړي:

ـ د لوست نقشې ته وګورئ او څرګنده کړئ چې د ځمکې د مخ کومې برخې په سلوکې له ۹۵ او کومې برخې په سلوکې ۷۵ څخه لږې د څښلو او پاکې اوبه لري.

ـ د اوبو د سرچینو اوله هغو څخه د کار اخېستلو شکل مطالعه او واضحه کړئ چې کوم هیوادونه هره ورځ تر ټولو زیاتې اوبه لګوي او کوم یې تر ټولو لږې، ستاسې له نظره ددې لاملونه کوم دي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د لوست متن، نقشه او شکل وګورئ او له هغو څخه په استفادې سره په افغانستان کې د اوبو د ستونزو او امکاناتو په اړه معلومات ورکړئ

الف - د اوبو لګولو لويې پروژې



٦٠- شکل

له اوبو څخه باید څه ډول ښه ګټه واخلو؟

په تیر لوست کې په دې حقیقت باندې و پوهیدئ چې د ځمکې پرمخ له ټولو اوبو څخه یوازې په سلوکې درې خوږې اوبه دي او وګړي له هغو څخه یوازې په سلوکې یوه برخه د څښلو، د کرنیزو ځمکو د خړوبولو او صنعت لپاره کاروي. د لویو سمندرونو او سمندرګیو اوبه تروې (مالګينې) دي، له هغو څخه د کار اخیستو په خاطر باید هغه چاڼ او تصفیه شي.

د شلمې پیړۍ د نوییمو کلنو په پای کې د نړۍ په کچه احساس شوه چې د ځمکې پرمخ د اوبو کمښت یوه لویه ستونزه ده. په هغو سیمو کې چې هلته د اوبو کمښت ترسترګو کیږي، خلک له بیلابیلو لاروچارو څخه په کار اخیستو سره خپلې اړتیاوې پوره کوي.

د نړۍ په هغو سیمو کې چې هلته اورښت څه ناڅه کافي دی او اندازه یې په کال کې تر ٤٥٠ میلي مترو پورې رسیږي، د اورښت په لنده بل سره کرنه کېدای شي، خو د لږ باران لرونکو سیمو کې باید د کرنې د پرمخ بیولو لپاره ونو- بوټو ته اوبه ورسول شي او ځمکې خړوبې شي.

څیړنو ښودلې ده چې کرنه د ټولې نړۍ په کچه په سلو کې اویا برخې اوبه لګوي. د کرنې په سلوکې ۳٦ محصولات د کرنیزو ځمکو په خړوبولو سره ترلاسه کیږي. له دې امله چې د نړۍ په ډیرو برخو کې اوبه لګول په فني بڼه نه ترسره کیږي، د ناسمو اوبو لګولو له امله په سلوکې ٦٠ اوبه له لاسه وځي. موږ همدا حالت په خپل هیواد کې هم لیدلای شو.

ګڼ میشته او کرنیزې ځمکې د خړوبولو لپاره ډیرو اوبوته اړتیا لري، دا ځکه چې د یو کیلوګرام غلې د ترلاسه کولو په خاطر زرو لیټرو اوبوته اړتیا ده. هغه سیمې چې هلته اورښت لږوي، باید د کرنیزو محصولاتو د ترلاسه کولو لپاره ځمکې خړوبه شي، چې دا کار د کانالونو د کیندلو، د بندونو د جوړولو، د اوبو لګولو د لویو پروژو او د څاګانو کیندلوته اړتیا پیښوي. د اسیا په ځینو سیمو لکه په منځني ختیځ، د افریقې ځینو سیمو، د امریکې متحده ایالاتو او ان داچې زموږ په خپل هیواد کې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره بیلابیلې لارې - چارې کارول کیږي. د نړۍ یو شمیر هیوادونه لکه اسرائیل د اوبو له زیات کمښت سره مخامخ دي، ددې لپاره چې ددې اوبو له لاسه ورکولو او بړاس کیدو څخه مخنیوی وکړي، د پایپ (نل) په واسطه د هر جلا جلا بوټي ریښوته اوبه ور رسوي. نوموړی هیواد د اړتیا وړ خپلې اوبه له ترکیې څخه چې ډیرې اوبه لري، د نل لیکو په واسطه لیږدوي. په دې توګه مونږ ویلای شو چې د نړۍ هغه شمیر هیوادونو چې پوره اورښت نه لري، د خپلو کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو لګولو بیلابیل سیستمونه جوړ کړي دي.



٦١- شکل

د اوبو د چاڼولو شکل

ب ـ د اوبو چاڼول (تصفیه):

۶۲ - شکل

د پاشلو په بڼه د اوبو لګولو یو ډول چې په پایپ سره ترسره کیږي

اوبه ولې او څرنګه باید چاڼ (تصفیه) شي؟

په نړۍ کې یوازې داوبو کمښت یوه لویه ستونزه نه ده، بلکې له هغو څخه ناسمه استفاده هم یوه لویه ستونزه ده چې د اوبو د ضایع کیدلو سبب کیږي. سربېره پر دې انسانان د خپلو بې سنجشه عملونو له امله د اوبو د ککړتیا لامل کیږي. د اوبو، ککړتیا یعنې په هغوکې فزیکي، کیمیاوي او میکروبي بدلونونه دي چې د هغو په پېښېدو سره انسان نه شي کولای له اوبو څخه سمه او روغتیایي ګټه واخلي.

له کورونو او صنعتي تاسیساتو څخه په اوبو کې د ناپاکیو ور اچول، د صنعتي فاضله اوبو، ورګډول، د روغتونونو او کورونو څخه د ناپاکو اوبو ورګډول او هغه تودوخه چې د کارخانو د ماشینو له امله په اوبو ور زغمل کیږي او داسې نور ټول لاملونه د اوبو، د ککړتیا او تودیدو سبب کیږي چې دا ټول ولاړو اوبو او د سیندونو ژوندیو ژووو ته زیان رسوي.

همدارنګه د ونو ـ بوټو د ناروغیو ضد درمل او کیمیایي سرې چې په کرنیزو ځمکو کې کارول کیږي هم د اوبو د خاورې د ککړتیا لامل ګرځي، نو ځکه هغه اوبه چې په کرنه، صنعت او د کور په چاروکې په کاریږي، باید پاکې او خوږې وي او وروسته تر استعمال څخه مخکې له دې چې له جهیلونو اوسیندونو سره ګډې شي باید له کیمیاوي او فزیکي پلوه چاڼ شي. همدارنګه مخکې تردې چې د ځمکې د مخ له اوبو څخه د څښلو د اوبو په توګه کار واخلو باید چاڼ شي.

تاسې د اوبو د چاڼولو په شکل کې ولیدل چې اوبه په ځینو سیمو کې د چاڼولو بیلابیل پړاوونه

تیروي تر څو چې د ښښلو وړ وګرځي، یاهم پرته د کومې ستونزې له پیداکولو څخه د ژوند په چاپیریال کې وبهیږي.
له دې امله چې د ځمکې د مخ اوبه د هرې ورځې په تیریدو سره ککړیږي، د اوبو د چارو شرکتونو ته دا ستونزمنه ده چې د نړۍ په کچه پاکې او روغتیایي اوبه تولید کړي. د نړۍ په ډیرو برخو کې د ځمکې لاندې پاکو اوبو څخه چې معمولا پاکې دي یاهم ډیر لږ او عادي چاڼول غواړي، د ښښلو لپاره کار اخېستل کیږي. په لویدیځو هیوادونو کې د ناولو اوبو فاضلابونو څخه د بیا دوران (Recycle) په بڼه د ښښلو اوبه ترلاسه کوي چې د جلاچڼ ځای په واسطه د څوڅو پړاوونو په ترڅ کې ښاریانو ته بیا د استفادې وړ ګرځي.

د ټولګي دننه فعالیت:

د اوبو د پروژو نقشه وګورئ، لاندنیو پوښتنو ته ځواب ووایئ؟
۱ـ کوم هیواد تر ټولو زیات د اوبو بندونه لري؟ نومونه یې واخلئ.
۲ـ د سوډان هیواد د سمندري اوبو، د چاڼولو څو چاڼځایونه لري او د کوم سمندرګي اوبه چاڼوي او کار ورڅخه اخلي؟
۳ـ د نیل د سیند او د هغه پر مرستیالانو باندې څو بندونه جوړشوي دي او د څو نورو بندونو د جوړولو پلانونه لري؟
٤ـ کوم هیوادونه تر ځمکې لاندې اوبو څخه کار اخلي؟

پوښتنې:

۱ـ د نړۍ د کرنیزو محصولاتو په سلوکې څو برخې د کرنیزو ځمکو په خړوبولو سره ترلاسه کیږي؟
۲ـ څڅول (قطره یي) یاد نل لیکو په واسطه خړوبول ولې او څرنګه ترسره کیږي؟ توضیح یې کړئ.
۳ـ اوبۀ څرنګه ککړیږي او د ککړو اوبو چاڼول څرنګه کیږي؟
٤ـ د سمندرونو او سمندرګیو له اوبو څخه ولې ډیر لږکار اخېستل کیږي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د اوبو اړوند لوستونه وګورئ، د اوبو ارزښت، د هغو د ستونزو لکه کمښت، ککړتیا، ناسمو کارولو او چاڼولو په هکله او د اوبو د اغیزمنې کارونې په اړه په شفاهي توګه خبرې وکړئ.

۲،۴ کرنه او د هغې نوې لارې - چارې

په هالنډ کې میکانیزه کرنه

۶۳ - شکل

د لوست تصویرونه وګورئ!
د کرنې نوې لارې چارې په کوم تصویر کې د کومو نښو له مخې لیدل کیږي؟

کرنه د انسان د لومړي ډول فعالیتونو له ډلې څخه شمیرل کیږي. انسانان د خپلو اړتیا وړ شیانو لکه خوراک، کور، پوښاک او د ژوند د پرمخ بیولو وسایلو او د سون توکو د چمتوکولو لپاره په طبیعي چاپیریال پورې تړلي دي. چې په دې لړ کې کرنه د انسانانو تر ټولو لومړنۍ اړتیا ده. له همدې امله بشري ټولنې تل د طبیعي چاپیریال د بنې په بدلون او تولید لاس پورې کوي. انسان د خاورې، طبیعي غوره اوبو او هوا او د خپل ځواک او نورو امکاناتو لکه د تخم کرل، سرې، پانګې او د کرنیزو وسایلو څخه کار اخېستلو سره له ډیر پخوا څخه کرنیزې چارې په بیلابیلو بڼو پرمخ بیولې دي.

سره له دې چې د نوو اوپر مختللو کرنیزو لارو - چارو په غوره کولو او د عصري تخنیکونو او وسایلو څخه په کار اخېستو سره کرنې د پام وړ پرمختګ کړی، په تیره بیا په پرمختللو هیوادونو کې په دې برخه کې ډېره پرمختیا شوې ده، خوبیاهم په اوسني وخت کې په ټوله نړۍ کې له ۸۰۰ میلیونو تنو څخه زیات خلک په خوار ځواکۍ باندې اخته دي او له دوه میلیونو څخه زیات وګړي د خوراکي توکو له کمښت سره مخامخ دي.

د کرنې لارې - چارې او سیستمونه هم په ټوله نړۍ کې یوشان نه دي، لکه څرنګه چې د کرنې د سیستمونو د مهمو ډولونو په نقشه کې ښکاري، موږ کولای شو په ټوله نړۍ کې د کرنې دوه ډوله مهم سیستمونه سره بیل کړو:

• **عنعنوي یا دودیز سیستم**: په دودیز کرنیز سیستم کې د انساني ځواک او وروسته پاتې لومړنیووسایلو

ځخه کار اخېستل کیږي چې نوبتي کرنه د ځارویو د رمو ساتنه او د آسیا په جنوب ختیځ کې په مرطوبو سیمو کې د وریجو کرل د هغه بیلګه ده. په د غه ډول کرنیز سیستم کې د تولید اندازه او اقتصادي ګټه ډېره لږ ه ده او کوم کرنیز محصولات چې تر لاسه کیږي، یوازې د بزګر د کورنۍ اړتیا پوره کولای شي. دغه ډول کرنه د پرمختیایي هیوادونو په ډیرو برخو کې لیدل کیږي.

• **تجارتي یا میکانیزه سیستم**: په دغه سیستم کې د کرنې له پرمختللو لارو ـ چارو او نوو وسایلو لکه تراکتور، کمپاین، اصلاح شوو تخمونو او کیمیاوي سرې ځخه کار اخېستل کیږي. کرنیزې کروندې پراخه وي او د تولید اندازه پوره زیاته وي. همدارنګه د کرنیزو توکو تولید د صادراتو د خرڅلاو لپاره وي. نوموړی پرمختللی سیستم معمولاً په صنعتي او پرمختللو هیوادوکې ترسترګو کیږي.

له دې امله چې د نړۍ نفوس په تیره بیا په پرمختیایي او کرنیزو هیوادونو کې مخ په زیاتیدو دی او دوی د کرنیزو تولیداتو زیاتوالي ته زیاته اړتیا لري، نو دا ددې غوښتنه کوي چې د کرنې نوې لارې ـ چارې د چاپیریال ساتنې سره یوځای وي. کرنې ته باید دوامدار کار وشي او له خاورو او اوبو ځخه معقوله او غوره استفاده وشي.

خاوره چې د ونو ـ بوټو د کرلو لپاره ځانګړی ارزښت لري، باید له شړیدلو، ویجاړیدو او شاړې پاتې کیدو ځخه وساتل شي، باید د هغې د ککړتیا مخه ونیول شي او په پرمختیایي هیوادوکې باید د ځنګلونو د پرې کولو چې د خاورې ساتنه کوي مخه ونیول شي، باید د اوبه خور او خړوبولو تخنیک ښه شي، د خاورې د بډایه کیدو په خاطر باید په کرونده کې بیلابیل بوټي وکرل شي، داوبو د زیرمه کولو او ایسارولو لپاره باید

٦٤ - شکل

په اروپا کې د یوې کروندې انځور چې د میکانیزه او پرمختللې کرنې یوه بیلګه ده

ذخیرې او د اوبو بندولو بندونه جوړ شي.

د کرنې یوه نوې لاره همدا ده چې له اوبو څخه غوره استفاده وشي. هغه هیوادونه چې د هغو کرنیز تولیدات په اوبو پورې تړلي دي او د اوبو له کمښت سره مخامخ دي، هڅه کوي چې له اوبو څخه اغیزمنه ګټه واخلي چې یوه بېلګه یې قطره یي یا په نل لیکو کې داوبو رسول دي چې په تیر لوست کې ورڅخه یادونه شوې ده. د کرنې د پرمختګ لپاره داهم اړینه ده چې د کرنیزو محصولاتو لپاره د خرڅلاو ښه بازار و موندل شي. ځینې پرمختللي صنعتي هیوادونه او په دې لړ کې د اروپا د اتحادیې غړي هیوادونه د بزګرانو د ملاتړ لپاره سبسایدې او مالي مرستې هم کوي او د کورنیو محصولاتو د پیاوړتیا په خاطر یې یوګډ کرنیز سیاست غوره کړی دی. ددې موخې لپاره دوی له پرمختیایي هیواد څخه د کرنیزو محصولاتو د واردولو په برخه کې لوړې ګمرکي تعرفې وضع کوي او په حقیقت کې د ازادې سیالۍ مخه نیسي، د دوی دغه سیاست د سوداګرۍ د نړیوال سازمان له مخالفت سره مخامخ شوی ځکه چې نوموړی سازمان د ازاد او بې قید او شرطه سوداګرۍ پلوي دی.



په نړۍ کې د کرنې د سیستم ستر ډولونه

۶۵- شکل

د فرانسې په شمال کې د صنعتي بوټو د کروندې انځور

٦٦- شکل

د ټولګي دننه فعالیت:

په نړۍ کې د کرنې د مهمو سیستمونو د نقشې په کتلو سره لاندنیو پوښتنوته په څلور کسیزو ډلو کې ځواب ورکړئ:

۱. نوښتي کرنه چې یو ډول دودیزه کرنه ده، په عمومي توګه د نړۍ په کومو برخو کې رواج ده؟
۲. تجارتي کرنې (ګډکښت) د نړۍ په کومو برخو او سیموکې پراختیا موندلې ده؟
۳. د کرنې لپاره نا مناسبې ځمکې د نړۍ په کومو برخو کې دي او ستاسې له نظره ولې کرنې ته مناسبې نه دي؟

پوښتنې:

۱. څو ډوله کرنیز سیستم یا کرنیزې لارې ـ چارې شته، نوم یې واخلئ.
۲. قطره یې اوبه لګول څه ډول دي او موخه یې څه ده؟
۳. د کرنې لپاره نامناسبې ځمکې د نړۍ په کومو برخو کې دي او ستاسې له نظره ولې کرنې ته مناسبې نه دي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د لوست، متن، تصویرونه او نقشې وګورئ او په راتلونکي لوست کې د هغو په هکله معلومات بیان کړئ.

د نړۍ په پرمختللو هیوادونو کې د کرنیزو تولیداتو د بیلابیلو ډولونو اندازه

الف) په نړۍ کې د غنمو تولیدات ۲۰۰۵ کال
ټول تولیدات ۶۲۸۱۰۱۰۳۵ ټنه
(د هر هیواد د تولیداتو سلنه (فیصدي



۱- چین	۱۵.۹
۲- هندوستان	۱۲.۵
۳- د امریکې متحده ایالات	۹.۱
٤- روسیه	۷.۵
۵- فرانسه	۵.۹
٦- کاناډا	٤.۱
۷- استرالیا	۳.۸
۸- المان	۳.۸
۹- پاکستان	۳.٤
۱۰- ترکیه	۳.۳
۱۱- نور هیوادونه	۳۲.۲

ب) په نړۍ کې د وریجو تولیدات ۲۰۰۵ کال
ټول تولیدات ۶۱۸۵۳٤۹۸۹ ټنه
(د هر هیواد د تولیداتو سلنه (فیصدي



۱- چین	۳۰.۰
۲- هندوستان	۲۰.۹
۳- اندونیزیا	۸.۷
٤- بنګله دیش	٦.۵
۵- ویتنام	۵.۹
٦- تایلند	٤.٤
۷- میانمار(برما)	٤.۰
۸- فلپین	۲.٤
۹- برازیل	۲.۱
۱۰- جاپان	۱.۸
۱۱- نور هیوادونه	۱۳.۳

٦۷- شکل

په ۲۰۰۵ م کال کې کومو هیوادونو ډیر زیات غنم، وریجې او جوار تولید کړي وو؟

ددغه لوست شکلونه وګورئ. لکه چې په (الف) شکل کې ښکاري، په ۲۰۰۵ م کال کې په نړۍ کې ۶۲۸۱۰۱۰۳۵ ټنه غنم تولیدشوي دي چې په سلو کې ۱۵,۹ یې په چین کې تولید شوي دي. له چین څخه وروسته په ترتیب سره په سلوکې ۱۲,۵ په هندوستان کې، په سلوکې ۹,۱ د امریکې په متحده ایالاتو کې، په سلوکې ۷.۵ په روسیه کې، په سلوکې ۵,۹ په فرانسه کې، په سلوکې ٤,۱ په کاناډا کې، په سلوکې ۳,۸ په استرالیا کې، پاتې په سلوکې ۳۲,۲ غنم په دغه کال کې د نړۍ په نورو هیوادونو پورې اړه لري.

په (ب) او (ج) تصویرونو کې د وریجو، جوارو، کچالو او د غوښې تولیدات په ټوله نړۍ کې ښوول شوي دي:

ب) په نړۍ کې د وريجو توليدات ۲۰۰۵ کال
ټول توليدات ٦٩٤٥٧٥٥٥۲ ټنه
(د هر هيواد توليداتو سلنه (فيصدي

۱ـ د امريکې متحده ايالات	٤۰.۳
۲ـ چين	۱۹.۱
۳ـ برازيل	٥.۰
٤ـ مکسيکو	۳.۰
٥ـ ارجنتاين	۲.۸
٦ـ ؟	۲.۱
۷ـ فرانسه	۱.۹
۸ـ اندونيزيا	۱.۷
۹ـ سهيلي افريقا	۱.۷
۱۰ـ ايټاليا	۱.٥
۱۱ـ نور هيوادونه	۲۰.۹



ب) په نړۍ کې د وريجو توليدات ۲۰۰۵ کال
ټول توليدات ۳۲۱۰٦۰۸٥۲ ټنه
(د هر هيواد توليداتو سلنه (فيصدي

۱ـ چين	۲۲.۷
۲ـ روسيه	۱۱.۳
۳ـ ؟	۷.۸
٤ـ اوکراين	٦.۱
٥ـ د امريکې متحده ايالات	٦.۰
٦ـ المان	۳.٥
۷ـ پولنډ	۳.٤
۸ـ بيلاروسيه (سپينه روسيه)	۲.٥
۹ـ هالنډ	۲.۱
۱۰ـ فرانسه	۲.۰
۱۱ـ نور هيوادونه	۳۲.٦

٦۸- شکل

هـ . په نړۍ کې د غوښې توليدات ۲۰۰٥م کال
ټول توليدات ۲٦٥۱۰٥۹٤۰ ټنه
د هر هيواد د توليداتو سلنه

۱ـ چين	۲۰.۹
۲ـ د امريکې متحده ايالات	۱٤.۹
۳ـ برازيل	۷.٥
٤ـ المان	۲.٦
٥ـ هند	۲.٤
٦ـ فرانسه	۲.۳
۷ـ هسپانيه	۲.۲
۸ـ مکسيکو	۱.۹
۹ـ روسيه	۱.۸
۱۰ـ کاناډا	۱.۸
۱۱ـ نور هيوادونه	۳۳.۳



٦۹- شکل

۷۰- شکل

هغه سيمې چې مديترانه يي اقليم لري، د غلو - دانو ترخنګ په کې د زيتونو او انګورو بوټي هم ډير ليدل کيږي

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې د خپل درانه ښوونکي تر لارښوونې لاندې په څلور کسيزو ډلو وويشل شي، د لوست شکلونه دې وګوري او لاندېني فعالیتونه دې ترسره او د خپلو فعالیتونو پایلې دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

۱ـ د شکل له مخې په ۲۰۰۵ م کال کې د نړۍ کوم هیواد د وریجو ډېر زیات تولیدات درلودل او تولیدات یې په سلوکې څومره ووه، ویې لیکئ.

۲ـ د همدې لوست د شکلونو له مخې د امریکې په متحده ایالتونو، روسیې، هند، المان او د فرانسې په هیوادونو کې د وریجو، جوارو، پټاټو او غوښې د تولیداتو سلنه (فیصدي) ښکاره کړئ.

پوښتنې:

په خپلو کتابچو کې د پوښتنو سم ځوابونه په نښه کړئ.

۱ـ هغه هیواد چې په ۲۰۰۵ م کال کې یې د غنمو، وریجو، پټاټو او غوښې ډېر زیات تولیدات درلودل داو:

الف. د امریکا متحده ایالات ب. هند ج. چین د. روسیه

۲ـ هغه هیواد چې په ۲۰۰۵ کال کې یې د غنمو او وریجو په تولید کې دویم ځای نیولی و دادی:

الف. چین ب. هند ج. د امریکې متحده ایالات د. فرانسه

۳ـ هغودوو هیوادونو چې په یوازیتوب سره یې د ټولې نړۍ په سلوکې له پنځوسو څخه زیات جوار تولید کړي وو دادي:

الف. فرانسه او المان ب. روسیه او هالنډ ج. چین او برازیل د. چین او د امریکې متحده ایالات

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د لوست د شکلونو او نورو سرچینو په کتلوسره د نړۍ د هغو پنځو هیوادونو نوم واخلئ چې د کرنې تر ټولو زیات تولیدات یې لرل. همدارنګه خپل نظر ولیکئ چې ولې په دغو هیوادونو کې د کرنې تولیدات زیات دي، په څو کرښو کې یې ولیکئ او په بل لوست کې یې بیان کړئ.

پنځم څپرکی
انرژي

په دې څپرکي کې لولو:

- انرژي او په نړۍ کې د هغې اهمیت
- د انرژۍ ډولونه
  - د اوبو برېښنا
  - بادي برېښنا
  - د لمر انرژي
  - هسته یي برېښنا
  - حرارتي برېښنا
- په نړۍ کې نفت
- طبیعي ګاز
- په نړۍ کې د ډبرو سکاره
- د انرژۍ د منابعو جغرافیایي وېش

د څپرکي عمومي هدفونه:

زده کوونکي به ددغه څپرکي په لوستلو سره لاندنیو پوهنیزو موخوته ورسیږي:

- په نړۍ کې به د استفادې وړ انرژۍ په ډولونو پوه شي.
- د نړۍ د انرژۍ د لګښت په اندازه به وپوهیږي.
- د نړۍ د انرژۍ د منابعو اندازه به وپیژني.
- د نړۍ د انرژۍ د سرچینو په جغرافیایي ویش باندې به وپوهیږي.

زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره لاندنیو مهارتي هدفونوته ورسیږي:

- د انرژۍ ډولونه به فهرست کړای شي.
- د نړۍ په کچه به د انرژۍ د ډولونو د لګښت اندازه توضیح کړای شي.
- د نړیوالې انرژۍ د سرچینو اندازه به وویلای شي.
- د انرژۍ د سرچینو لرونکې مهمې سیمې به په نقشه باندې وښودلای شي.

۵، ۱ انرژي او په نړۍ کې د هغې اهمیت



۷۱- شکل

په کالیفورنیا کې د بادي جنراتورونو انځور چې د بریښنا د انرژۍ د تولید لپاره ورڅخه کار اخېستل کیږي.

هر هغه څه چې دکارکولو وړتیا ولري انرژي (Energy) لري. په بله وینا: د کارکولو توان ته انرژي ویل کیږي. د انسان وجود انرژي لري، ځکه چې د کارکولو استعداد په کې شته، په ورځنی اصطلاح کې انرژي ډیره کارول کیږي. دبیلګې په توګه هغه څوک چې ډیر کار کوي هغه ته د ډیرې انرژۍ لرونکی ویل کیږي. زموږ شاوخواشیان خپله انرژي لري. که یو فلزي غونډاری په ځوږ لرونکې سطح باندې ورغړې څه چې په مخه ورشي هغه بېځایه کوي، نو د غه غونډاري یو کاروکړ، نو هر هغه څه چې د کارکولو وړتیا ولري، انرژي هم لري. انرژي په حقیقت کې خوځښت، غورځنګ او تحرک دی چې دغه خوځښت اوحرکت د سوداګرۍ، صنایعو، ترانسپورت او اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري فعالیتونو پراخه برخه ده.

له دې پلوه انرژي او په نړۍ کې دهغې سر چینې غوره اقتصادي اهمیت لري. انسانانو له ډیر پخوا راهیسې انرژي پیژندله او له هغې څخه یې ډول، ډول استفاده کوله، دهغې له تودو خې او رڼا څخه یې د پخلي، دکورونو دروښانه کولو او تودولو لپاره کار اخیست.

په منځنیو پیړیوکې د انرژي له سرچینو څخه کار اخېستلو زیات اهمیت وموند، داځکه چې انسانانو د باد او له اوبو د انرژۍ له سرچینو څخه په کار اخېستلو سره بادي او د اوبو ژرندې جوړې کړې.

په اتلسمه پیړۍ کې د بخار ماشین په جوړېدو سره او دصنعتي انقلاب له پېښېدو وروسته په صنايعو کې بشريت ته لوی بریالیتوب او بدلون ورپه برخه شو، ځکه چې په کار خانوکې د کارګر دمتې اولاس د ځواك پرځای له ماشین څخه کار واخیستل شو او په صنایعو کې د ډېرو سکرو استعمالولو پرمختیا وکړه. دغه محرکه ځواك په صنایعو کې بدلونو نه راوستل او په لنډ وخت کې يې د هرډول اقتصادي او صنعتي چارو د پیاوړتیا لاره اواره کړه.

دشلمې پیړۍ په نیما يي کې دګاز او نفتو د انرژۍ سر چينو چټك پر مختك وکړ، انرژي لازيات ارزښت وموند چې دې کار د فابريکو او کارځايونو په جوړېدو اوپر مختك کې ژوره اغيزه درلوده او بشر د انرژۍ له بيلا بيلو ډولونو څخه د اقتصاد په بيلابيلو برخوکې ګټه واخيسته.

د انرژۍ د توليد بيلابيلې سر چينې دادي: د ډېرو سکاره، نفت، ګاز، اوبه اونور چې په راتلونکو لوستونو کې به دهرې يوې په هکله خبرې وشي.

د ټولګي دننه فعاليت:

زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي، هره ډله دې د انرژۍ د اهميت په هکله خبرې وکړي او دخپلو خبرو پايله دې نوروته وړاندې کړي.

پوښتني:

۱- انرژي څه ته وايي او بشري ټولنې ورته څه اړتيا لري؟

۲- د انرژۍ مهمې سر چينې کومې دي نوم يې واخلئ.

۳- انرژي په کومو برخوکې ډېر اهميت لري؟ معلومات ورکړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت:

دغه لوست او د انرژۍ اړوند لوستونه چې پخوا تاسې د افغانستان په برخه کې لوستي وو، يوځل بيا ولولئ او ځان ور سره اشنا کړئ.

اووه دیرشم لوست

۲،۵ د انرژۍ ډولونه



۷۲- شکل

د انرژۍ څو ډوله سرچيني پيژنئ؟

په مخکېني لوست کې په نړۍ کې د انرژۍ او د هغې د اهميت په هکله معلومات وړاندې شول په دغه لوست کې به د انرژۍ بيلابيل ډولونه وپيژنئ.

په نړۍ کې بيلابيلې انرژۍ شته چې انسانانو د هغو له يو شمير څخه له ډيرپخوا څخه کار اخيست، په تيره بيا د باد او اوبو له ځواک څخه ډير کار اخيستل شوی دی چې غوره بيلګې يې بادي او د اوبو ژرندې دي لکه څرنګه چې د افغانستان په برخه کې هم ولوستل شول، انرژي بيلابيل ډولونه لري او له بيلابيلو سرچينو لکه باد، لمر او اوبو څخه ترلاسه کيږي. همدارنګه هسته يي او حرارتي انرژي هم شته.

بريښنا

د بريښنا انرژي له بيلابيلو سرچينو څخه تر لاسه کيږي چې کولای شو د اوبو، باد، لمريزې، هسته يي او حرارتي بريښنا نوم واخلو چې د هرې يوې په هکله به يې معلومات درکړل شي:

ـ د اوبو بريښنا

اوبه په نړۍ کې د توليد ارزانه او ډيره لويه سرچينه ده. نن ورځ د بريښنا د توليدوونکو توربينونو په لګولو سره د اوبو له ځواک څخه بريښنا توليديږي، د بريښنا زياتره توربينونه د بندونو په لاندينۍ

برخه کې وي چې اوبه له یوې لوړې ارتفاع څخه ورباندې ورځي او له هغو څخه بریښنا تولیدیږي.
هغه عوامل چې د اوبو د بریښنا په تولید کې مهم رول لري هغه دادي:
۱ـ د سیند د اوبو زیاتوالی، دایمي والی او جاري توب.
۲ـ د سیندو په تګلوري کې د پوره ځوړونو شتوالی.
۳ـ د سیندونو په تګلوري کې د لوړو برخو شتوالی.
د بریښنا لیږدول له یوې سیمې تر بلې سیمې (د ترلاسه کولو مرکزونو څخه د لګولو تر سیمو) پورې په ډیر ګرځندیتوب ترسره کیږي، خو د بریښنا لویه نیمګړتیا همداده چې وروسته تر تولید څخه زیرمه کیدای نه شي او له تولید سره یوځای مصرفیږي.
په نړۍ کې هغه پنځه سیمې چې تر ټولو زیات د اوبو د بریښنا پرمختللی ځواک لري دادي: په اروپا کې لویدیځې جنوبي او مرکزي سیمې، په آسیا کې جاپان او په امریکې کې د امریکا متحده ایالتونه. هغه یو شمیر نورې سیمې چې له دې پلوه ډیر اهمیت لري د روسیې اروپایي برخه او د برازیل دختیځ غرنی سیمې دي.
په اروپا کې هغه غرونه چې تل په هغو باندې واورې وریږي لکه په شمال کې د سکندوناویا غرونه، په مرکزي سیمو کې د الپ غرونه او په جنوب لویدیځ کې پیرنې غرونه د بریښنا د تولید لپاره ډیر غوره دي. په اسیا کې جاپان زیاته اندازه بریښنا تولیدوي.
د امریکا متحده ایالات د اوبو د بریښنا لوی تولیدوونکی هیواد دی چې د کولمبیا او کلوراډو له سیندونو څخه یې ترلاسه کوي. دغه هیواد په سلوکې ۱۳ د اوبو له بریښنا څخه کار اخلي. په شمالي امریکا کې په تیره بیا په کاناډا کې د ټولې بریښنا دوه پر دریمه برخه له سیندونو څخه بشپړیږي. ددغه هیواد د اوبو د بریښنا لومړنی کارخانه د نیاګارا په شرشره باندې جوړه شوې وه.
نن ورځ کاناډا د نړۍ د اوبو د بریښنا یو لوی تولیدوونکی هیواد دی. په روسیه او اوکراین کې د بریښنا صنایع په سیندونو باندې جوړشوي چې د ولګا پرسیند باندې د نړۍ د اوبو د بریښنا دوه ستر بندونه جوړ شوي دي. هغه هیوادونه چې په اروپا کې د اوبو د بریښنا زیات ځواک لري، ناروې، سویډن او فرانسه دي. په دغو هیوادوکې د اوبو بریښنا دومره پراختیا موندلې چې ددغو هیوادو صنعت ته یې ډیره پرمختیا ورکړې ده. په ایټالیا کې ددغه هیواد ټولې د اوسپنې د پټلیو لار د پود سیند د اوبو په بریښنا چلیږي. د سویډن په سلوکې ۹۰ بریښنا د اوبو له بریښنا څخه ترلاسه کیږي.

- بادي برېښنا

نن ورځ د بادي جنراتورونو څخه په کار اخېستو سره چې په باد باندې چلېږي د برېښنا انرژي ترلاسه کېږي. د باد له انرژۍ څخه استفاده د برېښنا د تولید ډېره ګړندۍ لاره ده. بادي توربینونه او هغو ته ورته نور وسایل ډېره اندازه او ډېر کار ورکوي. د اروپا دوه پر دریمه برخه ترلاسه کېدونکې برېښنا د باد له انرژۍ څخه ده، وروسته ورپسې بیا شمالي امریکا په دویمه درجه کې ده.

په مجموع کې اروپا په سلوکې ٦٥، شمالي امریکا په سلوکې ٢٢، اسیا په سلوکې ١٢ او نور

د برېښنا د تولید د یوې فابریکې انځور چې د ډبرو د سکرو په سوځیدو سره د ډبرو سکرو انرژي په برېښنایي (الکتریکي) انرژۍ باندې اړوي.

براعظمونه په سلوکې یوه برخه بادي برېښنا تولیدوي.

د لمر انرژي (Solar Energy)

دځمکې کره لمر د انرژۍ یوه لویه منبع ده چې د وړانګو او تودوخې په بڼه رارسیږي، دا یوه دوړانګې په بڼه خپریدونکې انرژي ده چې د څپو به بڼه لیږل کیږي او رڼا او تودوخه تولیدوي.

د لمر انرژي د ځانګړو صفحو او هیندارو په واسطه زیرمه کیدای شي او بیا د برېښنا د تولید او د تودوخې د ترلاسه کولو لپاره ورڅخه کار اخېستل کیږي. تر اوسه پورې د لمر له انرژۍ څخه تل او زیات کار نه اخېستل کیږي، یعنې یوازې کله چې د لمر وړانګې وي استفاده ورڅخه کیږي، له

بلې خوا لمريز سلولونه لږه بريښنا توليدوي، نو ځکه له لمر څخه ترلاسه کيدونکې بريښنا د ډبرو د سکرو او د نفتو د بريښنا په پرتله گرانه ده.

هسته يي بريښنا

هسته يي بريښنا هغه ځواك دى چې د نړۍ په تر ټولو کوچنيو او پريمانه ذرو يعنې اتومونو کې شته.

د هسته يي انرژۍ د سون توکي چې په ذروي ريکتورونو کې په کارېږي، ډېره زياته انرژي توليدوي.

د هسته يي انرژۍ يو لوى خطر د راديو اکتيف (هسته يي وړانگو) ازاديدل دي. دغه توکي کيداى شي په هوا، اوبو او سمندرونو کې خپاره شي اوپه زرگونو متره ځاى ونيسي. ددغو توکو ډيره لږه اندازه د وحشي ژويو، ونو، بوټو او د انسانانو ژوند ته زيان رسوي او زياته اندازه يې د مرگ لامل کرځي.

د هسته يي انرژۍ ښيگنه داده چې د لږسون توکو په سوځيدو سره ډېره زياته اندازه انرژي توليدوي.

دهسته يي انرژۍ سون توکي د ډبرو سکرو، نفتو او گازونو په پرتله ډېر دوام لري. فوسيلي توکي هم د ځمکې هوا تودوي او هم کيمياوي ككړتيا رامنځته کوي، خو هستوي انرژي دا ستونزې نه پيداکوي. خو هستوي انرژي ډېر ضايعات لري دغه ضايعات چې د راديو اکتيف شيان دي، دومره خطرناك دي چې په سلگونو زره کلونه دوام کولاى شي. په اوسني وخت کې هسته يي ضايعات ډېران کيږي، خو هيڅوك نه پوهيږي چې هغه څنگه بې خطره کړي او ياهم په راتلونکي کې هغه په کوم مناسب ځاى کې ښخ کړي.

په اوسني وخت کې د نړۍ په پرمختللو هيوادونو کې د اتومي بريښنا کارخانې جوړې شوي دي چې په دوى کې د امريکا متحده ايالات لومړى مقام، فرانسه دويم مقام، جاپان دريم مقام او روسيه څلورم مقام لري. يو شمير هيوادونه لکه انگلستان، جنوبي کوريا، چين، هند، المان او کاناډا هم د اتومي بريښنا کارخانې لري.

حرارتي بريښنا

حرارتي بريښنا د صنعتي کارخانو په رامنځته کيدو او پرمختيا کې ډير لوى بدلون راوست، دا هغه نوى پرمختگ دى چې د بشر په برخه شوى دى. حرارتي بريښنا د ډيزلو، نفتو، گازو او د ډبرو سکرو له سوځولو څخه ترلاسه کيږي . په اوسني وخت کې د حرارتي بريښنا د توليد د فابريکو برخه مخ په زياتيدو ده. د حرارتي بريښنا ډيره مهمه منبع د ډبرو سکاره دي چې له هغو څخه په

سلوکې پنځوس برخې برېښنا ترلاسه کيږي. د حرارتي برېښنا په ترلاسه کولو کې زياتره له نرمو يا قير ډوله ډبرو سکرو څخه کار اخېستل کيږي، دا ځکه چې داهم ارزانه دي او هم ډېره تودوخه لري. که يو کيلو او څلورسوه او پنځوس گرامه د ډبروسکروته تر اووه زره کالوريو پورې تودوخه ورکړل شي يو کيلوواټ برېښنا توليدوي. د نړۍ د ټولو هيوادو په واک کې چې کومې سرچينې دي، ورڅخه حرارتي برېښنا توليدوي، د بيلگې په توگه د امريکا په متحده اياﻻتونو کې له توليد شوې ټولې برېښنا څخه په سلوکې ٥٠ د ډبرو سکرو څخه، په سلوکې ١٤ له طبيعي گازو او په سلوکې ١١ له نفتو څخه ترلاسه کوي. په عربي هيوادو لکه سعودي عربستان، کويټ، قطر، اردن، بحرين او نورو کې زياتره حرارتي برېښنا د نفتو له سوځولو څخه ترلاسه کوي.



۷٤- شکل د اتومي برېښنا د توليد يوه کار خانه.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي، د اوبو د بریښنا او اتومي انرژۍ نقشه دې وګوري، لاندینی فعالیت دې ترسره کړي او د خپل فعالیت پایله دې په ټولګي کې وړاندې کړي:

۱ـ په سپینو، خړو او ابي رنګونو باندې نښې او سمبولونه په نقشه کې د څه شي مفهوم لري؟

۲ـ د همدغې نقشې د معلوماتو پر بنسټ کوم هیواد په نړۍ کې تر ټولو زیات د اوبو د بریښنا تولیدات لري اوپه ۲۰۰۳ م کال کې یې تولیدات په یوه ساعت کې څو ملیارده کیلوواټه وو؟

۳ـ د همدغې نقشې د معلوماتو پر بنسټ د نړۍ کوم هیواد د اتومي انرژۍ ډیرزیات تولیدات لري اوپه ۲۰۰۳ م کال کې یې تولیدات په یوه ساعت کې څو ملیارده کیلوواټه وو؟

٤ـ د همدغې نقشې له مخې د نړۍ د درې نورو هیوادونو نوم ولیکئ چې د اوبو د بریښنا او د اتومي انرژۍ زیات تولیدات لري.

پوښتنې:

د لاندینیو پوښتنو ډیر سم ځواب غوره او په خپلو کتابچو کې یې په نښه کړئ.

۱ـ هغه هیواد چې د اوبو دبریښنا په تولید کې لومړی مقام لري دادی:

الف. روسیه　　ب. کاناډا　　ج. برازیل　　د. چین

۲ـ هغه هیوادونه چې د اتومي بریښنا په تولید کې لومړی او دویم مقام لري دادي:

الف. انګلستان او چین　　ب. جنوبي کوریا او روسیه

ج. فرانسه او دامریکې متحده ایالات　　د. جاپان او ناروې

۳ـ هسته یې وړانګې کوم خطرونه او څه ضایعات لري؟ په دې هکله معلومات ورکړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د لوست د متن، تصویرونو او نقشو په لوستلو سره د انرژۍ او د هغې د ډولونو په هکله په راتلونکي لوست کې په شفاهي توګه خپلو ټولګیوالوته معلومات ورکړئ.

په نړۍ کې نفت

۷۵- شکل

د فرانسې په جنوب کې د نفتو د یوه چاڼځای انځور

د نفتو زیرمې د نړۍ په کومو سیمو کې ډېرې دي؟

لکه چې په دویم څپرکي کې مو د افغانستان په برخه کې د افغانستان د نفتو او د هغو د حوزو په هکله معلومات ترلاسه کړل. په دغه څپرکي کې به د نړۍ د نفتو او د هغو د حوزو په هکله معلومات درکړل شي.

نفت: د ونو ـ بوټو او ژوو هغه پاتې شونې دي چې د جیولوجي په بیلابیلو دورو کې د وخت په تیریدو سره تر رسوبي طبقو لاندې راټولې، د خمیره کیدو، فشار او تودوخې له امله د نفتو د جوړیدو سبب شوي دي.

نفت په یوه کلي مفهوم سره د هایدروکاربن د جامد، مایع او گاز یو مخلوط دی چې زیاته برخه یې په مایع بڼه وي او په بیلابیلو درجوسره د هایدروجن او کاربن لرونکي وي، ناخالص توکي لکه سلفر او نایتروجن هم کې وي.

په اوسنۍ نړۍ کې نفت ځانگړی اقتصادي اهمیت لري. د موټرو، اوگاډیو، ټانکونو او الوتکو گرځیدل په نفتو پورې تړلي دي، نو ځکه د نړیوالو د پاملرنې وړ دي او د تولید اندازه یې هر کال

مخ په زیاتیدو ده. د نولسمې پیړۍ په نیمایي کې د نفتو د صنعت ډېره پرمختیا، هغوته د تقاضا د زیاتوالي له امله وه چې په اروپا کې د رڼا یوه مهمه منبع وه، خو له میلادي ۱۹۰۰ او ۱۹۱۰ کلونو څخه وروسته چې په نړۍ کې د موټر جوړولو صنعت ډېر پرمخ ولاړ او نفت د کبانو د ښکار کولو په بیړیو او اورګاډو کې په کارشول، د هغو اهمیت نورهم زیات شو، داځکه چې نفتي بیړیو کولای شول تر ۵۳ ورځو پورې یاله هغه څخه زیات په سمندرکې پاتې شي،

نو ځکه د سوداګریزو، مسافري او جنګي بیړیو شمیر زیات او همدارنګه هغه محصولات چې د نفتو له مشتقاتو څخه ترلاسه کیدل، په صنعت کې د لوړ اهمیت لرونکي شول. له دې امله ده چې صنعتي هیوادونه د خپلو ګټو لپاره یو له بل سره په سیالۍ او کړکیچ کې دي او ان یوبل سره جګړې کوي، چې دغه ډېره ګرانبیه شتمني لوټ کړي.

په ۱۹۹۰ م. کې عراق په خپل کوچني ګاونډي هیواد کویټ باندې یرغل وکړ او هڅه یې وکړه چې نفتي حوزې یې د خپل واک لاندې راولي، د جګړې په ترڅ کې د نفتو ډېرو څاګانو اور واخېست د نفتو غوړ سمندرونوته ورغلل او د ژوند چاپیریال ته یې ډېر غټ زیان واړاوه.

جیولوجیکي څیړنو ښودلې ده چې په هغو ځایونو کې چې نفت وي، هلته د زرګونو مترو په ژوروالي څاګانې ایستل کیږي.

هغه لومړنۍ څاه چې په ۱۸۹۵ م کال کې د امریکې په پنسلوانیا کې وکیندل شوه ژوروالی یې ۲۰ متره و چې هره ورځ له هغې څخه څلور مکعب متره نفت ایستل کیدل. ورو ورو پنسلوانیا د نفتو د نوي صنعت مهم مرکز شو، خو هغه څاګانې چې نن ورځ کیندل کیږي، ډیرې ژورې دي، د بیلګې په توګه د امریکې په وایومینګ سیمه کې د څاګانو ژوروالی ۶۰۰۰ مترو پورې رسیږي. هغه نفت چې له څاګانو څخه را ایستل کیږي، تور رنګ لري چې د کارنه وي، خو له چاڼ کولو څخه وروسته بنفش رنګ غوره کوي او په آسانۍ سره سوځي.

هغه سیمې چې نفت لري دادي:

په آسیاکې: سعودي عربستان، عراق، کویټ، عربي متحده امارات، قطر ، روسیه، ایران، افغانستان، اندونیزیا او نور. په منځني ختیځ کې د نفتو ډېرې لوېې او شتمنې نفتي حوزې او سیمې شته چې د نړۍ په سلو کې ۶۵ نفت لري.

عربستان د نفتو لومړنی تولیدوونکی هیواد او د نفتو لوی صادروونکی دی چې په یوازیتوب سره د نړۍ د نفتو څلورمه برخه نفت لري.

په اروپا کې: بلژیک، انګلستان، المان، فرانسه، ایټالیه، ناروې او هالنډ.

په امریکا کې: متحده ایالتونه د نفتو لوی تولیدوونکی هیواد دی او په عین وخت کې د نفتو لوی مصرف کوونکی هیواد هم دی ، د نفتو ډیره برخه یې د مکزیک خلیج ساحلي سیمې په تکزاس ایالت ، لوئیزیانا او الاسکا کې تولیدیږي. همدارنګه د کالیفورنیا، اوهایو، اوکولاهاما، ارکانزاس او مسي سي پي په ایالتونو کې هم نفت شته. ددغې سیمې د نفتو زیرمې د نړۍ تر ټولو شتمنې زیرمې بلل شوي دي.

په لاتینه امریکا کې، وینزویلا او اکوادور د نفتو لویې زیرمې لري. په افریقا کې دنفتو زیرمې په لاندنیو سیمو کې دي:

لیبیا، الجزایر، نایجریا او ګابون. او نایجریه د نړۍ د نفتو لوی تولیدوونکي شمیرل کیږي.

وروسته تر امریکې څخه جاپان د نفتو مهم واردوونکی دی چې په یوه ورځ کې ٤ـ٥ میلیونو بشکو پورې نفت پیري. د لویدیځې اروپا د هیوادونو په ډله کې المان، ایټالیا او فرانسه له نورو څخه زیات نفت واردوي. انګلستان هم تر دغو وروستیو کلونو پورې د نفتو مهم واردوونکی هیواد و، خو د شمال په سمندرګي کې د نفتو په را ایستلو سره اوس دغه هیواد پرځان متکي شوی دی.

٧٦- شکل   د نفتو د یوې څا کیندل

نفت په نننۍ نړۍ کې د استعمال زیات ځایونه لري. له نفتي محصولاتو څخه د مصنوعي الیافو، جامو او رختونو، د مصنوعي پلاستیک، عطرو، صابونونو، رنګونو، د پلاستیک د بیلابیلو ډولونو، کیمیايي صنایعو، ماشین الاتو او نورو وسایلو ضروریاتو لکه مصنوعي ربړو، درملو، مصنوعي سرې، حشره وژونکو او د مینځلو په موادوکې کار اخیستل کیږي.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او د لوست د متن او شکلونو په کتنه دې په نړۍ کې د نفتو لوی تولیدوونکي یاد داشت او په نقشه کې دې وښیي.

پوښتنې:

۱ ـ د نفتو د پیداکیدو څرنګوالی واضح کړئ.

۲ـ ولې د اروپا د نفتو صنعت په چټکۍ سره پرمخ ولاړ، علت یې توضیح کړئ.

۳ـ د اسیا د لویې وچې د نفتو د تولید د مهمو مرکزونو نوم واخلئ.

٤ـ په لاتینه امریکا کې په کومو هیوادو کې د نفتو زیرمې شته، نوم یې واخلئ.

له سم ځوابه په خپلو کتابچو کې کړۍ تاو کړئ:

٥ـ د نفتو لوی صادروونکي:

الف. عربي متحده امارات ب. عربستان ج. قطر د. کویټ.

٦ ـ د افریقا دوه هیوادونه چې د نړۍ د نفتو لوی تولیدوونکي دي دادي:

الف. لیبیا، الجزایر ب. لیبیا، نایجریا ج. کانګو د. یوهم نه

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

په لاندې جدول کې د نفتو تولیدوونکي هیوادونه په بیلابیلو براعظمونو کې په ترتیب سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په راتلونکي لوست کې یې وړاندې کړئ.

امریکا	افریقا	اروپا	اسیا
د امریکا متحده ایالات			

ج ـ طبیعي ګاز



یوه طبیعی ګاز سیمه د سوځېدو پروخت کې

د طبیعي ګازو زیرمې د نړۍ په کومو برخو کې دي؟

هغه ګازونه چې په طبیعي بڼه تر ځمکې لاندې ژورو برخو کې دي، اکثرا له نفتو سره ګډ دي، خو ځینې وخت په جلا ډول هم موندل کیږي. دغه توکي د ډېرو لویو ژویو له فوسیلونو څخه چې میلیونونه کاله مخکې تر رسوبي طبقو لاندې راغلي او د زیات فشار او تودوخې له امله د هوا په نشتوالي کې په اوږده موده کې د بنې بدلون سره مخامخ شوي او په ګاز بدل شوي دي.

طبیعي ګاز له چاڼ کولو څخه وروسته د سون او د تودوخې د تولید لپاره کارول کیږي او همدارنګه په خام ډول په پتروشیمي کارخانو کې په یو شمیر نورو ډول ډول موادو بانديې اړول کیږي. د طبیعي ګازو منابع اکثرا د نفتي زیرمو څخه پورته طبقه کې وي. د بیلګې په توګه کله چې د نفتو څاګانې کیندل کیږي، له نفتو څخه مخکې ګاز او بیا وروسته نفت راوځي.

په هغو ځایونو کې چې هلته د طبیعي ګازو زیرمې وي، هلته طبیعي ګاز د استحصال له مرکزونو څخه د استهلاک او لګښت ځایونو ته په ځانګړو نل لیکو کې لیږدوي.

طبیعي ګاز د انرژۍ د تولید یوه ډېره ښه سرچینه ده له هغو څخه د یوې مهمې او ارزښتمنې صنعتي او اقتصادي مادې په توګه کار اخېستل کیږي، نو له همدې امله په ټوله نړۍ کې له هغو څخه استفاده ورځ په ورځ په چټکۍ سره مخ په زیاتیدو ده. نن ورځ طبیعي ګاز یوه حیاتي ماده بلل شوې، نه یوازې دا چې د انرژۍ د تولید لپاره بلکې د تودوخې، رڼا او پخلي لپاره هم ورڅخه کار اخلي او د ګڼ شمیر کیمیاوي مرکبونو په جوړولو کې هم ورڅخه کار اخېستل کیږي.

د ګازونو د تولید مهم مرکزونه د نړۍ په لاندنیو سیمو کې دي:

آسیایي روسیه، قطر، سعودي عربستان، عربي متحده اماراتونه، ایران، افغانستان، ازبکستان او ترکمنستان.

روسیه هغه لومړنۍ هیواد دی چې د طبیعي ګازونو په تولید کې مهمه ونډه لري. ددغه هیواد د طبیعي ګازونو لوېې سیمې د والګا د سیند شاوخوا، ساراتوف او مسکو کې دي. روسیه د ټولې نړۍ په سلوکې ۳۳ طبیعي ګاز لري.

- د امریکې په لویه وچه کې د امریکې متحده ایالتونه او کاناډا د طبیعي ګازونو زیرمې لري.

د امریکا متحده ایالتونه په نړۍ کې د نفتو لوی تولیدوونکی او مصرفوونکی هیواد بلل کیږي. د تکزاس او نیویارک ترمنځ د ګازونو لیږدولو نل لیکه د امریکې د متحده ایالتونو د ګازونو ډیره مهمه نل لیکه ده. همدارنګه د امریکې متحده ایالتونو د ګازونو د تولیداتو له نیمایي څخه زیاته برخه په تولیدي سیمو کې لګول کیږي، پاتې نورو څخه د امریکې په نورو سیمو کې کار اخېستل کیږي.

- په کاناډا کې د طبیعي ګازونو نل لیکه له البرتا (د کاناډا لویدیځ) او شاوخوا برخو څخه یې هغو سیموته غځول شوې چې هلته کار ورڅخه اخېستل کیږي.

د امریکا متحدو و ایالتونو او کاناډا څخه وروسته وینزویلا د طبیعي ګازونو یو لوی تولیدوونکی هیواد دی، خو له دې امله چې تولیدي مرکزونه یې د سوداګرۍ له بازارونو څخه لرې دي، د هغو ډیره لږه اندازه بهرته صادریږي له پاتې نورو څخه د هیواد دننه د نفتو د زیرمو د فشار د تولید لپاره کار اخېستل کیږي.

- په اروپا کې د ایټالیا د ګازونو تولیدات د پرمختګ په حال کې دي، د ایټالیا لږه اندازه تولیدي ګاز د نل لیکو له لارې د فرانسې د تولوز او بوردو ښارونو ته لېږدول کیږي.
- په فرانسه کې طبیعي ګاز ددغه هیواد په جنوب لویدیځ د لاک Lacq په سیمه کې تولیدیږي. ددغې سیمې ګاز دومره زیات ګوګړ، (سلفر) او لوړه تودوخه لري چې پولادي نل لیکې یې د لیږدولو ځواک نه لري.

په دې ډول سیمو کې باید د ګازونو نل لیکه له یو ځانګړي الیاژ څخه جوړه شي چې پوره کلکې وي او د ګازونو په لیږدولو کې ستونزې رامنځته نه کړي.

د ګازونو مهم واردوونکي هیوادونه دادي: ایټالیا، فرانسه، جاپان او ارجنټاین.

د ګازونو د لیږدولو په برخه کې مهمه موضوع له منځني ختیځ څخه لویدیځې اروپا ته د هغو لیږدول دي.

لویدیځه اروپا په زیاته کچه طبیعي ګازوته اړتیا لري چې غواړي د وینزویلا او د فارس د خلیج د شاوخوا سیمو له ګازو څخه کار واخلي، خو لویه ستونزه په ارزانه توګه مصرف کوونکو سیموته د هغو لیږدول دي.

د سمندر له لارې ګاز په هغو بیړیو کې چې د همدې لپاره جوړې شوي له منځني ختیځ څخه اروپا ته لیږدول کیږي، خو غوره لارې یې هغه نل لیکې دي چې لوی قطر ولري او د منځني ختیځ اضافي ګاز به د ترکیې، یونان، یوګوسلاویا، اتریش او المان له لارې لویدیځې اروپا ته ولیږدول شي، ددې ترځنګ له دغو هیوادونو څخه به د تیریدو پر مهال د هغوی اړتیا هم بشپړه شي. البته تر اوسه پورې اروپایي هیوادونه ددې اندازې ګازو د چمتو کولو وسایل نه لري، له دې پرته د هغو ټولو هیوادونو موافقه هم نه ده ترلاسه شوې چې دغه نل لیکه به ورڅخه تیریږي. په دې وروستیو کلونو کې د یو شمیر آسیایي او نوو آزادو شوو هیوادونو لکه ترکمنستان او د لویدیځې اروپا هیوادونو ترمنځ یو شمیر تړونونه شوي چې طبیعي ګاز به په نل لیکو کې هغوی ته صادریږي.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلووویشل شي د لوست د متن او د طبیعي ګازونو د نقشې په استفادې سره دې لاندې فعالیت ترسره او د خپل فعالیت پایله دې نوروته هم ووایي.

لومړۍ ډله دې د آسیا د طبیعي ګازونو تولیدوونکي هیوادونه په نقشې باندې وښیي او د هغو د تولید اندازه دې په ۲۰۰۰ م کال کې ولیکي.

دویمه ډله دې: د امریکې د لویې وچې د طبیعي ګازونو تولیدي سیمې د نقشې پرمخ وښیي او دهغو د تولید اندازه دې په ۲۰۰۰ م کال کې ولیکي.

دریمه ډله دې: د اروپا د طبیعي ګازونو تولیدي سیمې د نقشې پرمخ وښیي او دهغو د تولید اندازه دې په ۲۰۰۰ م کال کې ولیکي.

پوښتنې:

سم ځواب په نښه کړئ:

۱ـ د امریکې د متحده ایالتونو د دوو ایالتونو ترمنځ تر ټولو اوږده نل لیکه کومه یوه ده:

الف. د تکزاس او نیویارک تر منځ ب. د تکزاس او کلیفورنیا ترمنځ

ج. د نیویارک او کلورادو ترمنځ د. یو هم نه

۲ـ د نړۍ تر ټولو لوی د طبیعي ګازونو تولیدوونکی او مصرف کوونکی هیواد کوم دی:

الف. روسیه ب. د امریکې متحده ایالات ج. کاناډا. وینزویلا

۳ـ د ګاز هغه سلنه (فیصدي) چې روسیه یې لري څومره ده:

الف. په سلوکې ۴۰ ب. په سلوکې ۳۳ ج. په سلوکې ۵۰

د. درې واړه ځوابونه سم دي

۴ـ د آسیا د طبیعي ګازونو د مهمو مرکزونو نومونه واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د نړۍ د نفتو او ګازونو لوستونه ولولئ او د هغو مهم ټکي په راتلونکي لوست کې خپلو ټولګیوالوته ووایئ.

د. په نړۍ کې د ډبرو سکاره

۷۸ - شکل

د المان دهېواد د رور(Ruhr) صنعتي سيمه، چې ۳۰٪ سکاره او ۲۰٪ د اروپا فولاد په دې فابريکه کې توليدېږي.

د ډبرو سکاره د نړۍ په کومو برخو کې شته دي؟

تاسي د افغانستان په برخه کې په دويم څپرکي کې د افغانستان د ډبرو سکرو او د هغو دسيمو په هکله معلومات ترلاسه کړل. په دغه درس کې به د نړۍ د ډبرو سکرو په هکله او د هغو د سيمو په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

د ډبرو سکاره د ونو - بوټو ډبرينې پاتې شونې دي چې د جيولوجيکي دورو له بدلونونو سره يوځای د خاورو تر رسوباتو او طبقو لاندې شوي اود اوږدې مودې په تيريدو سره يې د ډير فشار او لوړې تودوخې له امله بڼه بدله او په ډبرو سکرو بدل شوي دي.

د ډبرو سکاره د نړۍ د انرژۍ توليدوونکو مهمو سرچينو څخه شميرل کيږي انسانانو له ډير پخوا څخه د ډبرو سکرو له انرژۍ څه کار اخيست، خو د ډبرو سکرو اقتصادي ارزښت له اتلسمې پيړۍ څخه وروسته کله چې د براس انرژي په صنايعو کې رواج شوه، اوچت شو او د اوسني عصر په صنعت کې هم لوی اهميت لري. د ډبرو سکاره بيلابيل ډولونه لري چې دلته يې ځينې ډولونه تر بحث لاندې نيسو:

الف. وچ سکاره يا انتراسيت Anthracite:

دغه ډول د ډبرو سکاره تور يا ايره رنګه تور وي او په سلوکې ۸۷ څخه تر ۹۴ پورې کاربن لري. ډيره تودوخه لري او د لوګي او ايرو اندازه يې کمه وي، له همدې امله د برېښنا په توليد او د ماشينونو په ګرځيدو کې ورڅخه کار اخيستل کيږي.

ب. قیري د ډبرو سکاره Bituminous Coal:

قیري یا تور د ډبرو سکاره د کوک د جوړولو لپاره ډیر ښه ډول سکاره دي. کوک هغه سکاره دي چې پرته له لوګي څخه سوځي او ډیره تودوخه تولیدوي. په پرمختللو هیوادو کې قیري سکاره د نړۍ د ډبرو سکرو په سلوکې له ۵۰ برخوڅخه زیات دي. په صنعت کې ډیر لګول کیږي او د کاربن اندازه یې په سلوکې ٤۸ ده.

ج. محجر یا لګنیت Lignite سکاره:

دغه سکاره د نورو پرتله سپک دي، دا هغه ډول د بوټو او د لرګیو پاتې شونې دي چې په بشپړ ډول لاپه کاربن باندې نه دی اوښتي، رطوبت یې زیات او تودوخه یې لږه وي. دغه ډول سکاره چې خام هم بلل کیږي ډیر ښه اوژر سوځي، له دې امله چې رنګ یې ژیړ یا خرمایي دی، نو د قهوه یي سکرو په نوم هم یادیږي. په سلوکې ۱۵ هغه سکاره چې په نړۍ کې را ایستل کیږي لینت دي.

د. د تورب Taurbe د ډبرو سکاره:

د ډبرو دغه ډول سکاره قهوه یي یا خامو سکروته ډیر ورته دي، تودوخه یې لږه او د عمر له پلوه خام او تازه ښکاري.

د نړۍ د ډبرو سکرو د تولید مهم مرکزونه دادي:

۱. اروپا:

د اروپا د ډبرو سکرو ټولې زیرمې د فرانسې په شمال، بلژیک، هالنډ، المان، انګلستان او پولنډ کې دي. ددغو سیمو زیرمې په عمومي توګه له پخوا راهیسې ایستل شوي دي او د ډبرو سکرو د رګونو د پای ته رسیدو نښې له ورایه څرګندې شوې دي. روسیه په ټوله نړۍ کې د ډبرو سکرو لوی تولیدوونکی هیواد دی چې د ډبرو سکرو زیرمې یې له کوزنتسک یا کوزباس څخه ترلاسه کیږي، له دې پرته له یو شمیر نورو سیمو لکه کار ګنده (د بالکاش د جهیل شمال ته) او مسکوته نژدې د توله Tula له سیمو څخه هم د ډبرو سکاره ترلاسه کیږي.

په المان کې د هغه هیواد د ډبرو سکرو د ایستلو سیمې دور، لینت او د سار سیمه ده چې د رور سیمه یې په ټوله لویدیځه اروپا کې د ډبرو سکرو مهمه سیمه ده.

د انګلستان د ډبرو سکرو د ایستلو سیمې دادي: سکاټلنډ، مندلنډز، جنوبي ویلز او نیوکاسټل. یو وخت د انګلستان د ډبرو سکاره د نړۍ د صنایعو لپاره د انرژۍ د تولید لویه منبع ګڼل کیده، خو په اوسني وخت کې د انګلستان د ډبرو سکرو پیریدلوته تقاضا ډیره کمه شوې ده، دا ځکه چې زیاتره هیوادونه له خپلو کانونو څخه کار اخلي. د ډبرو سکرو د کانونو ایستل په فرانسې، المان او دامریکا متحده ایالاتو کې په ماشینونو سره ترسره کیږي نو ځکه د انګلستان د ډبرو سکرو خپل پخوانی ارزښت له لاسه ورکړی دی.

۲. شمالي امریکا:

په دغه سیمه کې د ډبرو سکرو د کانونو پراختیا ډېره زیاته ده. په امریکې کې د ډبرو سکرو د ایستلو لوېې سیمې شته، خو تر اوسه پورې له ټولو سیمو څخه را ایستل شوې نه دي. د امریکا متحده ایالتونه د ډبرو سکرو د نړۍ تر ټولو لوېې زیرمې لري او د هغو یو لوی صادروونکی هیواد دی.

د شمالي امریکې د ډبرو سکرو د ترلاسه کولو ډېر لوی صنایع په لاندینیو ښارونو کې دي: لویدیځه ویرجینیا، پنسلوانیا، الینایز، کنتاکي، اوهایو، اندیانا، کلورادو او نور.

۳. آسیا:

ددغې لوېې وچې د ډبرو سکرو زیرمې ډېرې لږې پیژندل شوې دي. کوم څه چې په ډاډ سره ټاکل شوي دي، هغه کانونه دي چې د سایبریا د اوسپنې د پټلۍ په اوږدوکې او ددغو سیمو په غرونو کې پیژندل شوي دي. په جاپان، ویتنام، چین، هند، ایران او افغانستان کې هم د ډبرو سکرو کانونه شته.

چین په اوسني وخت کې د ډبرو سکرو د ایستلو ډېره لویه سیمه ده چې له هوانګهو څخه نیولې د منچوریا تر جنوب پورې دغه ډول کانونه ایستل کیږي. جاپان هم یوه اندازه د ډبرو سکاره لري چې د اوسپنې د ویلې کولو په کارخانو کې ورڅخه کار اخېستل کیږي.

۴. په جنوبي نیمه کره کې د ډبرو سکرو سرچینې:

که چیرې د جنوبي نیمې کرې د ډبرو سکرو کانونه د شمال نیمې کرې سره پرتله کړو، په جنوبي نیمه کره کې دغه سرچینې لږې دي، داسې چې د جنوبي د ټولې نیمې کرې د ډبرو سکرو کانونه د نړۍ د را ایستل شوو ډبرو سکرو په سلو کې پنځه برخې جوړوي. ددغو منابعو مهمه برخه په استرالیا کې ده.

همدارنګه د افریقې په جنوب ختیځ او په جنوبي امریکا کې، په تیره بیا په چیلي کې د ډبرو سکاره پیژندل شوي دي د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه مخکې د ډبرو سکرو مهم صادروونکي هیوادونه المان او انګلستان وو، خو وروسته تر هغه د ډبرو سکرو د صادرولو په بازارونو کې بدلونونه او انقلابونه راغلل او د دوی حالت یې بدل کړ. شمیرې ښکاره کوي چې لوی تولیدوونکي اساساً د ډبرو سکاره ځان ته تولیدوي، صادرولو ته یې په دویمه درجه اهمیت ورکوي.

د بیلګې په توګه د امریکې متحده ایالات خپل د ډبرو سکاره لویدیځې اروپا او کاناډا ته صادروي همدارنګه پولنډ خپل د ډبرو سکاره روسیې، چکوسلواکیا، سویډن او ایټالیا ته صادروي. استرالیا ډېره برخه د ډبروسکاره جاپان او جنوبي کوریا ته صادروي. المان خپل د ډبرو سکاره یو شمیر اروپایي هیوادونو ته لیږي. فرانسه خپله زیاته اندازه د ډبرو سکاره د المان د رور او سار له سیمو څخه واردوي.

د ډبرو سکاره په ډېرو زیاتو ځایونو کې کارول کیږي. په اوسني وخت کې نه یوازې داچې د بریښنا په فابریکو کې، د کورونو په تودولو او پخلي کې او په اورګاډو کې کارول کیږي، بلکې په کیمیاوي صنایعو لکه نیلون، پلاستیک، عطر، درملو او د ترکیبي شیانو په جوړولو کې هم ورڅخه کار اخیستل کیږي. هغه دوهمه درجه محصولات چې ورڅخه جوړیږي لکه قیر، رنګه مواد، سلفاید، امونیا، مصنوعي نفت، مصنوعي ربړ او نور دي.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې درې ډلې شي او د لوست په کتاب کې دې د نړۍ د ډبرو سکرو له نقشې څخه په استفادې سره هغه سیمې چې د ډبرو سکرو زیرمې لري په نقشه کې په نښه کړي.

- لومړۍ ډله دې د اسیا د ډبرو سکرو د سیمو نومونه واخلي او په نقشه باندې دې یې وښیي.
- دویمه ډله دې د اروپا د ډبرو سکرو سیمې په نقشه باندې وښیي.
- دریمه ډله دې د ډبرو سکرو د ترلاسه کولو هغه لویې سیمې چې په شمالي امریکا کې دي، په نقشه باندې وښیي.

پوښتنې:

په خپلو کتابچو کې د سم ځواب له توري کرۍ راتاو کړئ.

۱- په نړۍ کې د ډبرو سکرو د انرژۍ ډېر لوی تولیدوونکی:

الف. امریکا متحده ایالتونه   ب. روسیه   ج. جاپان   د. هند دی

۲- له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه مخکې د ډبرو سکرو صادروونکي دا وو:

الف. انګلستان او المان   ب. فرانسه او المان   ج. سویډن او ایټالیا   د. روسیه او کاناډا

۳- هغه دوه هیوادونه چې استرالیا خپل د ډبرو سکاره ورته صادروي:

الف. پولنډ، ایټالیا   ب. جاپان او جنوبي کوریاج. روسیه او متحده ایالات

د. سویډن او چک دي

۴- د المان د ډبرو سکرو د سیمو نوم واخلئ، ووایئ چې کومه سیمه یې زیات اهمیت لري؟

۵- د کوک سکاره د نورو پرتله څه ښیګڼه لري، توضیح یې کړئ.

۶- د ډبرو سکرو د کارولو ځایونه ولیکئ.

۷- په اوسني وخت کې چین خپل د ډبرو سکاره د خپل هیواد له کومو سیمو څخه ترلاسه کوي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د لوست له متن څخه په استفادې سره د نړۍ د ډبرو سکرو د حوزو او مهمو مرکزونو په هکله په راتلونکي ساعت کې خپلو ټولګیوالوته معلومات ورکړئ.

۵، ۳ د انرژۍ د منابعو جغرافیايي ویش



۷۹- شکل د نړۍ د نفتو زیرمې

د انرژۍ منابع د نړۍ په کومو سیمو کې دي؟

په ټوله نړۍ کې د انرژۍ منابع یوشان او په برابر ډول نه دي بلکې د نړۍ په بیلابیلو ځایونو کې په شیندلي ډول موندل کیږي. د نړۍ په ډیرو برخو کې د انرژۍ سرچینې شته چې انسانانو له ډیر پخوا څخه له هغو څخه کار اخیست. هغه هیوادونه چې د انرژۍ منابع لکه د ډبرو سکاره، نفت، گاز او اوبه په نړۍ کې په پراګنده ډول سره لري. د ډبرو سکرو زیرمې په نړۍ کې د ځینو لویو وچو لکه اروپا، اسیا، امریکا او جنوبي نیمې کرې په ځینو سیمو کې ویشلي دي لکه چې دارنګه په اروپا کې د فرانسې، بلژیک، هالنډ، المان او پولنډ په هیوادونو کې د ډبرو سکرو زیرمې شته.

- په آسیا کې په جاپان، د ویتنام په شمال،چین، هند، ایران او همدارنګه د سایبریا د کرښې په اوږدو او د هغې په غرونو کې د ډبرو سکرو زیرمې موندل کیږي.

په جنوبي نیمه کره کې د ډبرو سکرو منابع د شمالي نیمې کرې پرتله لږې دي. یوازې د ټولې نړۍ د را ایستل شوو زیرمو په سلوکې پنځه برخې جوړوي.

همدارنګه په نورو لویو وچو لکه استرالیا، د افریقې په جنوب ختیځ او جنوبي امریکا کې په تیره بیا په چلي کې د ډبرو سکاره موندل شوي دي.

په شمالي امریکا او د امریکې په متحده ایالتونو کې د ډبرو سکرو لویې زیرمې شته. دامریکا متحده ایالتونه د ډبرو سکرو مهم تولیدوونکي دي.

نفت د اروپا په بلژیک، انګلستان، المان، فرانسې، ایتالیا اوهالنډ کې شته.

- په اسیا کې د نفتو زیرمې په روسیه، منځني ختیځ، عراق، ایران، سعودي عربستان، عربي متحده

امارتونو، قطر او کویټ کې متمرکز دي.

ـ د امریکا په لویه وچه کې د امریکې متحده ایالات په نړۍ کې د نفتو یو مهم تولیدوونکی هیواد دی خو بیاهم د لګښت څه ناڅه نیمایي نفت له بهر څخه واردوي.

مکسیکو هم د نفتو تولیدوونکی هیواد دی چې د خپلو تولیداتوزیاته برخه صادروي.

په جنوبي امریکا کې وینزویلا او اکوادور د نفتو زیرمې لري چې دواړه هیوادونه دنفتو د صادراتو له مخې زیات اهمیت لري.

په نړۍ کې دګازونو جغرافیایي ویش: په اسیا کې روسیه او یو شمیر نوي خپلواک شوي هیوادونه لکه ترکمنستان په نړۍ کې دګازونو تر ټولو زیاتې زیرمې لري. ایران هم د طبیعي ګازونو په لرلو سره د نړۍ یو بډای هیواد دی.

په امریکا کې په متحده ایالاتو او کاناډا کې زیاته اندازه طبیعي ګاز تولیدیږي. د امریکا متحده ایالات د طبیعي ګازونو یو مهم تولیدوونکی او مصرفوونکی هیواد دی. د نفتو صادروونکي هیوادونه د ګازو زیرمې هم لري. وینزویلا په نړۍ کې د طبیعي ګازونو لوی تولیدوونکی هیواد دی.

په نړۍ کې د اوبو جغرافیایي ویش: په هغو ځنو ناحیو کې چې د اوبو د بریښنا ډیر پرمختللی ځواک لري دادي:

- په اروپا کې لویدیځې جنوبي او مرکزي سیمې
- دامریکا په لویه وچه کې د امریکې متحده ایالات
- په آسیا کې جاپان
- یو شمیر نورې هغه سیمې چې له دې پلوه زیات اهمیت لري د روسیې اروپایي برخې او د برازیل ختیځې غرنۍ سیمې دي.



۸۰- شکل

د نفتو د تصفیه کولو دستګاه

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې څلور ډلې شي:

لومړۍ ډله به د نړۍ د ډبرو سکرو جغرافیایي ویش او هغه سیمې چې هلته د ډبرو سکرو زېرمې شته په نقشه کې وښيي.

دویمه ډله به په نړۍ کې د نفتو جغرافیايي ویش او هغه سیمې چې هلته د نفتو زېرمې شته د نقشې پرمخ وښيي.

درېمه ډله به دګازونو جغرافیایي ویش اوهغه هیوادونه چې هلته دګازونو زیاتې زېرمې شته په نقشه کې وښيي.

څلورمه ډله به د نړۍ هغه سیمې چې د اوبو د برېښنا ځواك په هغوکې پرمخ تللې په نقشه کې وښيي.

پوښتنې:

په خپلو کتابچو کې سم ځوابونه په نښه کړئ.

۱. په نړۍ کې د نفتو تولیدوونکی او صادروونکی آسیایي لومړنی هیواد:

الف. قطر ب. ایران ج. عراق د. سعودي عربستان دی.

۲. په جنوبي امریکا کې دنفتو دوه تولیدوونکي هیوادونه:

الف. وینزویلا او اکوادور ب. کاناډا او متحده ایالات ج. مکسیکو او برازیل د. یوهم نه دی.

۳. د اروپا دهغو سیمو نوم واخلئ چې هلته د اوبو د برېښنا ډېره انرژي وي.

٤. په اسیا کې کومې سیمې د طبیعي ګازو بډایې زېرمې لري؟

٥. دا روپا د ډبرو سکرو منابع په کومو هیوادونو کې دي، نوم يې واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د لوست د متن له مخې لاندې جدول چې په هغه کې د نړۍ د انرژۍ بېلابېلې منابع وېشل شوي دي په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

هیوادونه	اروپا	آسیا	افریقا	امریکا	استرالیا
د ډبرو سکاره	فرانسه ، بلژیک، هالنډ، المان، انګلستان، پولنډ				
نفت					
ګاز					
اوبه					

شپږم څپرکی

کانونه او صنایع

په دې څپرکي کې لولو:

- په نړۍ کې کانونه او د هغو اهمیت،
- د کانونو د ایستلو لارې ـ چارې
- په نړۍ کې صنایع، د هغو ارزښت او ډولونه

شمالي امریکا

اروپا

د آسیا ختیځ او سهیل ختیځ

ـ د صنایعو ډولونه

ـ سپک صنایع

ـ درانه صنایع

- د صنایعو په پرمختګ کې اغېزمن لاملونه

ـ طبیعي لاملونه

ـ بشري لاملونه

د څپرکي عمومي هدفونه:

زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره لاندنیو پوهنیزو موخوته ورسیږي:

- د نړۍ په اقتصاد کې به د کانونو پر اهمیت پوه شي.
- د کانونو د را ایستلو په نوو لارو- چارو به پوه شي.
- د صنایعو په اقتصادي اهمیت به پوه شي.
- د نړۍ مهم صنایع به وپیژني.
- د صنایعو په پرمختیا کې اغیزمن لاملونه (عوامل) به وپیژني.

زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره لاندنیو مهارتي هدفونوته ورسیږي:

- د نړۍ په کچه به د کانونو اقتصادي اهمیت بیان کړي.
- د کانونو د را ایستلو نوې لارې - چارې به توضیح کړي.
- د صنایعو اقتصادي اهمیت به بیان کړي.
- د نړۍ مهم صنایع او د هغو اقتصادي ارزښت به بیان کړي.
- د صنایعو د پرمختیا مهم عوامل به توضیح کړي.
- په نقشه باندې صنعتي مهم هیوادونه او سیمې به وښیي.

۱،۶ په نړۍ کې کانونه او د هغو اهمیت

۸۱- شکل



د نړۍ خلك له کومو کاني توکو څخه کار اخلي؟

تاسې د افغانستان په برخه کې د کانونو او د هغو د اهمیت په هکله معلومات ترلاسه کړل. په دغه لوست کې به هم په نړۍ کې د کانونو او هم به د هغو له اهمیت سره آشنا شئ.

کانونه، نه یوازې زموږ په هیواد بلکې د نړۍ په ټولو هیوادونو کې د بشري ټولنو د هوساینې او اقتصادي پرمختګ لپاره ځانګړی ارزښت لري.

د نړۍ پرمختللي هیوادونه له بیلابیلو کاني توکو لکه: سون توکو، ودانیزو توکو، منرالونو، بیلابیلو فلزاتو او نورو څخه په ګټوره توګه کار اخلي چې د ځینو په هکله به یې خبرې وکړو:

- د هغو کاني توکو په ډله کې چې د انسان ژوند ته یې پوره بدلون ورکړ او د هیوادونو د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا په برخه کې لوړ ارزښت لري، یوهم د سون توکي دي لکه نفت، ګاز او د ډبرو سکاره.

ناچاړ شوي نفت هیڅکله د اور اخیستو وړ نه وي، خو په پټرولي او کیمیایي تاسیساتو کې چاڼ او بیا ورڅخه د سون وړ توکي او نور بیلابیل مصنوعي مواد جوړیږي.

ګازهم د سون یو مهم توکی دی چې د ځمکې په کانونو کې په اوبلن او ګاز ډول شته.

یادونه: ګاز وروسته تر چاڼ څخه کله چې په ټانکر یا بالون کې په فشار سره اچول کیږي، نو مایع ګاز بلل کیږي، خود کارولو پر مهال بیرته په ګاز بدلیږي.

اوبلن گاز معمولاً د نفتو له طبقې څخه پورته او له هغه څخه نن ورځ ډېر کار اخېستل کیږي.
د ډبرو سکاره هم یوه د انرژۍ مهمه سرچینه او داسې د سون ماده ده چې په نړۍ کې په پراخه اندازه سوځول کیږي.
د ډبرو سکاره چې په نړۍ کې د انرژۍ د تولید لویه سرچینه ده، د بریښنا په تولید، د کورونو په تودولو، پخلي، د اورګاډو په ګرځولو او نورو ځایونو کې ورڅخه کار اخېستل کیږي او همدارنګه په کیمیایي صنایعو لکه د نیلون په جوړولو، پلاستیک جوړولو او نورو چاروکې هم کار ورکوي. هغه هیوادونه چې په هغو کې د ډبرو سکاره ډېر کارول کیږي او لویې زیرمې لري ددې درس په نقشه کې ښودل شوي دي.
یو بل ډول د سون توکي چې د نړۍ ځینو پرمختللو هیوادونو له هغو څخه استفاده کړې ده، هسته یي د سون توکي دي چې له هغو څخه د کیمیایي عکس العمل پربنسټ نه بلکې د هسته یي عکس العمل پربنسټ انرژي ترلاسه کیږي. د هغو ډېره ښه بیلګه یورانیم او پلوتونیم دي.
د یادونې وړ ده چې د سون توکي د انرژۍ یوه ډېره مهمه منبع ده او له انرژۍ څخه کولای شو د رڼا، تودوخې او ګرځوونکي ځواک په توګه کار واخلو.
• فلزات د کاني توکو یوه بله برخه ده چې موږ دافغانستان په برخه کې هم د هغو ځینې ډولونه وپیژندل.
کله چې د لومړنیو وسایلو پرځای فلزي سامانونه او وسایل جوړ شول، انسان د تمدن په ډګر کې ګام کیښود، ددې معنا داده: کله چې انسان د فلز په کلکوالي، د بڼې د بدلون د وړتیا او د ټینګوالي په ارزښت باندې و پوهید، نو له فلز څخه یې د جګړې او ښکار د وسایلو په جوړولو، د بیړۍ چلولو او ودانیو په صنعت او د نورو وسایلو په جوړولو کې کار واخېست او خپل ځواک یې په طبیعت باندې په واکمن کیدوکې څو ځله اوچت کړ، په تیره بیا له صنعتي انقلاب څخه وروسته یې له هغه څخه زیات کار اخېستل پیل کړل، په حقیقت کې د فلزاتو صنایعو د نورو صنایعو د پرمختیا لاره اواره کړه. باید وویل شي چې د اقتصادي فعالیتونو، سوداګرۍ، تخنیک او نورو چارو پرمختګ تر ډېره بریده پورې د فلزي صنایعو په پرمختګ پورې تړلی دی په تیره بیا په ټولو فلزاتو کې اوسپنه، او المونیم ډېر اوچت ارزښت لري. انسانانو له پخوا څخه له اوسپنې کار اخېستی دی او له هغې څخه یې د خپلې اړتیا وړ وسایل جوړول، مس هم له پخوا وختونو استعمالیدل او ګرانبیه فلزات لکه سره زر او سپین زر هم ځانګړی ارزښت لري.

په اوسني وخت کې له فلزاتو څخه په تیره بیا له اوسپنې څخه زیات کار اخیستل کیږي او د اوسپنې د ویلې کولو په بټیو کې د ډیرې زیاتې تودوخې په ورکولو سره ویلې او له هغې څخه بیلابیل فلزي وسایل، په تیره بیا پولاد جوړوي.

د ډبرو سکرو د جوړېدو د بېلابېلو پړاوونو انځور

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په وړو ډلو وویشل شي، د ډبرو د سکرو او لینت نقشه دې وګوري لاندنیو پوښتنو ته دې ځواب ووايي:

۱ـ چین په ۲۰۰٤ م کال کې څو میلیونه متریک ټنه د ډبرو سکرو تولیدات لرل؟

۲ـ په همدې کال کې وروسته تر چین څخه کوم بل هیواد د ډبرو سکرو زیات تولید درلود؟

۳ـ د دریو نورو هغو هیوادونو نومونه په ترتیب سره واخلئ چې د ډبروسکرو لوړ تولید یې درلود.

٤ـ د همدغې نقشې له مخې په نړۍ کې کوم هیواد په پورتني کال کې د قهوه یې رنګه ډبرو سکرو (لینت) ډیر زیات تولیدات لري؟

پوښتنې:

۱ـ څو ډوله کاني توکي پیژنئ، نوم یې واخلئ.

۲ـ فلزات د خلکو د ژوند په ښه کولو او د هیوادونو د اقتصادي ودې په اوچتولو کې څه اهمیت لري، بیان یې کړئ.

۳ـ د سون توکي، په تیره بیا نفت، ګاز او د ډبرو سکاره د نړۍ په کچه څه اهمیت لري، توضیح یې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

دغه لوست او په افغانستان کې د کانونو او د هغو د اهمیت لوست ولولئ اوپه راتلونکي لوست کې یې ورته والی، توپیرونه او مهم ټکي بیان کړئ.

۲،۶ د کانونو د ایستلو لارې - چارې

۸۳- شکل

د نړۍ د سرو زرو تر ټولو د لوی کان انځور چې په پاپوانیوګیني کې موقعیت لري

د کانونو په ایستلو کې کوم لاملونه اغیزمن دي؟

د کاني توکو را ایستل او له هغو څخه کار اخېستل د هغو له اندازې، جغرافیایي موقعیت، ارزښت د راټولیدو د څرنګوالي او جیولوجیکي حالت سره سیده اړیکې لري.

همدارنګه د هیوادونو سیاسي، ټولنیز او اقتصادي لاملونه (عوامل) هم د هغو په را ایستلو کې اغیزه لري. په مجموع کې د کاني توکو را ایستل او له هغو څخه کار اخېستل بیلابیل پړاوونه لري، له پلټنې او جیولوجیکي څېړنو څخه نیولې د زیرمو تر کمیت، کیفیت، تثبیت او ارزښت تر ټاکلو پورې باید کار وشي. په ماشینونو برمه کول، کیندل او د توکو راټولول، د مسلکي کسانو په کار ګومارل، د ماهرو کارګرو موندل او ترپانګې اچونې، بازار موندنې، د مواصلاتو لاروچارو او ترانسپورتي اسانتیاوو برابرولو پورې ټولې چارې د کانونو د را ایستلو لپاره په کار دي.

د بیلګې په توګه: د نفتو په را ایستلو او تر لاسه کولو کې باید تر هرڅه د مخه د جیولوجیکي (ځمکپوهنې) له پوهنې څخه په کار اخېستو سره د نفتو لرونکې سیمې وپیژندل شي او په هغو ځایونو کې چې دغه ډول توکي ترسترګو شي، هلته ژورې څاګانې چې ځینې وختونه یې ژوروالی زرګونه متره وي، کیندل کیږي، لکه چې دارنګه د امریکې د متحده ایالاتو د کلیفورنیا په ایالت کې د ۴۵۰۰ مترو په ژور والي او په رومانیا کې د ۱۲۰۰ مترو په ژوروالي څاګانې کیندل شوي دي.

د نفتو د ترلاسه کیدو ټوله بیه په سیده توګه د څاګانو په ژورتیا، برمه کولواو له څاګانو څخه د نفتو د را ایستلو له فشار سره اړیکه لري. په هغو حوزو کې چې هلته نفت په طبیعي بڼه یا د ګازي فشار

په بڼه او یا هم د نفتو په زیرموکې د اوبو د ننوتلو له امله په خپله راوځي د هغو تمامه شوې بیه ډیره ارزانه وي.

په بیلابیلو هیوادونوکې د نفتو ایستلو او ترلاسه کولو کار بیلابیلې بڼې لري، د بیلګې په توګه د امریکې په متحده ایالاتو کې له هرې څاه څخه په ورځ کې په منځنۍ توګه ۱۳ بیرله نفت، په منځني ختیځ کې ۵۳۰۰ بیلره ، په وینزویلا کې ۲۴۰ او په کاناډا کې ٤٦ بیرله نفت ترلاسه کیږي. ددې لپاره چې ناخالص یا خام نفت په خالص یا چاڼ شوو نفتو واړول شي، باید نور بیلابیل پړاوونه په چاڼځای کې وربانديې تیر شي. په همدې توګه نور ټول کاني توکي بیلابیل پړاوونه تیروي او په بیلابیلو بڼو را ایستل کیږي.

دلته د ډبرو سکرو د را ایستلو یوه بیلګه هم راوړو:

په ځینې هیوادونو لکه د امریکې په متحده ایالاتو او چین کې د ډبرو سکرو زیرمې د ځمکې په ژور تل او ټیټه پوړی کې دي. او په ځینو ځایونو کې یوه پوړی په بله باندې په مات شوي اونا منظم ډول باندې وي، چې ددې ډول کان را ایستل په ریښتیا هم ستونزمن او زیات لګښت غواړي، خو په سکاټلند کې د ډبرو سکرو پوړی، د هغو پریړوالی او اوږدوالی غوره بریښي. د ډبرو سکرو د را ایستلو لپاره معمولا ځاګاني او سمڅې کیندل کیږي چې ځینې وختونه یې ژور والی تر ۲۰۰۰ مترو پورې رسیږي. په دغو سمڅو او ځاګانو کې کارکوونکي او د کار وسایل د کان بیلابیلو ژورو ځایونو ته په لفټ کې ورکوزیږي او بیا په همدغو لفټونو کې سکاره راباسي.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په منظمو ډلو وویشل شي، او د ښاغلي ښوونکي په لارښوونه به د هغو لاملونو یا عواملو په هکله چې د کانونو په را ایستلو کې اغیزه لري او هم د کانونو د را ایستلو د بیلابیلو ډولونو په هکله بحث او خبرې وکړي او د خپلو بحثونو پایله دې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.

پوښتنې:

۱ـ د کاني توکو را ایستل او له هغو څخه کار اخیستل کومو شرایطو او څه شي ته اړتیا لري؟ توضیح یې کړئ.

۲ـ د کاني توکو را ایستل باید کوم پړاوونه تیر کړي؟ بیان یې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د لوست د تصویرونو، متن او نورو سرچینو په کتنه د کانونو د را ایستلو د لارو چارو په هکله خپل نظر ولیکئ او په بل ساعت کې یې په ټولګي کې وواياست.

په نړۍ کې صنایع، د هغو ارزښت او ډولونه یې



۸٤ - شکل

په صنایعو کې د کار نقشه

تاسې څو ډوله صنایع پیژنئ او د نړۍ لویې صنعتي سیمې چیرې دي؟

لکه څرنګه چې د افغانستان په برخه کې هم ولوستل شول، صنعت یو تولیدي فعالیت دی چې له خامو یا لومړنیو توکو څخه په کار ځایونو او فابریکو کې د بنې په بدلون سره صنعتي جنسونه جوړ او خام توکي د کار وړ شیانو باندې بدلیږي.

د صنایعو ارزښت په دې کې دی چې د خامو او لومړنیو موادو بڼه بدلوي، د هغو ګټورتوب، کیفیت او ارزښت لوړوي. د نړۍ هغه شمیر هیوادونو چې له صنعتي انقلاب څخه وروسته یې د خپلو صنایعو ودې او پرمختیا ته کار کړی، نن ورځ د نړۍ پرمختللي هیوادونه بلل کیږي.

۸۵ - شکل

د امریکې په متحده ایالاتو کې د الوتکو جوړولو د صنعت یو انځور

په تولیزه توګه د یوه صنعتي فعالیت د ترسره کولو لپاره باید لاندیني شرایط او امکانات برابرشي:

لومړني توکي، انرژي، د لیږدولو وسایل، مواصلاتي کرښې، ځمکه، کار ځواک، پانګه، د لګښت بازار او فنونه یا مهارتونه.

همدارنګه تولید شوي اجناس چې وروسته تر تولید څخه د

انسان په واک کې ورکول کیږي دادي: الوتکې، بیړۍ، کاغذ، تلویزیون، غوړي، رخت ، موټر او په سلګونو نور.

لکه څرنګه چې په نقشه کې ښکاري د نړۍ مهمې صنعتي سیمې چې هلته ډیر صنایع رامنځ ته شوي دي دادي: شمالي امریکا، اروپا، د آسیا ختیځ او جنوب ختیځ سیمې. نوموړې سیمې دلته په لنډ ډول چې له کمي او کیفي پلوه د نړۍ بیلابیل صنعتي اجناس تولید او پوره کوي، در پیژنو:

• **شمالي امریکا**: د شمالي امریکې صنعتي سیمې د کاناډا او متحده ایالاتو په دواړو هیوادوکې ترسترګو کیږي چې د امریکې د متحده ایالاتو صنعتي سیمې لکه څرنګه چې په نقشه کې ښکاري ددغه هیواد په شمال ختیځ کې د اپلاش له غرونو څخه پیل او تر پنځه ګونو خلیجونو پورې پرتې دي.

• **اروپا**: د اروپا ډیرې مهمې صنعتي سیمې ددغې وچې (ځمکې) په لویدیځ کې دي. په المان کې د رور ناحیه او د انګلستان، فرانسې صنعتي سیمې او د ایټالیا شمال سیمې د اروپا ډیرې مهمې صنعتي برخې دي.

• **د اسیا ختیځ او جنوب ختیځ**: د جاپان هیواد د نړۍ په دغه برخه کې تر ټولو غوره صنعتي سیمه ده. د جاپان صنعتي پټاره له توکیو څخه تر کیوشو پورې ده. همدارنګه هانګ کانګ، مالیزیا، تایوان، جنوبي کوریا او سنګاپور په دغو دوو وروستیو لسیزو کې د صنعت په برخه کې پوره پرمختګونه کړي دي او دصنعتي اجناسو صادروونکي هیوادونه ګڼل کیږي چې خپل جنسونه او مالونه د نړۍ نورو برخوته لیږي. باید وویل شي چې ددغو هیوادو په صنعتي کیدو کې د بهرنیو هیوادو، په تیره بیا د جاپان پانګه ډیره اغیزه لري.

۸۶- شکل



پنبه: د ځمکې له محصول څخه بیا تر وروستي صنعتي شوي محصول پورې

د صنایعو ډولونه:

په ټولیزه توګه صنایع په دوو برخو ویشل کیږي: سپک صنایع او درانه صنایع.

- سپک صنایع: هغه صنایع دي چې د هغو بنسټ په نیمه صنعتي محصولاتو یا د هغو په اجزاوو باندې ولاړ وي او کوم وروستي تولیدات چې ورڅخه ترلاسه کیږي، په سیده توګه د خرڅلاو بازارته وړاندې کیږي، چې د هغو ښه بېلګه د خوراکي توکو، نساجي او لباس، دخرمنې او نور صنایع دي.

د امریکا د متحده ایالاتو د تولیداتو هغه ډولونه چې په دغه هیواد کې زیات تولیدیږي



۸۷ - شکل

- درانه صنایع: هغه دي چې د هغو بنسټ په ډیرو کاني یا ځمکنیو خامو توکو، لکه د ډبرو سکاره، فلزات او اومه نفتو باندې ولاړ وي او معمولا نیمه صنعتي تولیدات لري چې بیاوروسته د نورو شرکتونو په وسیله ورڅخه پوره پاخه او صنعتي توکي جوړیږي لکه د پولادو جوړولو صنعت، د نفت چاڼ او د کیمیایي توکو صنایع.

دلته د بېلګې په توګه د یو شمیر سپکو او درنو صنایعو نومونه اخلو:

- د خوراکي توکو صنایع	- د نفتو او د ډبرو سکرو صنایع
- د جامو او اوبدلو صنایع	- د کیمیایي محصولاتو صنایع
- د څرمنو صنعت	- د ربړ او نورو محصولاتو صنایع
- د لرګیو او د هغو اړوندو څانګو صنایع	- د ښیښې جوړولو، سمنټو او نورو محصولاتو صنایع
- کاغذ جوړول او د هغو اړوند محصولات	- د فلزاتو صنایع
- د ماشینونو صنایع	- د موټر، الوتکې، بیړۍ جوړولو او نورې صنایع
- د بریښنا د وسایلو صنایع	- موبل صنایع او نور

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په دوه کسیزو ډلوکې د لوست د متن، نقشو او تصویرونو په کتنې سره لاندنیو پوښتنو ته ځواب ووايي:

۱ـ د صنعت په سکتورکې د کار نقشه وګورئ، وویاست چې:

الف. په ۲۰۰۱ م کال کې په المان، اتریش، ایټالیا، هسپانیې، مراکش، د سهیلي افریقا هیواد او جاپان کې په سلوکې څومره وګړي د کانونو او صنعت په سکتور کې په کار بوخت وو؟

ب. د همدې نقشې له مخې په روسیه، مکسیکو، او ارجنټاین کې په سلوکې څومره وګړي د صنعت او کانونو په سکتور کې په کار بوخت وو؟

ج. د همدې نقشې له مخې په روسیه، مکسیکو او ارجنټاین کې په سلوکې څومره وګړي د صنعت او کانونو په سکتور کې په کار بوخت وو؟

۲ـ د امریکې د متحده ایالاتو د محصولاتو نقشه و ګورئ، که لاندینی پوښتنې سمې وي د (س) په توري او که ناسمې وي د(ن) په توري یې په خپلو کتابچو کې په نښه کړئ.

الف. د امریکې په متحده ایالاتو کې د الوتکو جوړولو اووه کار خانې شته (   ).

ب. د بیړۍ جوړولو ټول کارځایونه او کارخانې، د نوموړي هیواد د سمندرونو په غاړه جوړ شوي دي.(   )

ج. د امریکې په متحده ایالاتو کې د موټر جوړولو پنځه کارځایونه شته. (   )

پوښتنې:

۱ـ د صنایعو ارزښت توضیح کړئ.

۲ـ سپک صنایع کوم دي؟ په یوې بیلګې سره یې واضح کړئ.

۳ـ درانه صنایع کوم دي؟ د هغو یوه بیلګه هم وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د ورکړل شوي بیلګې څخه په کار اخیستلو سره هغه جملې چې یو له بلې سره اړیکې لري په خپلو کتابچو کې سره ونښلوئ:

۱. د خوراکي توکو صنایع	الف. دګنډلو ماشین
۲. د جامو اوبدلو صنایع	ب. د پراستامول ګولی
۳. د فلزاتو صنایع	ج. شکره
٤. د کاغذ او د هغه اړونده محصولاتو صنایع	د. د څرمنې بوټان
٥. کیمیاوي صنایع	هـ . د لوست کتابونه
٦. د ماشینونو صنایع	و. د کوټې لپاره کوچ او څوکۍ
۷. د څرمنو صنایع	ز. جامې
۸. د موبل صنایع	ح. د اوسپنې ګول سیخان

۳،۶ د صنایعو په پرمختګ کې اغیزمن لاملونه (عوامل)

۸۸- شکل

د مکسیکو د خلیج د ساحل تصویر چې د کیمیاوي صنایعو د ساحل په نوم هم یادیږي.

کوم لاملونه د صنایعو په رامنځته کیدو او د هغو په پرمختګ کې اغیزمن دي؟

کوم لاملونه د صنایعو په رامنځته کیدو او د هغو په پرمختګ کې اغیزمن دي؟

لکه څرنګه چې ددغ لوست او تیر لوست په تصویرونو کې ښکاري، کیفیت لرونکي صنعتي محصولات له بیلابیلو کرنیزو، څارویو او له کاني محصولاتو او نورو څخه جوړیږي. په دې وروستیو کې د صنعت په ډګر کې د تکنالوژۍ په پرمختګ سره ګړندی وده راغلې ده.

ډیر داسې لاملونه شته چې د صنایعو په رامنځته کیدو او د هغو په پرمختګ باندې اغیزه لري، مخکې له دې څخه چې یوه فابریکه او کارځای (کارخانه) جوړ شي، باید د هغې خاوند یا جوړوونکی دغه ډول لاملونه وڅیړي او په پام کې یې ونیسي، چې وکولای شي خپل کارځای او فابریکې ته ډیر ښه ځای غوره کړای شي او دهغې له نورو پرمختګونو څخه ډاډمن شي.

د صنایعو د رامنځ ته کیدو او پرمختیا اغیزمن لاملونه



۸۹- شکل

لکه څرنګه چې په تصویر کې ښکاري، هغه لاملونه چې د صنایعو په ځای پر ځای کېدو او پرمختګ کې اغېزه لري، دوه ډوله لري: طبیعي او بشري.

۱) **طبیعي لاملونه**: هغه طبیعي لاملونه چې د صنایعو په رامنځته کېدو او پرمختګ باندې اغېزه لري لومړني توکي، انرژي او ځمکه ده چې دلته په لنډېز سره توضیح کېږي:

• **لومړني توکي**: د صنایعو په رامنځته کولو او د هغو د راتلونکې پرمختیاو لپاره لومړني توکي د لوړ ارزښت لرونکي دي، خو د یوې فابریکې د ځای په غوره کولو کې د هغو اغېزمنتوب را ټیټ شوی دی، دا ځکه چې هغه صنایع چې پخوا به د لومړنیو موادو سرچینو ته نژدې جوړېدې، نن ورځ د حمل او نقل د وسایلو په پرمختګ سره هغو ته نژدې نه جوړېږي او دا لامل هرومرو په پام کې نه نیول کېږي. خو بیاهم یو شمیر صنایع لکه د اوسپنې د ویلي کولو صنایع د هغو د دروندوالي له امله او دخوراکي توکو صنایع د هغو د ژر خرابیدو له امله کانونو او کروندو ته نژدې جوړېږي.

• **انرژي**: یو بل هغه لامل چې د صنایعو په رامنځته کېدو او پرمختیا کې اغېزه لري هغه انرژي ده. پخوا به یو شمیر صنعتي موسسات په هغو ځایونو کې جوړېدل چې هلته به د ډبرو سکاره یا رواني اوبه وې، لکه د انګلستان په لانکشایر او یورکشایر کې د رخت اوبدلو صنایع، خو وروسته بیا د ډبرو سکرو ځای چې درانه وو او د لېږدولو لګښتونه یې ډېر اوچت وو د نفت او ګازونو انرژي ونیوو. همدارنګه د برېښنا انرژي رامنځته شوه چې د انرژۍ یو ډېر مهم ډول دی او د صنعتي موسساتو د ځای په غوره کولو کې یې ډېره اسانې راوستله، دا ځکه چې لرې پرتو صنعتي کار ځایونو ته هم د برېښنا لېږدول کېدای شي.


۹۰ - شکل د غوښې د صنایعو د فابریکې یو تصویر

• **ځمکه**: د یوه صنعتي کارځای د جوړولو لپاره باید ځمکه ولرو. لومړنۍ فابریکې به معمولاً په کوچنیو ټوټو او اوارو ځمکو کې جوړېدلې، خو د فابریکو په پرمختیا او پراخوالي سره او د هغو دشمیر په زیاتیدو سره اوارو او پراخو ځمکوته اړتیا لازیاته شوه. د یوې فابریکې د ځای په غوره کولو کې به ښه وي چې د ښارو او ناکرنیزو ځمکو څخه کار واخېستل شي ځکه چې ارزانه وي او کرنه په کې نه کېږي.

۲) **بشري لاملونه**: کارځواک، پانګه، د خرڅلاو بازار او حمل او نقل هغه لاملونه دي چې د صنايعو په ځای پرځای کيدو او پرمختيا کې اغيزه لري چې دلته د هريوه په هکله خبرې کوو:

• کارځواک: ښکاره خبره ده چې کار ځواک د صنعت د رامنځته کيدو، ځای غوره کولو او پرمختيا لپاره يو مهم عامل دی او له دوو خواوو يعنې د کميت (د کارګرانو د شمير) او کيفيت (مهارت او تخصص) له پلوه ارزښت لري. پخوا به د کارګرانو شمير ډير ارزښت درلود، خو نن ورځ د صنايعو په ماشيني کولو سره، کارګرانوته اړتيا ورځ په ورځ کميږي، خو د هغوی مهارت او تخصص لوړ ارزښت پيداکوي.

• پانګه: د يوه صنعتي کارځای لپاره د ځمکې د اخيستو، د ماشينونو، لومړنيو توکو، د کارګرانو د حق طرحې او نورو لګښتونو د پوره کولو په خاطر بايد پوره پيسې وي. پخوا وختونو کې به خلکو شخصا د صنعتي کارځای (کارخانې) په جوړولو لاس پورې کاوه، خو نن ورځ بانکونه او دولت پور ورکوي او د هغوی لپاره پانګه برابروي.

• د خرڅـلاو بـازار: داهم د صنعتـي توليداتو د پلورلو لپاره يو مهم لامـل دی چې د صنايعو په پرمختګ کې ارزښـت لري. بيلابيلې سـيمې دګټې د اندازې، د مالونو دبيو، د خرڅلاو د اندازې او اجناسو او مالونو ته د اړتيا لـه مخې يو له بل سـره توپير لـري. صنعتي هيوادونه هڅه کوي چـې د خپلـو توليداتو لپاره زيـات او پراخه بازارونه ومومـي او پـه دې توګه زياته ګټه ترلاسـه کړي. له همدې املـه د صنايعـو خاونـدان د مشتريانو د موندلو په خاطر او د خرڅلاو په بازار د لاسبرې لپـاره سـوداګريز اعلانونه او تبليغات پرمخ بيايي.

۹۱- شکل

د امريکا د متحده ايالاتو په د ترويت ښار کې د موټر جوړولو تصوير. په دغه ښار کې د موټر جوړولو لويې کارخانې لکه فورډ او جنرال هم شته دي.

• حمـل او نقـل: د صنعتي موسسـو د لومړنيـو اړتيا وړ توکو د ډاډمـن کيدويه خاطر

او د خرڅلاو بازار ته د تولید شوو توکو د رسولو لپاره مواصلاتي لارې او د لېږدولو وسایلوته اړتیا ده چې دا د صنایعو په رامنځته کیدو او پرمختیا کې ډیر مهم ارزښت لري. لکه چې وویل شول، د لېږدولو د وسایلو غوره کول د اجناسو یا مالونو په دروندوالي، د لارې اوږدوالی، د مالونو د زیانمن کیدو او نورو پورې تړلې ده.

په کلیفورنیا کې د سیلیکان د ناوې (وادي) تصویر چې زیاتره سپک صنایع لري. لکه د بریښنا صنایع

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او د خپل ښاغلي ښوونکي په لارښوونه دې د هغو طبیعي او بشري لاملونو په هکله خبرې وکړي چې د صنایعو په رامنځته کیدو او پرمختیا کې اغیزمن دي او د خپلو خبرو پایله دې په ټولګي کې ووایي.

پوښتنې:

۱ـ کوم طبیعي لاملونه د یوې فابریکې د جوړولو د ځای په غوره کولو او د صنعت په پرمختیا اغیزه لري؟ د هغو اغیزې د یوې بیلګې په وړاندې کولو سره توضیح کړئ.

۲ـ د صنایعو په پرمختیا کې د بشري لاملونو لکه د کارځواک، پانګې، د خرڅلاوبازار او حمل او نقل رول توضیح کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د امکان په صورت کې دیوې فابریکې له خاوند سره یوه مرکه وکړئ او د لاندینیو پوښتنو ځوابونه راټول، هغه وڅیړئ او بیایې په ټولګي کې وړاندې کړئ:

۱ـ د فابریکې ځای(موقعیت) د کومو ټاکونکو لاملونو له مخې غوره شوی دی؟

۲ـ د دغه صنعتي کارځای خام یا لومړني توکي له کومه کیږي او څرنګه رالیږدول کیږي؟

۳ـ د فابریکې پانګه او کارځواک په څه ډول چمتو شوی دی؟

٤ـ تولید شوي اجناس چیرته پلورل کیږي او دهغو د لیږدولو اسانتیا څرنګه ده؟

٥ـ د خپلې فابریکې له کار څخه خوښ یاست؟ د خپلې خوښۍ یا ناخوښۍ لامل څرګند کړئ؟

اووم ځپرکی

سوداګري او ګرځندويي

په دې ځپرکي کې لولو:

• نړېواله سوداګري او د هغې اهميت
• نړېواله سوداګري

ـ د سوداګريزو راکړو ورکړو حجم
ـ آزادې سوداکريزې سيمې او د هغو مفهوم
ـ د نړېوالې سوداګرۍ سازمان

• ګرځندويي (توريزم) او نړيوال اهميت يې
ـ د نړۍ مهمې ګرځندويي (توريستي) سيمې او هېوادونه
ـ د توريزم د راښکون (جذب) سرچينې
ـ د توريزم نړيوال سازمان
ـ د حمل او نقل ډولونه
ـ سيالي (رقابتونه)
- نړيوال حمل او نقل او دهغه اهميت

د ښېرکی عمومي هدفونه:

زده کوونکي به د دغه ښپرکي په لوستلو سره لاندنيو پوهنيزو موخوته ورسيږي:

- د نړيوالې سوداګرۍ په اهميت به وپوهيږي.
- د نړۍ په کچه د جنسونو او مالونو د سوداګرۍ مهمې لارې به وپيژني.
- د سوداګرۍ آزادې سيمې به وپيژني.
- د سوداګرۍ له نړيوال سازمان او کړنو سره به يې پيژندنه وشي.
- ګرځندوی (توريزم) او د هغه نړيوال اهميت به وپيژني.
- مهم توريستي هيوادونه او سيمې به وپيژني.
- د ګرځندوی (توريست) د جذبولو لارې چارې به وپيژني.
- د نړۍ په کچه حمل او نقل او دهغه مهم وسايل به وپيژني.

زده کوونکي به د دغه ښپرکي په لوستلو سره لاندنيو مهارتي هدفونوته ورسيږي:

- د نړيوالې سوداګرۍ اهميت به بيان کړي.
- په نړۍ کې د سوداګرۍ لارې (تګ لارې) به په نښه کړای شي.
- د سوداګرۍ ازادې سيمې به وپيژندلای شي.
- د سوداګرۍ نړيوال سازمان او د هغه دندې به بيان کړي.
- د ګرځندوی اقتصادي اهميت به وويلای شي.
- د نړۍ د ګرځندوی(سياحت) مهم هيوادونه او سيمې به وښودلای شي.
- د ګرځندويانو د جذبولو مهمې لارې ـ چارې به وښودلای شي.
- ددغه ښپرکي له نقشو څخه به ډير غوره کار واخيستلای شي.

شپږڅلویښتم لوست

۷ ، ۱ نړیواله سوداګري او د هغې اهمیت

۹۳ - شکل

چین د کارګرانو د ټیټ مزد او د خرڅلاو د لوی بازار له امله وکړای شول چې د زیات شمیر نړیوالو شرکتونو د ځانګو پاملرنه را واړوي.

نړیواله سوداګري د نړۍ د وګړو د ژوند د کچې په لوړیدوکې څه رول لري؟

تاسې د افغانستان په برخه کې د سوداګرۍ له مفهوم څخه خبر شوئ. لکه چې وویل شول سوداګري د اجناسو او خدماتو تبادله کول دي چې د دوو لورو (وګړو، ډلو، هیوادونو) ترمنځ ترسره کیږي.
په اوسني وخت کې دغه سوداګریزې راکړې ورکړې معمولا په پیسو تر سره کیږي.
په عمومي توګه په ټوله نړۍ کې څلور ټکي د سوداګریزې او د مالونو د لیږدولو په برخه کې مهم دي:
۱) **په نړۍ کې د ځمکنیو توکو ویش**: یو شمیر هیوادونه لکه جاپان، خام یا ځمکني توکي ډیر لږ لري، نو دوی باید هغه د نړۍ له نورو هیوادونو څخه وارد کړي.
۲) **نژدیوالی**: د بیلګې په توګه د افغانستان سوداګري زیاتره له نژدې او ګاونډیو هیوادو سره ده.
۳) **د لاسبرۍ وړتیا**: ښې او غوره لارې په لویو سیمو باندې لاسبری اسانه کوي. د بیلګې په توګه: د انګلستان او فرانسې ترمنځ تر اوبو لاندې د تونل له جوړولو وروسته یعنې له ۱۹۹۵ م کال څخه وروسته د سوداګریزو اجناسو لیږدول تریخوا زیات شول.
۴) **د پرمختیا د کچې درجه**: د سوداګریزو اجناسو ډیره زیاته راکړه ورکړه د پرمختللو هیوادونو ترمنځ ترسره کیږي.
هغه اجناس او مالونه چې د نړۍ په سوداګرۍ کې ډیر مهم دي، معمولا درې ډوله دي:؛
• **ځمکني توکي**: دا هغه ډول محصولات دي چې لا صنعتي شوي نه وي او خام توکي هم ورته ویل کیږي لکه مالوچ چې په تصویر کې ښکاري.؛
• نیم صنعتي شوي توکي: هغه ځمکني توکي چې په هغو باندې کار شوي وي او بڼې او ځرنګوالی یې بدلون موندلی وي لکه رخت چې له مالوچو څخه جوړشوی دی.

• وروستی محصول : هغه مواد (توکي) یا محصولات چې ټول صنعتي او تولیدي پړاوونه یې تیر کړي وي لکه هغه دسمالونه او جامې چې له ټوکر څخه جوړ شوي دي او په تصویر کې ښکاري.

له دې امله چې په شلمه پیړۍ کې د اجناسو او محصولاتو لیږدول د پخوا په پرتله ډیر ارزانه او اسانه شول، د نړۍ د بیلابیلو هیوادونو ترمنځ سوداګري هم لازیات ارزښت موندلی دی چې دا په خپله د نړیوال کیدو Globalization یو مهم شکل دی.

نړیوال کیدل یا ګلوبالیزیشن د نړیوالې سوداګرۍ د پرمختیا او همدارنګه له اسیا څخه د اروپا خواته د لیږدولو د ترانسپورت د زیاتیدو لامل شوی ده. په دې وروستیو کلونو کې د نړۍ سوداګري ډیره فعاله شوی دی، په تیره بیا د اسیا لویدیځې نړۍ ترمنځ سوداګري ډیره پرمخ تللې ده. لکه څرنګه چې په تصویر کې ښکاري د اسیا سوداګري به په راتلونکی کې هم له لویدیځ سره لازیاته شي، دا له دې کبله چې اوس د اروپا په پرتله په اسیا کې د کارګرانو مزد ډیر لږ دی نوځکه د زیاترو اروپایي شرکتونو ځانګې او استازي په اسیایي هیوادونو کې کارکوي او صنعتي شوي محصولات له اسیا څخه لویدیځې نړۍ ته، په تیره بیا اروپاته استول کیږي.

اوس ختیځه اروپا هم د اقتصادي او د سوداګریزې ودې په حال کې ده او له اسیا څخه به ډیر صادرات ترلاسه کړي.

سره د دې چې نړیواله سوداګري د خلکو داړتیاوو د پوره کیدو او د هیوادونو د پرمختګ لامل کیږي او د خلکو د ژوند د کچې په لوړیدو کې مهم ارزښت لري، خو د یو شمیر نویو ستونزو د راپیداکیدلو لامل هم کیږي، له دغه ستونزو څخه یوه یې د ترانسپورت له امله د چاپیریال ککړتیا ده د ترانسپورت په زیاتیدو سره ورځ په ورځ د ژوند چاپیریال اغیزمن کیږي، د اقلیم د بدلون، د ترافیک د ډیرې ګڼې ګوڼې او د ناوړه غږ زوږ او شور ماشور لامل کیږي.

په لنډیزه سره ویلای شو چې سوداګري د وګړو او ټولنو د اقتصاد په پیاوړتیا کې لوی ارزښت لري او د دریم سکتور یعنې خدماتو یوه مهمه برخه ده. په ننني نړۍ کې د هغو هیوادونو د خلکو د ژوند کچه اوچته ده چې د هغو زیات شمیر وګړي د خدماتو په سکتور کې بوخت دي، د ژوند کچه یې هم اوچته ده.

د ټولګي دننه فعالیت:

د لوست متن او تصویرونه ورو ولولئ او د ستونزمنو ټکو په هکله له ښوونکي څخه پوښتنه وکړئ.

پوښتنې:

۱. نړیوال کیدل یا ګلوبالیزیشن له سوداګرۍ سره څه اړیکې لري توضیح یې کړئ.
۲. د نړیوالې سوداګرۍ اهمیت په څه کې دی؟
۳. ستاسو له نظره کوم هیوادونه د نړۍ په سوداګرۍ کې ډیره برخه لري؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د نړیوالې سوداګرۍ او د نوموړي ارزښت په هکله د بیلابیلو سرچینو څخه په ګټې اخیستنې یو مخیزه مقاله ولیکئ.

۲،۷ نړیواله سوداګري

الف ـ د سوداګریزو راکړو ورکړو حجم



۹۴- شکل

د لوست نقشو او تصویرونو ته وګورئ د نړۍ کوم هیوادونه او کومې سیمې په نړیواله سوداګرۍ کې ډېره برخه لري؟

د سوداګریزو جنسونو ډېره زیاته راکړه ورکړه د پرمختللو هیوادونو ترمنځ ترسره کیږي. داسې ویل کیږي چې څومره یوه سیمه پرمختللې وي، هومره یې په نړیواله سوداګرۍ او ترانسپورت کې ونډه زیاته وي. لکه څرنګه چې په شکل کې ښکاري د نړۍ په سلوکې ۲۰ بډای هیوادونه د نړۍ په سلوکې ۷۵ عایدات، په سلوکې ۸۵ صادرات او په سلوکې ۷۵ د تلیفونونو لینونه په واک کې لري، په داسې حال کې چې د نړۍ په سلوکې ۲۰ بېوزله هیوادونه د نړۍ یوازې په سلوکې یو عایدات، په سلوکې یو صادرات او په سلوکې ۱،۵ د ټیلیفونونو لینونه لري. د نړۍ بېوزلو هیوادونو پخوا یوازې د خامو یا ځمکنیو توکو له صادرولو څخه یوڅه پیسې ترلاسه کولې، خو بډایو هیوادونو د صنعتي ـ پخو جنسونو له پېرودلو څخه ګټه ترلاسه کوله، خو دغه کار د نړۍ د بېوزلو هیوادونو په زیان و داځکه چې د خامو یا ځمکنیو توکو له خرڅلاو څخه ډېرې لږې پیسې په لاس راتلې. په اوسني وخت کې پرمختیایي هیوادونه هم هڅه کوي چې د خپلو صادراتي مالونو شمیر زیات کړي او اوس یو زیات شمیر پرمختیایي هیوادونه خپل صنعتي محصولات لکه جامې د برېښنا وسایل او نور صادروي. همدارنګه پرمختیایي هیوادونه داهڅه هم کوي چې خپل ځمکني یا خام توکي په خپلو هیوادونو کې صنعتي اوبیاېې صادر کړي.



په اقتصاد، صادراتو، او د تیلفون په کرښو کې د نړۍ د بډایو او بیوزلو هېوادونو ونډه

۹۵- شکل

۹۶- شکل
په بنګله دیش کې د کنفو بازار



۹۷- شکل

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، د لوست نقشه دې په ځیر سره وګوري او لاندیني فعالیتونه دې ترسره کړي:

۱ـ د وریجو په تولید او سوداګرۍ کې د نړۍ کومې دوه سیمې ډېره برخه لري او په دغو دوو سیمو کې د وریجو ټول تولید په ۲۰۰۵ م کال کې څو میلیون ټنه وو؟

۲ـ کومو دوو سیمو په ۲۰۰۵ م کال کې د غنمو یو برابر تولید درلود او د کومو سیمو ترمنځ د هغو سوداګري د اوبو له لارې ترسره کیده؟

۳ـ په همدې کال کې کومو دوو سیمو ډیر زیات کبان تولید کړي وو او اندازه یې څومره وه؟

٤ـ ستاسې په فکر د نړۍ کومه لویه وچه د خوراکي توکو د تولید له پلوه د نړۍ تر ټولو بیوزله سیمه ده او لامل یې څه دی؟

پوښتنې:

۱ـ بیوزلو یا پرمختیایي هیوادونو پخوا څه ډول توکي صادرول؟

۲ـ ستاسې له نظره د نړۍ کوم بډای هیوادونه په سوداګرۍ کې ډېره ونډه لري؟

۳ـ د کوم ډول محصولاتو صادرول ډېره ګټه لري؟ خام که صنعتي شوي توکي، ولې؟ توضیح یې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

ددغه لوست متن او نقشې وګورئ، د هغو مهم ټکي زده کړئ او که ستونزې یا پوښتنې وي هغه په بل ساعت کې له خپل ښاغلي ښوونکي څخه وپوښتئ.

ب ـ آزادې سوداګريزې سيمې او دهغو مفهوم



۹۸- شکل

د (ګډکار) په I او II نقشوکې کوم سازمانونه او اقتصادي ټولنې تر سترګو کيږي؟

د نړۍ هغه سيمې او هيوادونه چې په هغوکې آزاده سوداګري ترسره کيږي، او د آزاد بازار سوداګريز سياست يې غوره کړی، د ازادو سوداګريزو سيمو مفهوم لري خوپه حقيقت کې ازاده سوداګري هغه سوداګري او راکړه ورکړه ده چې پرته له هر ډول پولې او خنډ څخه ترسره شي. د هيوادونو کورنۍ سوداګري معمولاً په ازاد ډول پرمخ ځي، خو نړېواله سوداګري د يو شمير خنډونو اوپولو سره مخامخ ده لکه: ګمرکي ماليات، سرحدي مقررات او نور.

د ازادې سوداګرۍ نظريه پر دې بنسټ ولاړه ده چې سياسي او نور نا طبيعي مقررات د نړۍ د بيلابيلو سيمو ترمنځ سوداګري او راکړه ورکړه محدوده نه کړي، ازاده سيالي وشي، هره سيمه او برخه دې د هغو جنسونو او مالونو په توليدکې تخصص ترلاسه کړي کوم چې دوی يې د نورو سيمو پرتله اسانه او ارزانه توليدولای شي اوپه دې توګه د توليدي سيمو يو ډول طبيعي غوره کول او ويش رامنځته کيږي او د جنسونو اخيستونکي کولای شي د خپلې اړتيا وړ جنسونه ارزانه او په ښه توګه ترلاسه کړي.

خو د نړۍ هيوادونه د خپلو ملي صنايعو د ملاتړ او پياوړتيا په خاطر او د خپلو داخلي توليداتو د ښه کولو په خاطر يو ډول ځانګړې ګمرکي مالي او سوداګريز سياست غوره کوي.

د نړۍ په ځينو سيمو کې لکه د اروپايي ټولنې په شان د ټولنې د غړو هيوادونو ترمنځ سوداګري پرته له ګمرکي او سرحدي محدوديتونو څخه پرمخ ځي:

ج ـ د سوداګريزو سيمو ويش:

لکه چې مخکې هم وويل شول، په شلمه پيړۍ کې د سوداګريزو مالونو ليږدول اسانه او ارزانه شول، همدارنګه د نړۍ يو شمير هيوادونه په سوداګريزو ټولنو او سازمانونو کې يو د بل ترڅنګ ګډ کار کوي او هغه خنډونه



۹۹- شکل

د تجارتي ترافیک نقشه

چې د سوداګرۍ د پرمختګ مخه نیسي، له منځه وړي. سوداګري په ټوله نړۍ کې لوړ ارزښت مومي او څه ناڅه د نړۍ ټولې سیمې اوس په سوداګرۍ کې ونډه اخلي. خو بیاهم د نړۍ یو شمیر سیمې په نړیواله سوداګرۍ کې د نورو پرتله زیاته برخه لري چې په دې کې لویدیځه اروپا، شمالي امریکا، د اسیا ختیځ او جنوب ختیځ، د پاریس د خلیج هیوادونه، پخواني شوروي اتحاد او ختیځه اروپا د یادولو وړ ده چې د نړۍ ډیرې لوېي او مهمې سوداګریزې سیمې یې جوړې کړې دي.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي (د تجارتي ترافیک) نقشه دې ولولي، لاندینی دندې دې ترسره او د خپل کار پایلې دې له خپلو ټولګیوالو سره ګډې کړي.

۱. په نقشه کې څو مهمې سوداګریزې سیمې وګورئ؟ د هغو نومونه واخلئ.
۲. په ۲۰۰۳ م کال کې په کومه سیمه کې ډیر لوی سوداګریز ترافیک لیدل کیږي او ارزښت یې څو ملیارده یوروته رسیږي؟
۳. په همدې کال کې د کومو سیمو ترمنځ ډیر زیات سوداګریز مالونه ورل راوړل شوي دي او د هغو ټوله بیه څو ملیارده یورو شوې وه؟
٤ـ په نړیواله سوداګرۍ کې د خلیج او افریقایي هیوادونو ونډه پرتله کړئ او د هغو ترمنځ توپیر توضیح کړئ.

پوښتنې

۱ـ د یو څو مهمو سوداګریزو سیمو نومونه واخلئ.
۲ـ د نړۍ د کومو سیمو ترمنځ ډیر زیات سوداګریز مالونه لیږدول کیږي؟
۳ـ ولې په نړیواله سوداګرۍ کې د نړۍ پرمختللي هیوادونه مهمه ونډه لري؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

ددغه لوست I او II د ګډ کار نقشې ولولئ، اقتصادي ټولنې او سازمانونه د هغو له اړونده هیوادونو سره لست کړئ او همدارنګه ولیکئ چې افغانستان د کومو اقتصادي سازمانونو غړی دی.

د ـ د نړيوالې سوداګرۍ سازمان



شکل -۱۰۰

ولې نړيوالو د نړيوالې سوداګرۍ د سازمان جوړولو ته اړتيا درلوده؟

نړيوال سوداګريز سازمان (World Trade Organization (WTO د ۱۹۹۵ م کال د جنوري په لومړۍ نيټه جوړ او مرکزي دفتر يې په ژينو کې دی. د نړيوالې سوداګرۍ سازمان (WTO) له جوړيدو څخه مخکې د (General Agreement on Tariffs and Trade (GATT ياد سوداګري او ګمرکي تعرفو د عمومي پريکړه ليک په نوم يو بل موافقه ليک په ۱۹٤۷ م کې په ژينو کې د ۲۳ غړيو هيوادونو له خوا لاسليک شوی و، چې وروسته د نړيوالې سوداګرۍ سازمان د هغه ځای ونيو. د نړيوالې سوداګرۍ د سازمان دندې نړيوالې سوداګرۍ ته پرمختيا ورکول، د سوداګريزو ستونزو حل کول او د سوداګريزو خنډونو له منځه وړل دي. دغه سازمان د ۱٤۹ غړو او د ۳۰ وياړلي غړو په لرلو سره وکولای شول چې په ۲۰۰۲ م کال کې د نړۍ د ټولې سوداګرۍ په سلوکې له ۹۵ برخو څخه استازيتوب وکړي. د نړيوالې سوداګرۍ سازمان له خپلو جوړيدو څخه شل مياشتې وروسته ۱۲۲ غړي لرل، خو په ۲۰۰۷ م کال کې يې د غړو شمير ۱۵۰ ته ورسيد.

د نړيوالې سوداګرۍ د سازمان د جوړيدو اصلي مفکوره داده چې نړيواله سوداګري د نړۍ د سوکالۍ د پرمختګ لپاره يوه ډيره غوره لاره ده، نو ځکه بايد د نړيوالې سوداګرۍ له مخې ټول خنډونه لرې شي.

د نړيوالې سوداګرۍ په سازمان کې نه يوازې دا چې د جنسونو او مالونو د سوداګرۍ په اړه خبرې او پريکړې

کیږي، بلکې د ملکیتي حقونو او خدمتونو په هکله هم خبرې او پریکړې کیږي.

د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان په داخلي جوړښت کې، ددغه سازمان غړي د نړیوالې سوداګرۍ د ازادۍ او اسانتیاوو په اړه پریکړې کوي او تصمیم نیسي چې باید پر ټولو غړو یوشان تطبیق شي. ددغه سازمان د دفتر ترځنګ چې په ژینو کې دی، یوه بله شورا هم شته چې د عمومي شورا (General Council) په نوم یادیږي. دغه شورا د غړو هیوادونو له سفیرانو یا استازیو څخه جوړه ده.له دې پرته څو نورې کاري ډلې هم لري لکه د مالونو شورا (Goods Council)، د خدمتونو شورا (Services Council) او د علمي ملکیتونو شورا (Intellectual Property Council) چې دا ټول تل په فعالیت او خبرو اترو بوختي وي او ددغه سازمان د وزیرانو کنفرانس ته چې معمولاً په هرو دوو کلونو کې یوځل دایریږي ځمتوالی نیسي.

د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان پاندې نیوکې هم شته او هغه داچې ځینې وخت ددغه سازمان پریکړې د ټولو غړو هیوادونو په ګټه نه وي، په تیره بیا پرمختیایي هیوادونه په ډیرو ستونزو سره کولای شي چې د لویدیځو پرمختللو هیوادونو په بازارونو کې د خپلو مالونو د خرڅلاو امکانات برابر کړي.

د ټولګي دننه فعالیت:

د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان نقشه وګورئ، لاندنیو پوښتنو ته ځواب ورکړئ:

۱ـ د اسیا د لویې وچې کومو هیوادونو د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان له جوړیدو سره سم د هغه غړیتوب درلود؟

۲ـ د افغانستان او د دریو نورو هغو هیوادونو چې په ژیړ رنګ ښودل شوي دي نوم واخلئ او د هغوئ دریځ بیان کړئ.

پوښتنې:

۱ـ د نړیوالې سوداګرۍ سازمان په کوم کال جوړ شو او دهغه مرکزي دفتر چیرې دی؟

۲ـ د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان مهمې دندې کومې دي؟ توضیح یې کړئ.

۳ـ د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان مثبت او منفي اړخونه کوم دي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

افغانستان په دې وروستیو کې د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان غړیتوب ترلاسه کړی که نه؟ که یې ترلاسه کړی دی، څه وخت په کومو شرایطو؟ په دې اړه معلومات راټول او په ټولګي کې یې وواياست.

ګرځندويي (توريزم) او نړيوال اهميت يې



په نړۍ کې د ګرځندويانو د جذب ور مهمې سيمې او په امريکايي ميليارد ډالرو باندې په ۲۰۰۲ م. کال کې له هغو څخه تر لاسه شوي عوايد

د نړۍ د ګرځندوی نقشې ته وګورئ او ووايئ چې کوم هيواد په ۲۰۰۲ م کال کې له ګرځندوی څخه ډېر زيات عوايد ترلاسه کړئ وو؟

ټول هغه فعاليتونه چې خلک يې د وزګارتيا پرمهال ترسره کوي او لږ تر لږه له يوې شپې ورځې څخه تر يو کال پورې له کورڅخه بهروي ګرځندويي بلل کيږي، په دې توګه ګرځندوی (توريست) هغه څوک دی چې د خپل اوسيدو له ځای څخه بهر کوم ښار يا هيواد ته له يو کال څخه کم او له يوې شپې ورځې څخه د زيات وخت لپاره ولاړشي او موخه يې په وزګار وخت کې دمه، ګرځيدل، سپورت، مذهبي فعاليتونه، علمي کتنې او نور وي.

نن ورځ په نړۍ کې ګرځندويي په يو مهم صنعت اوښتی ده او څه ناڅه په هرو پنځلسو تنو کې يو تن د ګرځندويي په سکتور کې کار کوي، همدارنګه هر کال په نړۍ کې ۷۰۰ ميليونه تنه د خپلو رخصتيو د تيرولو په خاطر بهرنيو هيوادونو ته ځي. په دې وروستيو کې د نړۍ خلک په تيره بيا د پرمختللو هيوادونو خلک له پخوا څخه زيات ګرځي او د نړۍ ډېرو لېرې سيموته ورځي، چې لاملونه يې د ډېرو پيسو لرل، د ژوند او د دمې او تفريح د وسايلو ښه کيدل او د لیږدولو د وسايلو پرمختګ دی.

هغه سیمې چې هلته ګرځندویان ورځي، باید ځانګړې په زړه پورې والۍ ولري او د ګرځندویانو هیلې پوره کړي. په دې توګه زیاتره دولتونه دا هڅه کوي چې په خپلو هیوادونو کې د ګرځندویۍ د پراختیا او ودې په خاطر امکانات برابر کړي.

ګرځندویي عموما اقتصادي او کلتوري اهمیت لري. د هغې اقتصادي ارزښت په دې کې دی چې کولای شي له دوو لارو څخه د پرمختیایي هیوادونو اقتصادي ودې سره مرسته وکړي.

ـ د عایداتو زیاتوالی: کله چې ګرځندویان او سیلانیان یوه هیوادته ورځي، اړ دي چې هلته د خپلو خوړو او اوسیدلو په خاطر هوټلونو، میلمستونونو، ترانسپورت، د سیل ځایونو لکه پارکونو، موزیمونو او نوروته پیسې ورکړي او همدارنګه یو شمیر سوغاتونه او سامانونه واخلي چې پرته له شکه دهماغه هیواد په اقتصاد غوره اغیزه کوي.

د کار او بوختیا چمتو کول: یوه هیوادته د ګرځندویانو د پاملرنې او د ګرځندوی د صنعت د پرمختیا په خاطر باید ډیر ښه امکانات لکه میلمستونونه، هوټلونه، د اوسیدو ځای او نور، د ژوند اسانتیاوې لکه ترانسپورت، د ګرځیدو وسایط او نور چمتو شي.

ددې لپاره چې دولتونه دغه امکانات چمتو کړای شي باید په دغو ټولو برخو کې کار وشي چې دا په خپله د کار د پیداکیدو لپاره لاره اواروي.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په څلورو ډلو وویشل شي: لومړۍ ډله به د نړۍ د ګرځندوی نقشه وګوري او د امریکې د لوېې وچې د څلورو هیوادونو د نړیوالو ګرځندویانو شمیر او د هغو کلني عواید به د نقشې له مخې وټاکي او ولیکي، دویمه ډله به په آسیایي څلورو هیوادونو، دریمه ډله به په افریقا او څلورمه ډله به په اروپا کې څلور داسې هیوادونه چې نښې یې پورته وښوول شوې ولیکي او هره ډله به د خپل کار پایله په ټولګي کې وړاندې کړي.

پوښتنې:

۱ـ کوم لاملونه دي چې نن ورځ په نړۍ کې خلک لیرې لیرې سیموته توریستي سفر کوي او د هغوئ شمیر ترپخوا زیات شوی دی؟

۲ـ د نړیوال ګرځندوی اقتصادي ارزښت توضیح کړئ.

۳ـ د ګرځندویي کلتوري اهمیت په څه کې دی توضیح یې کړئ؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

له کتابتون او انټرنټ څخه په کار اخیستنې سره د نړیوال ګرځندوی مثبت او منفي اړخونه په یوه پاڼه کې ولیکئ.

الف ـ د نړۍ مهمې ګرځندوی (توریستي) سیمې او هیوادونه

د پاریس د ښار یوه څنډه چې د نړۍ ګرځندویانو ته له کلتوري پلوه ځانګړې ارزښت لري.

نقشې وګورئ، په نړۍ کې د ګرځندوی مهمې سیمې او هیوادونه کوم دي؟

ګرځندوی (توریست) هغې سیمې یا هیواد ته ورځي، چې هلته یوځه وي چې د دوی په خپله سیمه کې نه وي. له دې امله چې ټول هیوادونه او ټولې سیمې د ګرځندوی لپاره یوشان او کټ مټ شرایط نه لري او بیلابیل امکانات لري. له همدې امله یوه سیمه د بلې نیمګړتیا بشپړوي او ګرځندویان ځان ته رابولي. هغه سیمې چې هلته تر اوسه تر ټولو زیات ګرځندویان ورځي اروپا او شمالي امریکا ده.

یوه ګرځندوی ته واټن د یوې توریستي سیمې د ټاکلو لپاره ډیر مهم دی، څومره چې د توریستي سیمې موقعیت لیرې وي، هومره هلته ګرځندویان لږ ورځي. زیاتره ګرځندویان له پرمختللو هیوادونو څخه وي او پرمختللو هیوادونو ته سفر کوي. اوس په پرمختیایي هیوادونو کې هم توریزم او ګرځندوی د پرمختیا په حال کې دی چې لاندینی لاملونه ورباندې اغیزه لري.

۱. د حمل او نقل وده او پراختیا.

۲. زیاتره وخت پرمختیایي هیوادونه ګرځندویانو ته په زړه پورې وي، دا ځکه چې دغه هیوادونه غوره هوا او په زړه پورې طبیعت لري، له بلې خوا یو ګرځندوی په لږ لګښت سره هلته خپلې ورځې تیرولای شي.

۳. د پرمختیایي هیوادونو دولتونه هڅه کوي چې د خپلو هیوادونو د اقتصاد د ودې لپاره په ګرځندوی سیمو کې ښه والی راولي او د ګرځندویانو پام ورته را واړوي.

لکه څرنګه چې په تیر لوست کې د نړۍ په توریستي نقشه کې ولیدل شول، ښکاري چې په نړۍ کې توریستي سیمې ډیرې زیاتې ډول ډول او بیلابیلې دي، چې دلته به یې له ځینو سیمو سره اشنا شو.

• **اروپا**: مرکزي، جنوبي او جنوب لویدیځه اروپا د مدیترانې د سیمې په ګډون د نړۍ د ګرځندوی ډیرې مهمې سیمې دي. ددغې سیمې هیوادونه هر کال له ګرځندوی څخه زیات شمیر ګټې او لوړ عاید ترلاسه کوي. د مدیترانې د سمندرګي لمر لرونکې غاړې او په زړه پورې هوا په اوړي کې د لامبو، موټر ځغلولو، سپورتي راز راز لوبو او د اس ځغلولو لپاره ډیره غوره ده. همدارنګه لوی تاریخي ښارونه لکه پاریس، لندن، روم، مادرید او د المان او هالنډ یو شمیر ښارونه او نور د تیاترونو، سینماګانو او هنري نندارو، موزیمونو، تاریخي ودانیو، په زړه پورې پارکونو او د موسیقي جشنونو له پلوه، په تیره بیا په اوړي کې د ګرځندویانو او سیلانیانو لپاره ډیر په زړه پورې دي او د نړۍ له هر ګوټ څخه ورته ګرځندویان ورځي.

په یوه ساحل کې د ګرځندویانو او هغوی ته د اسانتیاوو تصویر — ۱۰۳- شکل

د اتریش او سویس هیوادونه د الپ د غرونو په لړۍ کې د ژمنیو سپورتونو په برخه کې د ډیر غوره خدمتونو او اسانتیاو په لرلو سره په اروپا کې د ګرځندوی مهم ژمني مرکزونه دي.

۱۰۴- شکل

په یوه غرنۍ سیمه کې د ګرځندویانو یوه کوچنۍ ډله

• **آسيا**: دغه لویه وچه چې په حقیقت کې د لویو دینونو او تمدنونو زانګو ده په نړۍ کې د ګرځندوی لپاره غوره سیمې لري. منځنی ختیځ په نړۍ کې مذهبي توریستي لویه سیمه ده. مکې معظمې ته د حج پرمهال د نړۍ ډیر زیات حاجیان او زیارت کوونکي ورځي. همدارنګه چین، ترکیه، اندونیزیا، هند او یو شمیر نور هیوادونه هم د ګرځندوی د په زړه پورې سیمو په لرلو سره هر کال د نړۍ د ګرځندویانو پاملرنه ځان ته را اړوي.

د ځګرو له کلونو څخه مخکې زموږ هیواد ته چې د ډیرې غوره هوا، ارزښتمنو کلتوري او تاریخي اثارو، تاریخي او مذهبي ودانیو او نورو غوره طبیعي منظرو لرونکی دی ګڼ شمیر ګرځندویان هم راتلل چې په تیرو لوستونو کې ولوستل شول.

• **شمالي امریکا**: د امریکا متحده ایالات او کاناډا د طبیعي بیلابیلو منظرو لکه ملي پارکونو، ژوبڼونو، لمر لرونکو تودو سواحلو او کلتوري سیمو، او موزیمونو په لرلو سره د ګرځندویانو د پام وړ هیوادونه دي. په دې وروستیو کلونو کې مکسیکو، د جنوبي او مرکزي امریکې یو شمیر نور هیوادونه هم د ملي

طبيعي پارکونو او کلتوري مرکز ونو په لرلو سره د ګرځندويانو د پام وړ ګرځيدلي دي. د يادولو وړ ده چې په افريقا کې هم د ګرځندوی لپاره د پام وړ سيمې او هيوادونه شته لکه د مصرهيواد چې مهم تاريخي اثار لري او د کينيا او جنوبي افريقا هيوادونه هم يادولای شو.

د ټولګي دننه فعاليت:

زده کوونکي دې په څلورو ډلو وويشل شي او د نقشې تصويرونو او د لوست د متن په لوستلو سره دې لاندينی دندې ترسره او د هغو پايلې دې په ټولګي کې وړاندې کړي:

- لومړۍ ډله به د نړۍ د ګرځندوی مهمې سيمې او هيوادونه لست کړي.
- دويمه ډله به هغه سيمې وليکي چې لمر لرونکي تاوده سواحل لري او د ګرځندوی د پاملرنې وړ ګرځيدلي دي.
- دريمه ډله به د هغو هيوادونو او سيمو نومونه وليکي چې د ژمنيو سپورتونو لپاره د ګرځندويانو د پام وړ دي.
- څلورمه ډله به د نړۍ د هغو نامتو ښارونو نومونه وليکي چې تاريخي او کلتوري ارزښت لري او د ګرځندويانو د پاملرنې وړ ګرځي.

پوښتنې:

لاندينی جملې ولولئ او تش ځايونه يې په خپلو کتابچو کې په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. د ژمنيو سپورتونو لپاره ډير ښه او هوسا خدماتي امکانات د (   ) په غرونو کې د (   ) او (   ) په هيواد کې شته.

۲. (   ) په نړۍ کې يوه لويه مذهبي توريستي سيمه ده.

۳. زياتره ګرځندويان د (   ) هيوادونو دی او (   ) هيوادونو ته ځي.

٤. هغه لاملونه چې په پرمختيايي هيوادوکې د ګرځندوی (توريزم) د پرمختګ سبب کيږي (   ) (   ) او (   ) دي.

له ټولګي څخه بهر فعاليت:

له مجلو، ورځپاڼو، مسافري شرکتونو، خپلو دوستانواو خپلوانو څخه دګرځندوی او ياګرځندويي سيمې يو ډير په زړه پوري تصوير ترلاسه او د هغه په هکله په بل راتلونکي لوست کې خپلو ټولګيوالوته معلومات ورکړئ.

ب ـ د توریزم د راښکون (جذب) سرچینې

۱۰۵- شکل
په هسپانیا کې کلتوري توریزم

کومې سرچینې چې په نړۍ کې د ګرځندویانو د جذب وړ کیدای شي؟

هغه طبیعي، کلتوري او تاریخي سرچینې دي، چې په لنډه توګه یې در پیژنو:

۱. **طبیعي سرچینې**: د نړۍ ځینې سیمې ډېرې ساحې لري چې د توریست د پاملرنې وړ ګرځي لکه په اوړي کې اروپا، مرکزي امریکا، جنوبي امریکا، د جنوب ختیځې آسیا او استرالیا د سیندونو، جهیلونو او سمندرګیو غاړې.

غرنۍ سیمې، په تیره بیا هغه غرونه چې هلته د ژمنیو لوبو او سپورټونو امکانات شته لکه په اتریش او سویس کې الپ او نورې هغه سیمې چې غوره طبیعي ساحې لري. همدارنګه په افریقې، امریکې او نورو ځایونو کې طبیعي پارکونه ګرځندویانو ته په زړه پورې دي.

۲. **تاریخي او کلتوري سرچینې**: هغه تاریخي او کلتوري ښارونه او سیمې چې پخوانۍ ودانۍ، پړې (تنې، جسدونه) موزیمونه، ننداړتونونه او فرهنګي مرکزونه لري د ګرځندویانو پاملرنه ځانته اړوي لکه د اروپا، امریکا، اسیا او افریقې مشهور او نامتو ښارونه.

سپیڅلو ځایونو لکه مکې معظمې ته هر کال ډېر زیات شمیر زیارت کوونکي د نړۍ له بیلابیلو برخو څخه ورځي او هغو زیارتونو او عبادت ځایونو ته هم ډېر ګرځندویان ورځي چې د نړۍ په بیلابیلو برخو کې شته دي.

ج. د توریزم نړیوال سازمان: د توریزم یا ګرځندوی نړیوال سازمان The World Tourism Organization چې د ملګرو ملتونو د سازمان په اړانه کې کارکوي، یو ځانګړی سازمان دی چې د ګرځندوی په برخه کې ټولې نړیوالې ستونزې اواروي.

د ګرځندوی د نړیوال سازمان لومړنۍ لویه غونډه د هسپانیې د هیواد په بلنه د ۱۹۷۵ م کال د مۍ په میاشت کې د هغه هیواد د مادرید په ښارکې جوړه شوه، او روبرت لوناتي Robert Lonatie د دغه سازمان لومړنی رئیس وټاکل شو.

د یادونې وړ ده چې د ګرځندوی له نړیوال سازمان څخه مخکې یو شمیر نور سازمانونه او ټولنې

وې چې د ګرځندوی په برخه کې یې کار کاوه او وروسته بیا نوموړي سازمان د هغوئ ځای ونیو. په اوسني وخت کې د نړۍ ۱۶۱ هیوادونه او سیمې د ګرځندوی د نړیوال سازمان غړیتوب لري چې ۳۹۰ ساحوي مرکزونه لري، همدارنګه دغه سازمان شپږ سیمه ییز کمیسیونونه لري چې په افریقې، امریکې، ختیځې اسیا او پسفیک، اروپا، منځنی ختیځ او جنوبي اسیا کې فعالیت کوي، د ګرځندوی نړیوال سازمان لویه یا عمومي غونډه په هرو دوو کلونو کې یوځل جوړیږي او رئیس یې د څلورو کلونو لپاره غوره کیږي. د نوموړي سازمان رسمي ژبې عربي، انګلیسي، فرانسوي، روسي او هسپانوي دي. افغانستان په ۱۹۷۵م کال د دغه سازمان غړیتوب ترلاسه کړی دی.

د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلووېشل شي او د خپل ښاغلي ښوونکي له لارښوونې سره سم دې د دوو موضوعګانو (د ګرځندوی د جذب یا راښکون سرچینې او نړیوال ګرځندوی سازمان) په هکله دې بحث وکړي او د خپل بحث پایله دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

پوښتنې:

- لاندینۍ پوښتنې که صحیح وي په (س) او که غلطې وي په (ن) توري په خپلو کتابچو کې په نښه کړئ:

۱. په اوړي کې د جنوبي اروپا او جنوب لویدیځې اروپا هیوادونه د مدیترانې د سمندرګې د تودو او لمر لرونکو غاړو په لرلو سره د زیات شمیر ګرځندویانو د پاملرنې وړ ګرځي ( )

۲. په ژمي کې اتریش او سویس د هغوکسانو لپاره چې د الپ په غرونو کې د لوبو د ترسره کولو لیوالتیا لري غوره ځای دی ( )

۳. طبیعي پارکونه د ګرځندویانو د پاملرنې یا جذب له تاریخي او کلتوري سرچینو څخه شمیرل کیږي ( )

۴. له دې امله چې افغانستان غوره کلتوري او طبیعي سرچینې نه لري، نو ځکه تر اوسه د نړۍ د زیات شمیر ګرځندویانو د پاملرنې وړ نه دی ګرځیدلی. ( )

۵. د ګرځندوی نړیوال سازمان د شپږو کمیسیونو له ډلې څخه درې یې په اسیا کې په کار بوخت دي ( )

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د افغانستان او نړۍ د ګرځندوی په هکله لوستونه ولولئ د هغو د متن، تصویرونو اونقشو څخه په کار اخیستنې سره لاندنیو پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

۱. د نړۍ خلک ولې په سیاحت (توریزم) باندې لاس پورې کوي؟

۲. په ترتیب سره د نړۍ د هغو پنځو هیوادونو نوم واخلئ چې د (توریزم) ګرځندوی څخه تر ټولو زیات عاید ترلاسه کوي.

۳. د نړۍ د ګرځندوی د نامتو او مشهورو سیمونومونه واخلئ.

۴. د ګرځندوی مثبت او منفي اړخونه کوم دي.

۵. د درې طبیعي او درې کلتوري سرچینونوم واخلئ چې په افغانستان کې به د ګرځندویانو د پاملرنې سبب شي.

دري پنځوسم لوست

۷، ۴ نړیوال حمل اونقل او دهغه اهمیت

۱۰۶- شکل   په هالنډ کې د روتردام لوی سمندري بندر

د حمل او نقل اصطلاح څه مفهوم لري؟

د خلکو انرژي،مالونو او معلوماتو لیږدولوته حمل او نقل وایي.

د دوو سیمو ترمنځ د معلومات لیږدولوته اړیکې Communication ویل کیږي. که چیرې یوازې د شیانو، مالونو او انرژۍ لیږدول په پام کې وي، نو دې ته ترانسپورت Transport ویل کیږي. هغه لیږدوونکي وسایط چې خلک نژدې ځایونوته ورې راوړي، په حقیقت کې د خلکو یا د وګړو لیږدوونکي نقلیه وسایل بلل کیږي.

ایا تاسې کله په خپل ژوند کې د مالونو دلیږدولو د ارزښت په هکله سوچ کړی دی؟

مخکې تر دې چې یو جنس ستاسو تر کور پورې ورسیږي، باید له ډیرو ځایونو څخه تر ډیرو ځایونو پورې ولیږدول شي. د بیلګې په توګه: که یو بوتل یا دغوړیو یو پیپ په پام کې ونیسو هغه توکي

چې بوتل او پيپ ورځخه جوړيږي او هغه بوټي چې غوړي ورځخه جوړيږي له بيلابيلو ځايونو ځخه راليږدول کيږي، کله چې بوتل يا پيپ ورته جوړشو، بيا غوړي جوړيږي، په کې اچول کيږي، هغه بيا پلورنځيو ته ليږدول کيږي او وروسته بيا بايد ستاسې کورته وليږدول شي، دا ټول د ليږدولو راليږدولوغوښتنه کوي. په دې توګه ويلای شو چې ليږدول راليږدول د بشري ټولنو د اړتياوو په پوره کولو کې لويه ونډه لري. د يادونې وړ ده چې حمل او نقل په ټولو هيوادونو کې دخلکو د ميشت کيدو پرځايونو، د فابريکو لپاره د ځايونو په غوره کولو، د مارکيټونو د ځای په ټاکلو، د شرکتونو، دفترونو، صنعتي مرکزونو او تاسيساتو د ځايو په غوره کولو کې ډيره اغيزه لري. د بيلګې په توګه د ترانسپورت د ډيرو زياتو لګښتونو د مخنيوي لپاره ځينې فابريکې د خامو توکو يا لومړنيو موادو ته نژدې ځايونو کې جوړيږي، خو ځينې نورې د پلورنې ځايونو او بازارونو ته نژدې جوړيږي.

حمل او نقل په اوسني وخت کې چې د نړۍ د بيلابيلو هيوادونو ترمنځ اړيکې ډيرې پراخه شوي دي. د پام وړ پراختيا موندلې ده. هغه (عوامل) چې نړيوال حمل او نقل ته يې وده ورکړې ده دادي:

- **د نفوسو زياتوالی**: زيات وګړي د ګڼ او زيات ترانسپورت غوښتنه کوي.
- په بشري ټولنو کې پرمختګونه او بدلونونه: د نړۍ په ګڼ شمير هيوادونو کې د خلکو غوښتنې ډيرې زياتې شوي او خلک د پخوا وختونو پرتله زياتې ورځنۍ کاري او تفريحي بوختياوې لري او له ترانسپورت ځخه استفاده کول زيات شوي دي.
- **داقتصاد وده**: د عايداتو زياتوالی ددې لامل شوی چې ترانسپورتي وسايل زيات شي. په پرمختللو هيوادونو کې زياتره خلک خپل شخصي موټر لري، همدارنګه د جنسونو ليږدول ـ راليږدول هم ډير شوي دي.
- **سيمه ييز ه پرمختيا**: په ځينو بشري پرمختللو ټولنو کې خلک د خپل کار له ساحې ځخه لرې ژوند کوي چې د هغوی تګ راتګ هم د ترانسپورت د پرمختيا لامل شوی دی.
- **د ترانسپورتي لارو او کرښو ښه کيدل**: ښې لارې ليږدول را ليږدول اسانه کوي، زياتره هيوادونو هڅه کړې چې لويو لارو او ترانسپورتي کرښو ته ښه پرمختيا ورکړي او په هغو کې ښه والی راولي چې داهم د حمل او نقل په زياتيدو کې اغيزه لري.

د يادونې وړ ده چې زيات ليږدول ـ راليږدول ستونزې هم ډيروي چې يو شمير دغه ستونزې په دې

توګه دي:

۱. د ژوند د چاپیریال ککړتیا: ټرانسپورټي وسایل په خپلو لوګیو، لوخړو او ګازونو لکه Nitrogen Dioxide دوړو او خاورو باندې هوا ککړوي او د ژوند چاپیریال بوین او له غږ زوږ ځخه ډکوي.

۲. د زیاتو وسایلو له امله ځینې وخت لارې بندې او د ټرانسپورټي وسایلو ګڼه ګوڼه ددې لامل کیږي چې خلک او مالونه په وخت اړینو ځایونو ته ونه رسیږي.

۳. نا امني: زیات لیږدول-رالیږدول تر اوسه هم د ترافیکي ناوړه پېښو لامل کیږي چې له دې امله یو شمیر خلک خپل ژوند له لاسه ورکوي.

٤. په ټرانسپورټي لارو او کرښو باندې ډیرې ښې حاصل ورکوونکې ځمکې نیول کیږي.

۱۰۷- شکل

د توکیو په ښار کې یوه د اوسپنې پټلۍ.

د ټولګي دننه فعالیت

دوه دوه زده کوونکي دې یوځای سره کار وکړي، یو دې لوست د متن، تصویرونو او خپلو شخصي معلوماتو څخه په ګټه اخیستو سره حمل او نقل معرفي کړي او په دې هکله دې مهم ټکي په یوه پاڼه کې ولیکي. دویم زده کوونکی دې د لیږدولو ـ رالیږدولو، د هغه د اسانتیاوو او هغو ستونزو په هکله چې د ترانسپورتي وسایلو له امله پیداشوي دي په یوه پاڼه کې لیکنه وکړي او خپل ښوونکي ته دې وښیي.

پوښتنې:

۱. کوم لاملونه د نړیوال حمل او نقل د پرمختیا لامل شوي دي، نوم یې واخلئ او توضیح یې کړئ.

۲. سره له دې چې لیږدول – رالیږدول زموږ په ژوند کې ډیر زیات اهمیت لري، خو کومې ستونزې یې رامنځته کړې؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

په خپلو کتابچو کې د څلور ستونو لرونکی یو جدول رسم کړئ:

۱. په لومړي ستون کې د هغو خوراکي توکو نومونه ولیکئ چې پرون مو خوړلي وو.

۲. په دویم ستون کې د هغه هیواد نوم ولیکئ چې احتمالاً نوموړي خوراکي توکي ورڅخه وارد شوي دي.

۳. په دریم ستون کې د اطلس یا نقشې په کتو سره هغه اټکلي واټن ولیکئ چې ستاسو له خوا لګول شوي خوراکي توکي له هغه ځایه رالیږدول شوي دي.

څلور پنځوسم لوست

الف ـ د حمل او نقل ډولونه

په سینګاپور کې د سمندري ټرانسپورت انځور

۱۰۸- شکل

تاسي څو ډوله ټرانسپورت پیژنئ او په خپله مو له کوم يو څخه کار اخيستى دى؟

حمل اونقل د هوا له لارې په الوتکى، د اوبو (سمندرونو، سمندرګيو او سيندونو) له لارې د بيړى او په وچه کې د موټړ او اورګاډو په وسيله ترسره کيږي. هر ډول ترانسپورتي وسايل او د هغو اړونده کرښې خپلې ځانګړتياوې لري. د حمل اونقل يو شمير وسايل کولاى شي هرڅه وليږدوي، يو شمير نور يوازې ديو څوځانګړو محصولاتو د ليږدولو لپاره غوره دي. د حمل اونقل د يو شمير وسايلو ګړنديتوب ډير لږ خو د يو شمير نورو زيات دى. د هر ډول ترانسپورتي وسايلو لپاره د يوې بيخبنا اړتيا ده چې هغه دادي: لويې لارې، پاخه سړکونه، د اوسپنې پټلى، هوايي ډګرونه. مصنوعي سپوږمى، سمندري بندونه، ترمينلونه. نل ليکې (پايپ لاينونه) اونور.

که چيرې يو شمير سيمې يا ښارونه د ترانسپورتي کرښو په واسطه سره ونښلول شي، يو ډول ترانسپورتي سيستم يا د حمل او نقل سيستم ورڅخه جوړيږي.

لاندینی جدول د حمل او نقل ډولونه او بیلابیل سیستمونه ښکاره کوي.

(۷) جدول: د حمل او نقل بیلابیل سیستمونه

ترانسپورتي شبکه	ترانسپورتي وسیله	هغه جنسونه چې لیږدوي يې
د بریښنا شبکه	الکترون	د بریښنا انرژي
د اورګاډي کرښې	اورګاډی (ریل)	مالونه او وګړي
(د سړکونو جال (شبکه	د سورلیو او باروړلو موټر	مالونه او وګړي
د اوبو لارې	ډول ډول بیړۍ	مالونه او وګړي
هوايي کرښې	الوتکې	مالونه او وګړي
بد رفت سیستم	بد رفت	ناولې اوبه (فاضلاب)
د اوبو د لیږدولو شبکه	د اوبو نل لیکه (پایپ لاین)	د څښلو پاکې اوبه
دګاز د لیږدولو شبکه	دګاز نل لیکه (پایپ لاین)	ګاز
د ټیلیفون شبکه	الکترون یا پروتون (الکترونیکي څپې، نوري او غږیزې څپې)	غږیز پیغامونه، لیکنې او انځوریز پیغامونه
مرکز ګرمي	د تودوخې د لیږدولو نل لیکې	تودوخه

ب . سیالي (رقابتونه)

د یوې ترانسپورتي وسیلې په غوره کولو کې بیلابیل لاملونه اغیزه لري لکه بیه، باروړل، تشول، واټن، د مالونو اندازه او درونوالی او نور.

په دې وروستیو وختونو کې د ترانسپورتي وسیلې په غوره کولو کې سیالي زیاته شوې او شرکتونه له ترانسپورت څخه زیاتې هیلې لري.

پخوا به د یوې وسیلې په غوره کولو کې د لیږدولو بیې ډېر ارزښت درلود، خو په اوسني وخت کې د یوې ترانسپورتي وسیلې په غوره کولو کې یو شمیر نور ټکي لکه ډاډمن لیږدول، لومړیتوب لري، خو بیاهم د لیږدولو بیه اوس هم د وسایلو په غوره کولو کې مهمه ده. د مالونو او جنسونو ډول هم د ترانسپورتي وسیلې د ډول په غوره کولو کې اغیزه لري. د بیلګې په توګه د یو شمیر محصولاتو د لیږدولوله پاره

چې باید د خرخلاو ځای ته په خپل وخت ورسول شي او د هغو د خرابید مخنیوی وشي د ګرځندي ترانسپورت غوره کول مهم دي. د قیمتي او ښکلو شیانو د لیږدولو لپاره د لیږدولو بیه لومړیتوب نه لري، خو په داومنه توګه یې ورل مهم دي. په دې توګه لیدل کیږي چې د ترانسپورت بیلابیل ډولونه یو له بل سره په سیالۍ کې دي او مشتریان دا غواړي چې خپلې بیلابیلې غوښتنې د ترانسپورتي وسیلې په غوره کولو سره ترلاسه او په پام کې ونیسي.

۱۰۹- شکل

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي، د لوست د متن، تصویرونو، او جدول په کتنې سره دې لاندینی دندې ترسره او دخپل کار پایله دې په ټولګي کې وړاندې کړي:

۱. هغه ترانسپورت چې د هوا له لارې ترسره کیږي په هغې کې د حمل او نقل کوم ډول وسایل او بیخبنایي اړتیا بلل کیږي، له بیلګو سره یې لست کړئ.

۲. هغه ترانسپورت چې د اوبو له لارې ترسره کیږي د حمل او نقل کوم ډول وسایل او کوم ډول بیخبنایي (زیربنایي) امکانات ورته اړین دي له بیلګې سره یې ولیکئ.

۳. هغه ترانسپورت چې په وچه ترسره کیږي د کومو نقلیه وسایلو او بیخبنایي امکاناتو لرونکی دي له بیلګو سره یې ولیکئ.

پوښتنې:

۱. څو ډوله ترانسپورتي سیستمونه پیژنئ، نوم یې واخلئ.

۲. ترانسپورت له کوم ډول سیالۍ سره مخامخ دی او کوم لاملونه د ترانسپورت په غوره کولو کې اغیزه لري؟ توضیح یې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت:

ستاسي نظر د حمل او نقل د بیلابیلو ډولونو او دهغو د ځانګړتیاوو لکه ګړندیتوب، بیه، وړتیا او نورو په هکله څه دی، په یوه پاڼه کې یې ولیکئ او خپل ښوونکي ته یې ښکاره کړئ.